د افغانستان اسلامی جمهوری دولت

دپوهنی وزارت

د استراتیژیک څارنی او ارزونی ریاست

د احصائیه او معلوماتو د تحلیل آمریت

**د امریکا متحده ایالاتو د پراختیا نړیواله اداره / د ظرفیت لوړولو فعالیت (CBA)**

# په پوهنې وزارت کې د لاسرسي، برابرۍ او کیفیت پر شاخصونو

# له تمرکز سره مل د معلوماتو د تحلیل

# ښووونیز لارښود

**لارښود**

چمتو کوونکی: د امریکا متحده ایالاتونو د نړیوالې پراختیا ادارې(**USAID**)/ د ظرفیت لوړوني فعالیت (**CBA**) برخه او د پوهني  د معلوماتي مدیریت سیستم(**EMIS**)


مسئولیت رفع کول:

ددی لارښود تهیه او ترتیب د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالی پراختیائی اداری په مرسته تر سره شو. او ددی راپور د محتوا مسئولیت د کیمونکس د دفتر په غاړه دی چه د امریکا د متحده ایالاتو د پراختیائی نړیوالی اداری او امریکا دولت پکښې کوم مسئولیت نلری.

**سریزه:** ........ 3
**زده کړه د ټولو لپاره، (EFA) شاخصونو تعریف، هدف او د محاسبې طریقې** ........ 9
د زریزې په پراختیایي موخو کې زده کړه د ټولو لپاره تعلیماتو بنسټیز شاخصونه ........ 9
1.1 **د ماشوماتوب لومړۍ دورې د ښوونې او روزنې په پروګرامونو کې د ناخالص شمولیت نسبت(GER)** ........ 10
1.2 **په لومړي ټولګي کې د هغو نویو شاملینو فیصدي چې وړاندې یې د ښوونځي نه مخکې زده کړو په یوه منظم پروګرام کې ګډون کړی وي** ........ 12
1.3 **د ښوونځي نه مخکې زده کړې پروګرامونو کې د مجموعي ګډون د فیصدۍ په توګه په خصوصي مرکزونو کې شمولیت** ........ 13
1.4 **د ښوونځي نه مخکې زده کړو پروګرامونو کې د روزل شویو ښوونکو فیصدي** ........ 14
**۲ هدف: لومړنیو عمومي (ابتدائیه) زده کړو ته لاسرسی** ........ 15
زده کړه د ټولو لپاره (EFA) بنسټیز شاخصونه – د زریزې پراختیایي موړخې ........ 15
2.1 **په لومړنیو زده کړو کې د جذب ناخالصه کچه** (GIR) ........ 17
2.2 **په لومړنیو زده کړو کې د جذب خالصه کچه**(NIR) ........ 19
2.3 **د شمولیت ناخالص نسبت** (GER) ........ 20
2.4 **د شمولیت خالصه کچه** (NER) ........ 23
2.5 **په ابتدائیه دوره کې د ټولګي له مخې د تکرار کچه** (RR) ........ 25
2.6 **تر شپږم ټولګي پورې د پاتې کېدو نسبت** ........ 26
2.7 **متوسطې دورې ته د انتقال کچه** (TR) ........ 28
2.8 **په ابتدائیه دوره کې د روزل شویو ښوونکو فیصدي** ........ 29
2.9 **په ابتدائیه دوره کې د زده کوونکو – ښوونکو نسبت** ........ 29
2.10 **د پوهنې سکتور په برخه کې د ټولو لګښتونو د یوې فیصدۍ په توګه پر ابتدائیه دورې شوي لګښتونه** ........ 29
**۳- عمومي هدف: د ژوند مهارتونه او ټول عمري زده کړې** ........ 33
د زریزې په پراختیایي موخو کې زده کړه د ټولو لپاره بنسټیز شاخصونه ........ 34
**۴ عمومي هدف: سواد زده کړه** ........ 37
4.1 **د لویانو( له ۱۵ کالو پورته) د ښوونیز سواد کچه** ........ 38
4.2 **د ځوانانو د سواد کچه (له ۱۵ تر ۲۴ کلنو)** ........ 41
4.3 **د لویانو د سواد لپاره د جنسیت برابرۍ شاخص** ........ 42
**۵ عمومي هدف: د جنډر برابري او مساوات** ........ 47
زده کړه د ټولو لپاره بنسټیز شاخصونه – د زریزې پراختیایي موخې ........ 48
5.1 **د لویانو د سواد لپاره د جنډر برابرۍ شاخص** ........ 49
5.9 **د ښځو د شمولیت فیصدي** ........ 57
**۶ ښوونیز پروګرام: (۶- عمومي هدف)** ........ 61
**۶ - عمومي هدف: لوړ کیفیت لرونکې زده کړې** ........ 65
زده کړه د ټولو لپاره بنسټیز شاخصونه – د زریزې پراختیایي موخې ........ 66
6.1 **تر شپږم ټولګي د پاتې کېدو کچه** ........ 68
6.2 **د لومړنیو زده کړو د هغو ښوونکو فیصدي چې لازمې علمي ځانګړتیاوې ولري** ........ 68
6.3 **د هغو ښوونکو فیصدي چې د ملي معیارونو له مخې په لاندې ښوونیزو دورو کې د تدریس په شرایطو پوره دي:** ........ 69
6.4 **د زده کوونکو نسبت – ښوونکو ته** ........ 71
6.5 **د زده کوونکو – ټولګي نسبت** ........ 72
6.6 **د زده کوونکو – درسي کتابونو نسبت:** ........ 74
6.7 **د حکومت د عامه لګښتونو د فیصدۍ په توګه پر ښوونې روزنې شوي عامه لګښتونه** ........ 75
6.8 **د ملي ناخالص تولید د فیصدۍ په توګه**(GNP) **د پوهنې پر سکتور عامه پانګونه** ........ 76
6.9 **د ملي ناخالص تولید د سرانه فیصدۍ په توګه د هر زده کوونکي عامه لګښتونه (لومړنۍ، منځنۍ او لیسې دورې زده کړې)** ........ 78

## سریزه:

د امریکا متحده ایالتونو د نړیوالي پراختیایي اداري(USAID) د ظرفیت لوړوني فعالیت(CBA) د پوهنې وزارت د سیسټمونو او کړنلارو د ودې په موخه جوړ شوی ترڅو په ملي او محلي سیسټمونو کې د لوړ کیفیت ښوونیزخدمتونه، شفافیت او لا ډېرې حساب ورکوني سبب شي. له دې امله چې د ښوونیزو معلوماتو مدیریت په سیسټم(**EMIS**) کې د ښه والي راتګ د ظرفیت لوړوني فعالیت یوه مهمه برخه ده، د امریکا متحده ایالتونو د نړیوالي پراختیا اداري له پوهنې وزارت سره په ګډه پرېکړه وکړه چې د پلي کولو له پړاو وړاندې د لومړي ګام په توګه، د پوهنې د معلوماتي مدیریت سیستم(**EMIS**) په اړه یوه مفصله ارزونه وشي. له همدې امله، د ظرفیت لوړوني فعالیت **CBA** او **EMIS** یوه ګډه ټیم دغه ارزونه پیل کړه.

د ښووني روزنې د معلوماتو له راټولولو څخه موخه داده چې د ښووني روزنې مدیرانو له خوا د شویو پرېکړو ملاتړ وکړي. دغه ملاتړ یوازې هغه مهال شونی دی چې د ښووني روزني راټول شوي معلومات په اغېزناکه بڼه تحلیل شي. له دې سربېره، د ښووني روزنې مدیران باید له هغو معلوماتو ګټه واخستلای شي چې د **EMIS** له خوا نشر شوي دي.

په دې لړ کې لیدل شوي چې د **EMIS** او د پروګرام د کارکوونکو د تحلیل ظرفیت ډېر کمزوی دی او پیاوړتیا ته اړتیا لري او همدارنګه د **EMIS** له معلوماتو څخه د پوهاوي نشتوالي او د دغو معلوماتو د کاروني د څرنګوالي په اړه د ښووني روزنې د مدیرانو د ټیټ ظرفیت له امله لږ ګټه اخستل شوې ده.

په هر حال، ددې پروژې په پیل کې پرېکړه وشوه چې په ملي، ولایتي او ولسوالیو کچه د پوهنې وزارت د کارکوونکو لپاره د ظرفیت لوړوني پروګرامونه جوړ شي ترڅو د معلوماتو د تحلیل په اړه خپل امکانات لوړ کړي.

دغه ښوونیز مواد د **EMIS** د معلوماتو د تحلیل پرمخ له ځانګړي تمرکز سره چمتو شوي او خاصتاً د لاسرسي، برابرۍ او کیفیت پر هغو شاخصونو تمرکز لري چې د نړۍ په کچه پېژندل شوي او د یونسکو د احصائیوي انستیتوت له خوا چمتو شوي دي.

په دې ښوونیز لارښود کې، عمومي اهداف، فرعي اهداف او تمه کېدونکي پایلې د ظرفیت لوړوني لپاره د هغو مختلفو فعالیتونو له پلوه چې ټاکل شوې د معلوماتو په تحلیل کې د ظرفیتي تشو ډکولو لپاره ترسره شي، په روښانه بڼه بیان شوي. د دغو ښوونیزو موادو چمتو کول د پروژې د هغو موخو ترلاسه کونه چې د **EMIS** د یوه پرمختللي سیسټم له لارې ښوونیزو خدمتونو وړاندې کونه ده، د پوهنې وزارت د کارکوونکو د ظرفیتونو د سطحې لوړولو باندې پای ته رسیږي.

د دې ښوونیز پروګرام موخه دا ده چې د ښووني او روزنې د معلوماتو تحلیل ته وده ورکړي ترڅو د پوهنې مدیرانو له پرېکړه کولو سره مرسته وکړي.

## ۳- ښوونيز پروګرام:

**[۱- عمومي هدف: (د ماشوماتو د لومړني دورې د ښوونې او روزنې شاخصونه) او ۲- عمومي هدف (لومړنۍ عمومي زده کړې)] د لاسرسي او ګډون شاخصونه څه ډول محاسبه کړو؟**

**د ښوونيزې موخې:**

د ښوونيز پروګرام د دې برخې په پای کې به ګډون کوونکي وکولای شي چې د لاسرسي او ګډون د شاخصونو په کارولو سره د ښوونې روزنې د راټولو شويو معلوماتو تحليل په خپلواکه توګه ترسره کړي. هغوی بايد په دې موضوع د ځان پوهونه د هر ډول معلوماتو د تحليل په مثال وړاندې کولو سره ثابته کړي.

**ګډونوال به له دې برخې څه زده کړي؟**

- ګډون کوونکی به د EMIS د معلوماتو څخه په ګټه اخيستنه سره د لاسرسی او ګډون شاخصونه سنجش او دهغې څخه به په سمه توګه استفاده وکړي.
- ګډون کوونکي به د ښوونځي نه مخکې زده کړيد محاسبې تعريف، موخې او لارې زده کړي.
- ګډون کوونکي به زده کړي چې د لاسرسي او ګډون د شاخصونو د محاسبې لپاره کوم ډول معلوماتو ته اړتيا ده.
- ګډون کوونکي به وکولای شي چې د لاسرسي او ګډون د شاخصونو ترمنځ توپير وکړي.
- ګډون کوونکي به وکولای شي چې د لاسرسي او ګډون شاخصونه د EMIS معلوماتو په کارونې سره زده، په کره توګه يې محاسبه او ترې سمه ګټه پورته کړي.

**فعاليتونه:**

۱ـ فعاليت: ( د شاخصونو تعريف، هدف او د محاسبې لارې او زده کړه د ټولو لپاره ۱- عمومي هدف چې پکښې د ماشومتوب د لومړۍ دورې زده کړې او روزنه شامل دي، ګډون کوونکي ته وړاندې کوي): په پيل کې به، ګډون کوونکي د ماشتوب د لومړۍ دورې د زده کړو او روزنې له تعريف او هدف سره چې په کې زده کړې د ټولو لپاره شاخص ۱ - عمومي هدف دی، آشنايي پيدا کړي.

د دغو شاخصونو د محاسبې لپاره د اړتيا وړ معلوماتو ډولونه به د روزونکي له خوا د پاورپاينټ په يوه پريزنټېشن کې وښودل شي. ګډون کوونکي به د هرې موضوع اړوند بحث کې ونډه واخلي او وبه شي کولای شي چې د روزونکي پوښتني ځواب کړي ترڅو په موضوع ښه پوهېدل بيان کړي. ګډون کوونکي به له روزونکي څخه د خپلو پوښتنو کولو ته وهڅول شي ترڅو د دوی د پوهاوي کچې له لوړېدو سره مرسته وشي.

**۲ـ فعاليت:(د ښوونځي نه مخکې زده کړو مختلف شاخصونه ګډون کوونکو ته وروپېژندل کيږي):**
ګډون کوونکي د روزونکي له خوا د يوه پاورپاينټ پريزنټېشن له لارې د ښوونځي نه مخکې زده کړيله بېلابېلو شاخصونو او د هغوی د محاسبې له لارو سره بلديږي.

1. د ښوونځي نه مخکې زده کړيپه پروګرامونو کې د ناخالص شموليت نسبت
2. د هغو زده کوونکو فيصدي چې اوس په لومړي ټولګي کې شامليږي او له وړاندې څخه يې د ښوونځي نه مخکې زده کړيد منظمو پروګرامونو په يوه ډول کې ګډون کړی وي.
3. په خصوصي مرکزونو کې د ښوونځي نه مخکې زده کړيپروګرامونو دعمومی شموليت د يوې برخې په توګه ګډون کول.
4. د هغو ښوونکو فيصدي چې د ښوونځي نه مخکې زده کړيپروګرامونو روزنه يې ترلاسه کړې.

ګډون کوونکي به د هرې موضوع اړوند بحث کې ونډه واخلي او باید وکولای شي چې د روزونکي پوښتنې ځواب کړي ترڅو په موضوع د ځان پوهونه ثابته کړي. ګډون کوونکي به له روزونکي څخه د خپلو پوښتنو کولو ته وهڅول شي ترڅو د دوی د پوهاوي کچې له لوړېدو سره مرسته وشي.

**۳- فعالیت: (ګروپي کار: ګډون کوونکي به د ښوونځي نه مخکې زده کړې شاخصونو د محاسبې لپاره** د اړتیا وړ معلوماتو پېژندلو په موخه ګروپي کار ترسره کړي، دغه فعالیت به د روزونکي له خوا رهبری شي): ګډون کوونکي به د دغو شاخصونو د محاسبې لپاره د اړتیا وړ مختلفو معلوماتو پر سرچینو کار وکړي او خپلې تجربې به شریکې کړي.

**۴- فعالیت: (کوچنۍ ازموینه: ګډون کوونکي به د دښوونځی نه مخکې زده کړو شاخصونو د هدف او کارونې په اړه یوه کوچنۍ ازموینه ورکړي):** ګډونوالو ته به د د ښوونځي نه مخکې زده کړو د شاخصونه یو لیست ورکړل شي او ترې به وغوښتل شي چې د هغر شاخص د اغېزناکي کارونې په اړه خپلو معلومات بیان کړي.

**۵ - فعالیت: (د لومړنیو عمومي زده کړو د شاخصونو او ۲- عمومي هدف تعریف، موخه او د محاسبې لارې چې په کې د لاسرسي او ګډون یو شمېر نور شاخصونه هم شامل دي، ګډون کوونکو ته ور پېژندل کیږي)**: په پیل کې، ګدون کوونکي د لومړنیو عمومي زده کړو د شاخصونه له تعریف، موخې او د محاسبې له لارو سره چې په کې زده کړې د ټولو لپاره ۲- عمومي هدف شاخصونه او د زریزې پراختیایي اهداف شامل دي آشنا کیږي او هم د دغو شخصونو د محاسبې لپاره د اړتیا وړ معلومات د پاورپاینټ د یوه پرېزنټېشن په وسیله د روزونکي له خوا وړاندې کیږي.

ګډون کوونکي به د هرې موضوع اړوند بحثونو کې ونډه واخلي او باید وکولای شي چې د روزونکي پوښتنو ته ځواب ووایي ترڅو د موضوعاتو په اړه خپله پوهه ثابته کړي. ګډون کوونکي هڅول کیږي چې له روزونکي سره بحث وکړي ترڅو د موضوع په تړاو د خپلو معلوماتو او درک کچې له لوړېدو سره مرسته وکړي.

**۶- فعالیت: (د لاسرسي او ګډون ځینې نور شاخصونه ګډون کوونکو ته معرفي کیږي):** د لاسرسي او ګډون ځینې نور شخاصونه او د دغو شاخصونو د محاسبې لارې به د روزونکي له خوا د پاورپاینټ د یوه پرېزنټېشن له لارې ګډون کوونکو ته وښودل شي.

- په لومړنیو زده کړو کې د جذب ناخالصه کچه (GIR)
- په لومړنیو زده کړو کې د جذب خالصه کچه (NIR)
- په لاندې برخو کې د (GER) د شمولیت عمومي اندازه:
  - a. لومړنی زده کړې
  - b. منځنی زده کړې
  - c. ثانوی زده کړی
- په لاندې برخو کې د (NER) شمولیت خالصه اندازه:
  - a. لومړی زده کړې
  - b. منځنی زده کړې
  - c. ثانوی زده کړې
- په لومړنیو زده کړو کې د ټولګي پر بنسټ د تکرار کچه

ګډون کوونکي به د هرې موضوع اړوند بحثونو کې ونډه واخلي او باید وکولای شي چې د روزونکي پوښتنو ته ځواب ووایي ترڅو د موضوعاتو په اړه خپله پوهه ثابته کړي. ګډون کوونکي هڅول کیږي چې له روزونکي سره بحث وکړي ترڅو د موضوع په تړاو د خپلو معلوماتو او درک کچې له لوړېدو سره مرسته وکړي.

**۷- فعالیت: (ګروپي کار: ګډون کوونکي به یادو شاخصونو د محاسبې لپاره د اړتیا وړ معلوماتو پېژندلو په موخه ګروپي کار ترسره کړي، دغه فعالیت به د روزونکي له خوا رهبری شي):** ګډون کوونکي به د دغو شاخصونو د محاسبې لپاره د اړتیا وړ مختلفو معلوماتو پر سرچینو کار وکړي او خپلې تجربې به شریکې کړي.

**۸- فعالیت: (کوچنۍ ازموینه: ګډون کوونکي به د لاسرسي او ګډون شاخصونو د هدف او کاروني په اړه یوه کوچنۍ ازموینه ورکړي):** ګډونوالو ته به یادو شاخصونه یو لیست ورکړل شي او ترې و به غوښتل شي چې د هر شاخص د اغېزناکې کاروني په اړه خپلو معلومات بیان کړي.

**۹- فعالیت: (زده کړه د ټولو لپاره، شاخصونو تعریف، هدف او د محاسبې لارې او ۲- عمومي هدف چې په کې د لاسرسي او ګډون یو شمېر نور شاخصونه هم شامل دي، ګډون کوونکو ته ور پېژندل کیږي):** په پیل کې، ګدون کوونکي د لومړنیو عمومي زده کړو د شاخصونه له تعریف، موخې او د محاسبې له لارو سره چې په کې زده کړې د ټولو لپاره، ۲- عمومي هدف شاخصونه او د زریزې پراختیایي اهداف شامل دي آشنا کیږي او هم د دغو شخصونو د محاسبې لپاره د اړتیا وړ معلومات د پاورپاینټ د یوه پرېزنټېشن په وسیله د روزونکي له خوا وړاندې کیږي.

ګډون کوونکي به د هرې موضوع اړوند بحثونو کې ونډه واخلي او باید وکولای شي چې د روزونکي پوښتنو ته ځواب ووایي ترڅو د موضوعاتو په اړه خپله پوهه ثابته کړي. ګډون کوونکي هڅول کیږي چې له روزونکي سره بحث وکړي ترڅو د موضوع په تړاو د خپلو معلوماتو او درک کچې له لوړېدو سره مرسته وکړي.

**۱۰- فعالیت: (د لاسرسي او ګډون ځینې نور شاخصونه ګډون کوونکو ته معرفي کیږي):** د لاسرسي او ګډون ځینې نور شاخصونه او د دغو شاخصونو د محاسبې لارې به د روزونکي له خوا د پاورپاینټ د یوه پرېزنټېشن له لارې ګډون کوونکو ته وښودل شي.

- په ۶ ټولګي کې د پاتې کېدو کچه
- منځنیو زده کړو ته د انتقال کچه
- ثانوی زده کړو ته د انتقال کچه
- د لومړنیو زده کړو د روزل شویو ښوونکو فیصدي
- په لومړنیو زده کړو کې، د ښوونکي – زده کوونکي نسبت
- په لومړنیو زده کړو د لګښت فیصدی د پوهنې په سکتور باندی د مجموعی لګښت څخه

ګډون کوونکي به د هرې موضوع اړوند بحثونو کې ونډه واخلي او باید وکولای شي چې د روزونکي پوښتنو ته ځواب ووایي ترڅو د موضوعاتو په اړه خپله پوهه ثابته کړي. ګډون کوونکي هڅول کیږي چې له روزونکي سره بحث وکړي ترڅو د موضوع په تړاو د خپلو معلوماتو او درک کچې له لوړېدو سره مرسته وکړي.

**۱۱- فعالیت: (ګروپي کار: ګډون کوونکي به یادو شاخصونو د محاسبې لپاره د اړتیا وړ معلوماتو پېژندلو په موخه ګروپي کار ترسره کړي، دغه فعالیت به د روزونکي له خوا رهبری شي):** ګډون کوونکي به د دغو شاخصونو د محاسبې لپاره د اړتیا وړ مختلفو معلوماتو پر سرچینو کار وکړي او خپلې تجربې به شریکې کړي.

**۱۲- فعالیت: (کوچنۍ ازموینه او بحث: ګډون کوونکي به لاسرسي او ګډون شاخصونو د هدف او کاروني په اړه یوه کوچنۍ ازموینه ورکړي):** ګډونوالو ته به یادو شاخصونه یو لیست ورکړل شي او ترې به وغوښتل شي چې د هغو شاخص د اغېزناکې کاروني په اړه خپلو معلومات بیان کړي.

دغې ناستې ته ټول ځانګړی شوی وخت: ۲۴ ساعته (درې ورځې) دی

**د ښوونيز پروګرام (ټرېننګ) اجنډا**

| وخت | فعالیت | د اړتیا وړ منابع |
|---|---|---|
| | **دويم ښوونيز پروګرام: د لاسرسي او ګډون د شاخصونو محاسبه** | |
| | **لومړی ورځ** | |
| ۱ ساعت او ۱۵ دقيقې | د ښوونځی نه د مخکې زده کړو شاخصونو د تعريف، هدف او مفاهيمو په اړه د روزونکي له خوا لکچر او د مشارکتي پرېزنټېشن وړاندې کول. | – پروجکټور<br>– پاورپاينټ پرېزنټېشن |
| | **د چايو دمه، ۱۵ دقيقې** | |
| ۱ ساعت او ۱۵ دقيقې | د د ښوونځي نه مخکې زده کړو شاخصونه د يوه پرېزنټېشن په چوکاټ کې د روزونکي له خوا ګډون والو ته ښودل کيږي. | – پروجکټور<br>– فليپ چارت<br>– قلم او کتابچه |
| | **د غرمنۍ او لمانځه دمه (۱۲:۰۰ تر ۰۱:۰۰ پورې)** | |
| ۱ ساعت او ۳۰ دقيقې | ګډون کوونکي به د دغو شاخصونو د محاسبې لپاره د اړتيا وړ معلوماتو پر مختلفو سرچينو کار وکړي او خپلې تجربې به سره شريکې کړي. دغه فعاليت د روزونکي له خوا رهبری کيږي. | – پروجکټور<br>– پاورپاينټ پرېزنټېشن |
| ۱ ساعت او ۳۰ دقيقې | کوچنۍ ازموينه: ګډونوالو ته د د ښوونځي نه مخکی زده کړوشاخصونو لېست ورکول کيږي او ترې غوښتل کيږي چې د هر شاخص د ګټورې کاروني په اړه خپل معلومات بيان کړي. | – پروجکټور<br>– فليپ چارت<br>– قلم او کتابچه |
| | **دويمه ورځ** | |
| ۱ ساعت او ۱۵ دقيقې | د لومړنيو عمومي زده کړو او ۲- عمومي هدف د تعريف، موخې او محاسبې لارو په اړه چې په کې د لاسرسي او ګډون يو شمېر نور شاخصونه هم شامل دي، د روزونکي له خوا لکچر او د مشارکتي پرېزنټېشن وړاندې کول. | – پروجکټور<br>– پاورپاينټ پرېزنټېشن |
| | **د چايو دمه، ۱۵ دقيقې** | |
| ۱ ساعت او ۱۵ دقيقې | د لاسرسي او ګډون ځيني نور شخاصونه او د دغو شاخصونو د محاسبې لارې به د روزونکي له خوا د پاورپاينټ د يوه پرېزنټېشن له لارې ګډون کوونکو ته وښودل شي.<br>• په لومړنيو زده کړو کې د جذب ناخالصه کچه (GIR)<br>• په لومړنيو زده کړو کې د جذب خالصه کچه (NIR)<br>• په لاندې برخو کې (GER) د شموليت عمومي اندازه:<br>a. لومړنی زده کړې<br>b. منځنی زده کړې<br>c. ثانوی زده کړې<br>• په لاندې برخو کې (NER) د شموليت خالصه اندازه:<br>a. لومړی زده کړې | – پروجکټور<br>– فليپ چارت<br>– قلم او کتابچه |

| | | |
|---|---|---|
| | b. منځنی زده کړې<br>c. ثانوي زده کړې<br>• په لومړنیو زده کړو کې د ټولګي پر بنسټ د تکرار کچه<br>ګډون کوونکي به د هرې موضوع اړوند بحثونو کې ونډه واخلي او باید وکولای شي چې د روزونکي پوښتنو ته ځواب ووایي ترڅو د موضوعاتو په اړه خپله پوهه ثابته کړي. ګډون کوونکي هڅول کیږي چې له روزونکي سره بحث وکړي ترڅو د موضوع په تړاو د خپلو معلوماتو او درک کچې له لوړېدو سره مرسته وکړي. | |
| **د غرمنۍ او لمانځه دمه (۱۲:۰۰ تر ۰۱:۰۰ پورې)** | | |
| ۱ ساعت او ۳۰ دقیقې | ګډون کوونکي به د دغو شاخصونو د محاسبې لپاره د اړتیا وړ معلوماتو پر مختلفو سرچینو کار وکړي او خپلې تجربې به سره شریکې کړي. دغه فعالیت د روزونکي له خوا رهبري کیږي. | – پروجکټور<br>– پاورپاینټ پرېزنټېشن |
| ۱ ساعت او ۳۰ دقیقې | کوچنۍ ازموینه: ګډونوال به لاسرسي او ګډون د موخې او کاروني په اړه یوه کوچنۍ ازموینه ورکړي. | – پروجکټور<br>– فلیپ چارټ<br>– قلم او کتابچه |
| **دریمه ورځ** | | |
| ۱ ساعت او ۱۵ دقیقې | د روزونکي له خوا لکچر او مشارکتي پرېزنټېشن:<br>لومړی، ګډون کوونکي د لومړنیو عمومي زده کړو او ۲- هدف د تعریف، موخې او لاسرسي په اړه چې په کې د زده کړه د ټولو لپاره او زریزې پراختیایي موخو شاخصونه هم شامل دي، د اړتیا وړ معلوماتو د محاسبې په اړه معلومات ترلاسه کړي.<br>ورپسې، ګډون کوونکي به د هرې موضوع اړوند بحثونو کې ونډه واخلي او باید وکولای شي چې د روزونکي پوښتنو ته ځواب ووایي ترڅو د موضوعاتو په اړه خپله پوهه ثابته کړي. ګډون کوونکي هڅول کیږي چې له روزونکي سره بحث وکړي ترڅو د موضوع په تړاو د خپلو معلوماتو او درک کچې له لوړېدو سره مرسته وکړي. | – پروجکټور<br>– فلیپ چارټ<br>قلم او کتابچه |
| **د چایو دمه، ۱۵ دقیقې** | | |
| ۱ ساعت او ۱۵ دقیقې | د لاسرسي او ګډون ځیني نور شخاصونه او د دغو شاخصونو د محاسبې لارې به د روزونکي له خوا د پاورپاینټ د یوه پرېزنټېشن له لارې ګډون کوونکو ته وښودل شي.<br>• په ۶ ټولګي کې د پاتې کېدو کچه<br>• منځنیو زده کړو ته د انتقال کچه<br>• په لومړنیو زده کړو کښې د روزل شویو ښوونکو فیصدي<br>• په لومړنیو زده کړو کې د ښوونکي – زده کوونکي نسبت<br>• د پوهنې د ټولو عامه لګښتونو د مجموعي د فیصدۍ په توګه پر لومړنیو زده کړو شوي عام لګښتونه | |
| **د غرمنۍ او لمانځه دمه (۱۲:۰۰ تر ۰۱:۰۰ پورې)** | | |
| ۱ ساعت او ۳۰ دقیقې | ګډون کوونکي به د دغو شاخصونو د محاسبې لپاره د اړتیا وړ معلوماتو پر مختلفو سرچینو کار وکړي او خپلې تجربې به سره شریکې کړي. دغه فعالیت د روزونکي له خوا رهبري کیږي. | |
| ۱ ساعت او ۳۰ دقیقې | کوچنۍ ازموینه او بحث: ګډونوال به لاسرسي او ګډون د موخې او کاروني په اړه یوه کوچنۍ ازموینه ورکړي. | |

## زده کړه د ټولو لپاره، (EFA) شاخصونو تعریف، هدف او د محاسبې طریقې

**١ عمومي هدف: د ښووونځی نه مخکې زده کړې**

**د ماشومتوب په لومړۍ دوره کې د هر اړخیزې ښوونې او روزنې پراختیا او پرمختګ، په ځانګړې توګه تر ټولو زیاتو زیانمنو او محرومو ماشومانو لپاره.**

د ماشومانو د لومړۍ دورې ښوونه او روزنه د تلپاتې زده کړې لپاره ډېر اهمیت لري او د راتلونکو زده کړو بنسټ جوړوي. وړاندې له دې چې ښوونځی پیل شي، په کورنۍ کې واکمن عادتونه او لارې په ښوونځي کې د ماشومانو پر راتلونکو کړنو اغېز کوی. د مناسبو خوړو، واکسین، د A ویټامینو پوره کولو او آیوډین لرونکي مالګې ته د لاسرسي په ښوونځي د ماشومانو پر راتلونکو فعالیتونو همااغه شان مخامخ اغېز لري لکه څرنګه چې لومړنۍ زده کړې او په لومړي ټولګي کې له شمولیت وړاندې انګیزشي تجربې. په داسې حال کې چې د دښوونځی نه مخکې زده کړې پخوانیو شاخصونو له ښوونځي وړاندې رسمي زده کړو باندې تمرکز درلود، زده کړه د ټولو لپاره زرېزې په پراختیایي موخو کې، عمومي هدف پراختیا موندلې ترڅو د ماشومتوب لومړۍ دروې داخل سکټوري طبیعت او د ماشومانو په وده او ښوونیز بریالیتوب کې د غیر تعلیمي عواملو اهمیت په ډاګه شي.

**د زریزې په پراختیایي موخو کې زده کړه د ټولو لپاره تعلیماتو بنسټیز شاخصونه**

| 1 | د زریزې په پراختیایي موخو کې زده کړه د ټولو لپاره تعلیماتو بسټیز شاخصونه | د معلوماتو واندیز شوې ډلبندی (که چېرې معلومات موجود وي) | د معلوماتو سرچینه |
|---|---|---|---|
| 1.1 | د ماشومتوب لومړی دورې په ښوونیزو او روزنیزو پروګرامونو کې ناخالصه نوملیکنه یا شمولیت | • جنسیت<br>• جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• له ښوونځي وړاندې/محلي زده کړې<br>• نورې ټولنیزې او اقتصادي ډلبندی، لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلولیت<br>○ مورنی زده کړې<br>○ عایدات | • د ښوونځي کلنی شمېرې یا احصائیه<br>• خېلخانه یي سروې |
| 1.2 | په لومړي ټولګي کې د هغو نویو شاملو شویو فیصدي چې له دې وړاندې یې دښوونځی نه مخکی زده کړو کې د منظمو پروګرامونو په یوه ډول کې ګډون کړی وي | • جنسیت<br>• جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• له ښوونځي وړاندې/محلي زده کړې<br>• نورې ټولنیزې او اقتصادي ډلبندی، لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلولیت<br>○ مورنی زده کړې<br>○ عایدات | • د ښوونځي کلنی شمېرې یا احصائیه<br>• خېلخانه یي سروې |
| 1.3 | دښوونځی نه مخکی زده کړو په پروګرامونو کې د شمولیت مجموعي د فیصدی په توګه په خصوصي مرکزونو کې شمولیت | • جنسیت<br>• جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي | • د ښوونځي کلنی شمېرې یا احصائیه<br>• خېلخانه یي سروې |
| 1.4 | دښوونځی نه مخکی زده کړو په پروګرامونو کې د روزل شویو ښوونکو فیصدي | • جنسیت<br>• جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• عامه/خصوصي | • د ښوونځي کلنی شمېرې یا احصائیه<br>• خېلخانه یي سروې |

1.1 **د ماشوماتوب لومړی دورې د ښووني او روزني په پروګرامونو کې د ناخالص شمولیت نسبت(GER)**

**تعریف او هدف**

عمر ته له کتو پرته د ماشومتوب لومړنی دورې د ښووني او روزني په پروګرامونو کې د شاملو شویو ماشومانو مجموعه، په اړوند او رسمي عمري کټګورۍ کې د نفوسو د فیصدی په توګه او یا هم له ۳ تر ۵ کلنو عمري کټګورۍ څرګنده شوی. دغه شاخص د ماشومتوب

د لومړنۍ دورې د ښوونې او روزنې په پروګرامونو کې د ماشومانو د ګډون عمومي سطحه سنجوي. همدارنګه د لومړنیو زده کړو لپاره د ماشومانو چمتو کولو ته د یوه هېواد ظرفیت هم بیانوي. باید په یاد ولرو چې دغه شاخص د عامه، خصوصي، مدرسی (یا جوماتونو) او نورو غیر رسمي محلي او ټولنیزو زده کړو په ګډون هر ډول زده کړې په پام کې نیسي.

**د محاسبې لار او د اړتیا وړ معلومات**

د عمر په پام کې نیولو پرته د ماشومتوب دورې په ښوونې او روزنې پروګرامونو (ECCE) کې د شاملو ماشومانو شمېر، په اړوند او رسمي عمري ګروپ (یا له ۳ تر ۵ کالو عمري ډلې پر بنسټ) د یوه ښوونیز کال په اوږدو کې ورکړل شوي، پر ټول جمعیت وېشل کیږي او بیا په سلو کې ضرب کیږي.

$$GER^{t}_{EC} = \frac{E^{t}_{EC}}{P^{t}_{EC}} \times 100 \quad \text{or} \quad GER^{t}_{EC} = \frac{E^{t}_{EC}}{P^{t}_{3-5}} \times 100$$

Where,

$GER^{t}_{EC}$ = Gross enrolment ratio in early childhood development programmes in school-year t

$E^{t}_{EC}$ = Number of children enrolled in early childhood development programmes in school-year t

$P^{t}_{EC}$ = Population in relevant official age-group concerned with ECCE in school-year t

**د معلوماتو احتمالي سرچینې**

د شمولیت په معلوماتو کې باید عامه او خصوصي بنسټونه او پروګرامونه شامل وي. د عامه پروګرامونو لپاره معلومات باید د ښوونځي د سروې له مخې موجود وي. د خېلخانې سروېګانې یا د هغو پروګرامونو لپاره د اړینو معلوماتو نور خصوصي ریکارډونه چې د نادولتي ټولنو یا موسسو او خصوصي ښوونځیو له خوا پرمخ وړل کیږي، کېدای شی اړین معلومات چمتو کړي. په ځینو برخو کې، ښايي یو شمېر هېوادونه د عامه او خصوصي پروګرامونو معلومات سره مدغم کړي. د جمعیت په اړه معلومات کولای شو د احصائیې د ملي اداري له شمېرو او وړاندوېینو څخه واخلو.

**د معلوماتو ډلبندي**

په هغه صورت کې چې معلومات شته وي، دښوونځی نه مخکی زده کړی پروګرامونو کې د شمولیت ناخالصه کچه د جنسیت، سیمې، ښار/ کلي، ټولنیزو او قومي ډلو، ژبنیو ډلو، معلولینو او زیانمنو ډلو پر بنسټ وېشلای شو.

**د معلوماتو تشریح**

د ښوونځی نه مخکی زده کړی په پروګرامونو کې د شمولیت لوړه ناخالصه کچه په هېواد د ننه د دغه شان پروګرامونو لپاره د کافي ظرفیت ښکارندویي کوي. کله چې د ناخالص شمولیت کچې ۱۰۰ سلنو ته نیږدې شي یا دهغه څخه لوړه شي، د دې څرګندونه کوي چې دغه هېواد کولای شي د رسمي عمري ګروپ ټولو ماشومانو ته د دښوونځی نه مخکی زده کړی په پروګرامونو کې ونډه ورکړي. هېوادونه د ماشومتوب لومړی دورې په تعلیماتو کې د مېتودونو له پلوه توپیر لري، یاني یو شمېر له دغو مېتودونو پر تجربوي زده کړو تمرکز لري حال دا چې ځینې نور د مهارتونو پر ودې، علمي پراختیا، انځوریزو هنرونو او نورو ټینګار کوي.

د لسیزو ترمنځ د ارزوني لپاره اړینه ده چې د دښوونځی نه مخکی زده کړی په پروګرامونو کې د ګډون اړوند نا برابری تر تحلیل لاندې ونیسو. د ښوونځی نه مخکی زده کړی په پروګرامونو کې د ناخالص شمولیت کچه کولای شي د ښوونځی نه مخکی زده کړی ته د لاسرسي او د فرعي ډلو او جغرافیایي ساحو ترمنځ د نا برابری په اړه معلومات چمتو کړي.

**محدودیتونه**

اړینه ده چې د شمولیت په معلوماتو کې عامه او خصوصي بنسټونه او پروګرامونه شامل وي. د دښوونځی نه مخکی زده کړی په پروګرامونو لپاره د شمولیت معلومات ښايي د راپور ورکوني په لارو کې له توپیرونو اغېزمن شي، یاني دا چې ښايي د ماشوم روزني یو پروګرام چې د پیداګوژي کوچنی ځانګه ولري یا یې ونه لري، په احصائیه کې شامل شي. د ماشومتوب لومړی دورې په ښوونه او روزنه او له ماشوم څخه د کورنی په منظمه روزنه کې د توپیر موندل مشکل دي تر څو لپاره یې ثابت نړیوال تعریف وړاندې کړو، په ځانګړې توګه د هغو ماشومانو په اړه چې په اړه یې د ودې طبیعي سرعت، پیداګوژیکي امکانات محدودوي. له دې امله چې د شمولیت ناخالصه کچه عمري فکټور په پام کې نه نیسي، له ۳ کالو کم عمر او له ۵ کالو ډېر عمر لرونکي ماشومان هم په کې شاملیږي. له همدې امله، ناخالص شمولیت ښايي له ۱۰۰ سلنو هم زیات شی. یوازې هغه هېوادونه چې په کې د ماشومتوب لومړنی دورې په هر ډول ښوونیزو او روزنیزو پروګرامونو کې رسمي نوملیکنه یو شرط ګڼل کیږي، کولای شو د دې شاخص لپاره رسمي معلومات ولرو. هغه هېوادونه چې له ښوونځي وړاندې پروګرامونو په اړه کوم چې د حکومت له خوا یې څارنه کیږي، په لاس کې لري، یوازې د ښوونځی نه مخکی زده کړی په نورو پروګرامونو کې د شمولیت په اړه د معلوماتو بشپړولو ته اړتیا لري او دغه کار د ځانګړو مطالعو یا بېلګه ییزو سروېګانو له لارې هم ترسره کېدای شي.

## 1.2 په لومړي ټولګي کې د هغو نویو شاملینو فیصدي چې وړاندې یې د ښوونځي نه مخکی زده کړو په یوه منظم پروګرام کې ګډون کړی وي

**تعریف او هدف**

په لومړي ټولګي کې د هغو نویو شاملو شویو شمېر چې وړاندې یې د دښوونځی نه مخکی زده کړی په یوه پروګرام کې لږترلږه ۲۰۰ ساعته ګډون کړی وي، لومړي ټولګي ته د نویو شاملو شویو د مجموعي شمېر د یوې فیصدی په توګه وربښودل شوي. دغه شاخص لومړي ټولګي ته د هغو نویو شاملینو د نسبت ارزوني په برخه کې مرسته کوي چې له وړاندې یې د دښوونځی نه مخکی زده کړی په پروګرامونو کې ګډون کړی وي. باید په یاد ولرو چې دغه شاخصونه هم له ښوونځي وړاندې رسمي زده کړې او هم په ټولنه کې غیر رسمي تعلیمات په پام کې نیسي.

**د محاسبې مېتود او د اړتیا وړ معلومات**

د لومړي ټولګي د هغو نويو شاملينو شمېر چې د دښوونځی نه مخکی زده کړی منظم پروګرامونه يې ترلاسه کړي، په يوه ورکړل شوي ښوونيز کال کې د لومړي ټولګي د شاملينو پر مجموعي شمېر وېشل کيږي او له ۱۰۰ سره ضربيږي.

$$\%NE_{I,EC}^{t} = \frac{NE_{I,EC}^{t}}{NE_{I}^{t}} \times 100$$

Where,

$\% NE_{I,EC}^{t} =$ لومړي ټولګي ته د هغو نويو شاملينو فيصدي چې د ماشومتوب دورې د ښووني او پالني په خينومنظمو پروګرامونو کې يې ګډون کړی

$NE_{I,EC}^{t} =$ ومړي ټولګي ته د هغو نويو شاملينو شمېره چې د ماشومتوب دورې د ښووني او پالني په خينومنظمو پروګرامونو کې يې ګډون کړی

$NE_{I}^{t} =$ د ابتدائيه دورې لومړي ټولګي ته د ټولو نويو شاملو شويو مجموعي شمېر

**د معلوماتو احتمالي سرچينې**

د ښوونځي د معلوماتو ثبتوني په سيستم کې ښايي ګټور معلومات موجود وي. د ښوونځي احصائيوي وسايل هم د دغو معلوماتو را ټولوني په برخه کې کارول کېدای شي. له دې پرته، کولای شو دغه معلومات د ښوونځيو د يوې بېلګه ييزې سروې يا هم د خپلخاني د سروېګانو له لارې راټول کړو (UNESCO 1998).

**د معلوماتو ډلبندي**

په هغه صورت کې چې معلومات شته وي، د دښوونځی نه مخکی زده کړی پروګرامونو کې د شموليت ناخالصه کچه د جنسيت، سيمې، ښار/ کلي، ټولنيزو او قومي ډلو، ژبنيو ډلو، معلولينو او زيانمنو ډلو پر بنسټ وېشلای شو.

**د معلوماتو تشريح**

په لومړي ټولګې کې د نويو شاملينو لوړه فيصدي چې له وړاندې يې د دښوونځی نه مخکی زده کړی په يوه منظم پروګرام کې ګډون کړی، څرګندوي چې ددغو ماشومانو لويې برخې له ښوونځي څخه وړاندې د منظمو ښوونيزو فعاليتونو په پروګرامونو کې ګډون کړی.

په ښوونځيو کې د جذب په تړاو پرمختګ تر ډېره له هغو شناختي وړتياوو سره اړه لري چې په ماشومتوب کې زده کيږي. لکه څرنګه چې ټول پوهيږو، د ماشومتوب دورې په ښوونيزو او روزنيزو پروګرامونو کې ګډون د ماشوم پر راتلونکو تعليماتو ژور اغېز لري، ځکه چې له ښوونځي وړاندې زده کړې د راتلونکو زده کړو او ټولنيزو اساسي مهارتونو د ودې په اړه د ماشوم سلوک ته ښه ورکوي. خو د ماشومانو په شناختي ودې د ښوونځی نه مخکی زده کړی فعاليتونو اغېز هغو پروګرامونو ته په کتو توپير لري چې ماشوم په کې ګډون کړی. خو دغه شاخص د دښوونځی نه مخکی زده کړی ته له لاسرسي څخه يو عمومي انځور په لاس ورکوي، ځکه هغه ماشومان چې د ښوونځی نه مخکی زده کړی يې ترلاسه کړې وي، په ښوونځي کی د شموليت لپاره له ډېر چانس څخه برخمن وي. همدارنګه دغه شاخص په مختلفو سيمو او د بېلابېلو ولسونو ترمنځ د دښوونځی نه مخکی زده کړی ته د لاسرسي او په کې د شته نابرابری بربنډولو په برخه کې هم ډېره مرسته کوي.

**محدوديتونه**

لومړي ټولګي ته د هغو نويو شاملينو فيصدي ښايي له ۱۰۰ سلنو تېرې وکړي چې وړاندې يې د ماشومتوب دروې په منظمو ښوونيز او روزنيزو پروګرامونو کې ګډون کړی. د دې شاخص لپاره د معلوماتو راټولول په ډېرو هېوادونو کې ستونزمن کار دی.

## 1.3 د ښوونځی نه مخکی زده کړی پروګرامونو کې د مجموعي ګډون د فيصدۍ په توګه په خصوصي مرکزونو کې شموليت

### تعريف او هدف

د ښوونځی نه مخکی زده کړی په پروګرامونو کې د مجموعي شموليت د فيصدۍ په توګه په خصوصي بنسټونو او مرکزونو کې د شموليت مجموعي شمېر څرګند شوی. دغه شاخص د ښوونځی نه مخکی زده کړېپروګرامونو کې د خصوصي سکټور د مداخلې د ونډې ارزوني سره هم مرسته کوي.

### د محاسبې لار او د اړتيا وړ معلومات

په خصوصي بنسټونو او مرکزونو کې د شاملينو ټول شمېر د يوه ښوونيز کال په لړ کې د ښوونځی نه مخکی زده کړی په پروګرامونو کې د شموليت پر مجموعي شمېر وېشل کيږي او په ۱۰۰ کې ضربيږي.

### د معلوماتو احتمالي سرچيني

دغه معلومات د ښوونځي د معلوماتو د ثبت له سيستم او د معلوماتو راټولوني له نورو وسايلو څخه راغونډ کړو. نورې احتمالي سرچيني ښايي د کورنيو سروېګاني يا هم د اړوند پوښتنليکونه وي.

### د معلوماتو ډلبندي

په هغه صورت کې چې معلومات شته وي، د ښوونځی نه مخکی زده کړی پروګرامونو کې د شموليت ناخالصه کچه د جنسيت، سيمې، ښار/ کلي، ټولنيزو او قومي ډلو، ژبنيو ډلو، معلولينو او زيانمنو ډلو پر بنسټ وېشلای شو.

### د معلوماتو تشريح

په خصوصي بنسټونو او مرکزونو کې د شموليت لوړه فيصدي د خصوصي سکټور د يوه غوره رول او ښې مداخلې څرګندونه کوی. په خصوصي سکټور کې د ناخالص شموليت يوه ټيټه اندازه د دې څرګندونه کوي چې يوحکومت بايد لا ډېرې سرچيني ځانګړې کړي او د ماشومتوب دروې ښوونيزو او روزنيزو پروګرامونو ته ډېره پاملرنه وکړي.

### محدوديتونه

د ماشومتوب د لومړنی دورې ښوونيز او روزنيزو معلوماتو په څېر، په دې برخه کې هم د معلوماتو راټولول آسانه کار نه دی؛ ځکه چې اکثريت هغه بنسټونه چې د مختلفو وزارتونو په چوکاټ کې ځای لري، په دې برخه کې ښکېل دي. په ځينو هېوادونو کې، خصوصي سکټور د د ښوونځي نه مخکی زده کړوپه پروګرامونو کې د پام وړ لويه ونډه لري او له دغو بنسټونو څخه د معلوماتو راټولول ستونزمن کار دی.

## 1.4 د ښوونځی نه مخکی زده کړو پروګرامونو کې د روزل شویو ښوونکو فیصدي

**تعریف او هدف**

د هغو ښوونکو شمېر چې له ښوونځي وړاندي ښوونيزو پروګرامو د تدریس لپاره روزل شوي، د دښوونځی نه مخکی زده کړی په پروګرامونو کې د ښوونکو د ټول شمېر یوه فیصدي څرګندوي. د ښوونځی نه مخکی زده کړو په ښوونیز او روزنیزو پروګرامونو کې د روزل شویو ښوونکو لرل ډېر اهمیت لري، په ځانګړې توګه د ماشومتوب دورې د منظمو ښوونیزو او روزنیزو پروګرامونو لپاره. دغه ښوونکي په مستقیمه توګه د هغو پروګرامونو له کیفیت سره اړیکه لري چې د کوچنیو ماشومانو لپاره ډېر مهم دي او دوی په ښوونځي کې د رسمي زده کړو لپاره چمتو کوي.

**د محاسبې مېتود او د اړتیا وړ معلومات**

د روزل شویو ښوونکو ټول شمېر په یوه ورکړل شوي ښوونیز کال کې د دښوونځی نه مخکی زده کړی پروګرامونو د ښوونکو پر ټول شمېر وېشل کېږي او له ۱۰۰ سره ضربېږي.

**د معلوماتو احتمالي سرچینې**

په دې برخه کې معلومات د ښوونځي له کلنیو احصائیو او د بنسټونو د معلوماتو راټولوني له نورو سیسټمونو څخه ترلاسه کړو. همدارنګه د ښوونځي د ځانګړو سروې ګانو له لارې هم کولای شو په دې اړه کافي معلومات راټول کړو.

**د معلوماتو ډلبندي**

کولای شو دغه معلومات د ټولنیز- اقتصادي وضعیت، جغرافیایي سیمي یا ښار/ کلي له مخې ډلبندي کړو. غوره به وي چې بنسټیزو وېشنو یا تقسیماتو ته هم کتنه ولرو.

**د معلوماتو تشریح**

لوړه فیصدي څرګندوي چې په هېواد کې د ښوونځي نه مخکی زده کړی لوړ کیفیت پروګرامونو او خدمتونه شتون لري.

**محدودیتونه**

د ماشومتوب د لومړۍ دورې ښوونیز او روزنیزو معلوماتو په څېر، په دې برخه کې هم د معلوماتو راټولول آسانه کار نه دی؛ ځکه چې اکثریت هغه بنسټونه چې د مختلفو وزارتونو په چوکاټ کې ځای لري، په دې برخه کې ښکېل دي. په ځینو هېوادونو کې، خصوصي سکټور د د ښوونځي نه مخکی زده کړو په پروګرامونو کې د پام وړ لوبه ونډه لري او له دغو بنسټونو څخه د معلوماتو راټولول ستونزمن کار دی.

### ۲ هدف: لومړنیو عمومي (ابتدائیه) زده کړو ته لاسرسی

له دې ډاډ ترلاسه کول چې تر ۲۰۱۵ کاله (د افغانستان لپاره تر ۲۰۲۰کاله) ټول ماشومان، په ځانګړې توګه نجوني، هغه ماشومان چې له ستونزمنو شرایطو سره مخ دي او د قومي لږکیو اړوند ماشومان، بشپړې، وړیا، جبري او د لوړ کیفیت لرونکي ښووني روزني ته لاسرسی ولري.

د لومړنيو عمومي زده کړو موخه نه يوازې د ټولو ماشومانو لپاره د لومړنيو زده کړو د لاسرسي پراختيا ده بلکې د ښوونيز سيستم د داخلي مؤثريت ډېرول هم د هغه د عطف ټکی دی ترڅو ټول ماشومان په حقيقي يا دوراني بڼه لومړنۍ زده کړې بشپړې کړي. په دې کې د کافي سرچينو او زيربناوو له شتون او د هغه له اغېزناکې ګټه اخستنې څخه ډاډ ترلاسه کول هم شامل دي. ښوونيز سيستمونه بايد د ټولو ماشومانو لپاره د لاسرسي وړ وي او د لوړ کيفيت زده کړې وړاندې کړي.

په دې عمومي هدف کې ځانګړي پاملرنه نجونو، د ځانګړي شرايطو لرونکو ماشومانو او هغو ماشومانو ته ډېره ده چې په قومي لږکيو پورې اړه لري. د دغو ډلو د هر اړخيزې ارزونې لپاره، د ګوښه شويو يا منزوي ډلو معلومات بايد له نورو معلوماتو سره مل له ټولو شته سرچينو او د ښوونځي له دوديز احصائيوي سيستم څخه پراخه توګه راټول شي. په کار ده چې دغه معلومات د عامه او خصوصي لومړنيو زده کړو له ټولو منظمو پروګرامونو راټول شي.

دغه هدف ته د رسېدو په لوري د پرمختګ لپاره د يوې هر اړخيزې يا جامع ارزونې په لاره اچولو لپاره، د هغو معلوماتو او نورو معلوماتو په اړه د لومړنيو زده کړو د ټولو منظمو خدمتونو ټولو ډولونو ته اړتيا ده چې د خصوصي سکټور او يا د عامه سکټور له خوا يې مديريت او تمويل کيږي. کله چې تاسو يو داسې هېواد په پام کې نيسی چې «لومړنۍ زده کړې» يې د متوسطه يا منځنيو زده کړو لومړۍ (ښکتنۍ) کړۍ هم ولري، د هغه معلومات بايد په ارزونه کې شامل کړای شي.

**زده کړه د ټولو لپاره (EFA) بنسټيز شاخصونه – د زريزې پراختيايي موړخې**

| 2 | د زريزې په پراختيايي موخو کې د زده کړه د ټولو لپاره شاخصونه | ډلبندي | د معلوماتو سرچينه |
|---|---|---|---|
| 2.1 | په لومړنيو زده کړو کې د شموليت ناخالصه اندازه | • جنسيت<br>• جغرافيايي ساحه<br>• ښاري/ کليوالي<br>• نورې ټولنيزې او اقتصادي ډلبندی، لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلوليت | • د ښوونځي کلنی احصائيه<br>• خېلخانه يي سروې ګانې |
| 2.2 | په لومړنيو زده کړو کې د شموليت خالصه اندازه | • جنسيت<br>• جغرافيايي ساحه<br>• ښاري/ کليوالي<br>• نورې ټولنيزې او اقتصادي ډلبندی، لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلوليت | • د ښوونځي کلنی احصائيه<br>• خېلخانه يي سروې ګانې |
| 2.3 | • په لاندې برخو کې د شموليت ناخالص نسبت(GER):<br>○ لومړنۍ زده کړې<br>○ منځنۍ زده کړې | • جنسيت<br>• جغرافيايي ساحه<br>• ښاري/ کليوالي<br>• نورې ټولنيزې او اقتصادي ډلبندی، لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلوليت | • د ښوونځي کلنی احصائيه<br>• خېلخانه يي سروې ګانې |

| 2 | د زریزې په پراختیایي موخو کې د زده کړه د ټولو لپاره شاخصونه | ډلبندي | د معلوماتو سرچینه |
|---|---|---|---|
| 2.4 | ○ په لاندې برخو کې د شمولیت خالص نسبت (NER):<br>○ لومړنۍ دورې زده کړې<br>○ منځنۍ دورې زده کړې<br>○ لیسې دورې زده کړې | • جنسیت<br>• جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• نورې ټولنیزې او اقتصادي ډلبندۍ، لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلولیت | • د ښوونځي کلنۍ احصائیه<br>• خېلخانه يي سروې ګانې |
| 2.5 | په لومړنیو زده کړو کې د ټولګي د تکرار (یو ټولګی بیا ځل لوستل) اندازې | • جنسیت<br>• جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• عامه/ خصوصي<br>• نورې ټولنیزې او اقتصادي ډلبندۍ، لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلولیت | • د ښوونځي کلنۍ احصائیه<br>خېلخانه يي سروې ګانې |
| 2.6 | په شپږم ټولګي کې د پاتې کېدو اندازه | • جنسیت<br>• جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• عامه/ خصوصي<br>• نورې ټولنیزې او اقتصادي ډلبندۍ، لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلولیت | • د ښوونځي کلنۍ احصائیه |
| 2.7 | منځنیو زده کړو ته د انتقال اندازه | • جنسیت<br>• جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• عامه/ خصوصي<br>• نورې ټولنیزې او اقتصادي ډلبندۍ، لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلولیت | • د ښوونځي کلنۍ احصائیه<br>• خېلخانه يي سروې ګانې |
| 2.8 | د لومړنیو زده کړو د روزل شویو ښوونکو فیصدي | • جنسیت<br>• جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• عامه/ خصوصي<br>• د هغو ښوونکو شمېر چې د ځانګړو زده کړو په برخه کې يې روزنه ترلاسه کړې. | • د ښوونځي کلنۍ احصائیه<br>• خېلخانه يي سروې ګانې |

| 2 | د زريزي په پراختيايي موخو کې د زده کړه د ټولو لپاره شاخصونه | ډلبندي | د معلوماتو سرچينه |
|---|---|---|---|
| 2.9 | په لومړنيو زده کړو کې د زده کوونکي – ښوونکي نسبت | • جغرافيايي ساحه<br>• ښاري/ کليوالي<br>• عامه/ خصوصي | • د ښوونځي کلنی احصائيه<br>• خېلخانه يي سروې ګانې |
| 2.10 | د پوهنې په اړه د عامه لګښتونو د مجموعي فيصدۍ په توګه پر لومړنيو زده کړو شوي عامه لګښتونه | • شاخص در سطح ملی | • د حکومت د بوديجې راپور |

## 2.1 په لومړنيو زده کړو کې د جذب ناخالصه کچه (GIR)

**تعريف او هدف**

د عمر په نظر که نه نيولو سره د لومړنيو( ابتدائيه) زده کړو په لومړي ټولګي کې د نويو شامليدو ټول شمېر، ښوونځي ته د شموليت په رسمي عمر کې د جمعيت د فيصدۍ په توګه بيان شوی دی. د جذب ناخالصه کچه، لومړنيو زده کړو ته د لاسرسي د عمومي سطحې ښکارندويي کوي. دغه شاخص يوازې لومړني ټولګي ته د لاسرسي يوه اټکلي شمېره چمتو کوي، ځکه چې لومړي ټولګي ته ترعمرلاندې او باندې د نويو شاملينو شمېر په پام کې نيسي. همدارنګه د هغه جمعيت لپاره لومړنيو زده کړو ته د لاسرسي چمتو کولو په موخه د تعليمي سيستم ظرفيت څرګندوي چې په ښوونځي کې د دجذب رسمي عمر يې پوره کړی وي. دغه شاخص د عمر له مخې د نويو شاملينو په اړه د معلوماتو نه شتوالي په صورت کې د جذب د خالصې کچې لپاره کارول کيږي.

**د محاسبې لار او د اړتيا وړ معلومات**

د عمر له پام کې نيولو پرته لومړي ټولګي ته د شاملو شويو شمېر، د هغو زده کوونکو پر شمېر وېشل کيږي او پايله يې له ۱۰۰ سره ضربيږي چې ښوونځي ته د شموليت رسمي عمر يې پوره کړی وي.

$$GIR_{Pri,t} = \frac{\text{Number of new entrants to Grade 1 (all ages) in school-year t}}{\text{Population of the official primary school-entrance age in school-year t}} \times 100$$

(صورت: د عمر له پام کې نيولو پرته لومړي ټولګي ته د نويو شاملو شويو شمېر؛ مخرج: د هغه نفوس شمېر چې ښوونځي ته د شموليت رسمي عمر يې پوره کړی)

په پورته فورمول کې په فرضي توګه داسې ګڼل شوي چې د نويو شاملينو په اړه معلومات شته دي. که چېرې دغه معلومات شتون ونه لري، لومړي ټولګي ته نوي شامل شوي په لومړي ټولګي کې د ټولو شاملينو له مجموعي څخه د ټولګي تکراروونکو د شمېر له منفي کولو وروسته پيدا کړو. لکه څرنګه چې لاندې ښودل کيږي:

$$GIR_{Pri,t} = \frac{(\text{Number of pupils in Grade 1 in school-year t}) - (\text{Number of repeaters in Grade 1 in school-year t})}{\text{Population of the official primary school-entrance age in school-year t}} \times 100$$

ځينې هېوادونه لومړي ټولګي ته د اتومات پورته کېدو اجازه ورکوي، په دې معنی چې له ابتدائيه دورې وړاندې سطحه کې هيڅ ډول تکرار نشته. په دې صورت کې د نويو شاملينو شمېر د شموليت له مجموعي شمېر سره سمون لري. له همدې امله، پورته لومړی فورمول د شموليت د ناخالصې کچې اټکلولو لپاره کارول کېدای شي. په ياد ولرئ چې د دې مورد لپاره لومړي ټولګي ته د شاملو شويو شمېر لومړي ټولګي ته د شموليت له مجموعي شمېر سره برابر دی.

**د معلوماتو احتمالي سرچينې**

د عمر له مخې د نويو شاملينو په اړه معلومات کولای شو د ښوونځي د معلوماتو ثبتوني له سيسټمونو او د ښوونځي له سروېګانو يا احصائيو څخه ترلاسه کړو. د هغه نفوس په اړه معلومات چې لومړني ښوونځي ته د شموليت عمر يې پوره کړی وي، کولای شو د نفوس له احصائيې يا اټکل يې ترلاسه کړو.

**د معلوماتو ډلبندي**

کولای شو د ناخالص جذب کچه د جنسيت، سيمې، ښار/ کلي، ټولنيزو او قومي ډلو، ژبنيو ډلو، معلولينو او نورو زيانمنو ډلو له مخې ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشريح**

د ناخالص جذب يوه لوړه کچه په عمومي توګه لومړنيو زده کړو ته د پراخ لاسرسي څرګندونه کوي. له دې امله چې دغه محاسبه د ښوونځي له عمر ښکته او پورته ماشومانو په ګډون لومړي ټولګي ته د هغو ټولو شاملينو شمېر په پام کې نيسي چې د لومړي ځل لپاره ښوونځي ته ځي، د جذب ناخالصه کچه له ۱۰۰ سلنو څخه ډېرېږي.

همدارنګه دغه شاخص له يوبل سره د ښوونځي د ظرفيت او په لومړي ټولګي کې د شموليت لپاره د تقاضا مطابقت ورکولو په اړه هم ګټور دی. د جذب د ناخالصې کچې او خالصې کچې ترمنځ توپير په رسمي عمرکې له شموليت څخه د انحراف

ځرګندونه کوي. د دغه انحراف دوام یا زیاتېدل په ښوونځي کې د شمولیت لپاره د رسمي عمر په پالیسی کې بدلون ته اړتیا لري ترڅو ښووني او روزني ته د خلکو د واقعي تقاضا جوړښت په کې رعایت شوی وي.

**محدودیتونه**

د نویو شاملینو په شمېر کې عامه او خصوصي ښوونځي شامل دي. د هغه نفوس (یا اټکلي نفوس) په اړه معلومات چې په دې شاخص کې کارول شوي دي، باید په ښوونځي کې د شمولیت له رسمي عمر سره سمون ولري. باید پام مو وي چې د لومړي ټولګي تکراروونکي په دې محاسبه کې شامل نه شي، ځکه چې د ناخالص جذب د ډېرېدو سبب کېږي.

## 2.2 په لومړنیو زده کړو کې د جذب خالصه کچه(NIR)

**تعریف او هدف**

د جذب خالصه کچه لومړي ټولګي ته د هغو نویو شاملو شویو له نسبت څخه عبارت ده چې د ښوونځي د جذب په رسمي عمر کې ځای لري، پر د هغه جمعیت چې عمر یی د ښوونځی د لومړی ټولګی سره برابر وی او په سلو کی یی ضربوو. دغه امر د جذب د ناخالص نسبت په پرتله لومړنیو زده کړو ته د هغو ماشومانو د لاسرسي کره سنجونه ځرګندوي چې په ښوونځي کې یې د شمولیت رسمي عمر پوره کړی وي. دا یو مهم پرامتردی چې په ښوونځیو کې د جذب د اټکل لپاره کارول کیږي، ځکه چې په کې د هغو ماشومانو شمېر سنجول کیږي چې ښوونځي ته د شمولیت عمر یې پوره کړی وي.

**د محاسبې لار او د اړتیا وړ معلومات**

په لومړي ټولګي کې د هغو نویو شاملو شویو شمېر چې په ښوونځي کې د شمولیت رسمي عمر ولري، د هغو ټولو ماشومانو پر شمېر وېشل کیږي او حاصل یې په ۱۰۰ کې ضربیږي چې ښوونځي ته د تلو عمر لري.

$$NIR_{Pri,\,t} = \frac{\text{(Number of pupils of the official primary school Age in Grade 1 in school-year t)} - \text{(Number of repeaters in Grade 1 in school-year t)}}{\text{Population of the official primary school-entrance age in school-year t}} \times 100$$

کولای شو د عمر پر بنسټ د نویو شاملینو په اړه معلومات د ښوونځي د معلوماتو ثبتوني(سوابق) له سیستمونو او د ښوونځي له سروې ګانو یا شمېرو څخه ترلاسه کړو. د هغه جمعیت په اړه معلومات هم د جمعیت یا نفوس له شمېرني یا اټکل څخه ترلاسه کړو چې ښوونځي ته د شمولیت په عمر کې دي.

**د معلوماتو ډلبندي**

کولای شو د خالص جذب کچه د جنسیت، سیمې، ښار/ کلي، ټولنیزو او قومي ډلو، ژبنیو ډلو، معلولینو او نورو زیانمنو ډلو له مخې ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشریح**

د جذب لوړه خالصه کچه په عمومي توګه څرګندوي چې د ښوونځي عمر لرونکي ماشومان لومړنیو زده کړو ته چه پراخ لاسرسی لري او د هغو زده کوونکو پراخه کچه په لومړي ټولګي کې شامله ده چې د ښوونځي عمر يې پوره کړی. دا د دې څرګندونه کوي چې هېوادونه د لومړنیو عمومي زده کړو په اړه څومره له یوبل سره نیږدې دي.

د ناخالص جذب او د خالص جذب د کچې ترمنځ توپیر هم وګورئ. د ناخالص جذب کچې شکل د عمر له لحاظ پرته د نویو شاملو شویو زده کوونکو مجموعي شمېر دی. د خالص جذب کچې شکل په لومړني ښوونځي کې د یوه ځانګړي عمر لپاره د نویو شاملو زده کوونکو مجموعي شمېره ده. د دواړو اندازو مخرج د هغو ماشومانو شمېر دی چې ښوونځي ته د تلو رسمي عمر لري. د جذب خالصه اندازه تل د ناخالص جذب اندازې په نسبت کمه یا ورسره مساوي وي.

**محدودیتونه**

د هغه جمعیت (یا اټکلي نفوس) په اړه معلومات چې په دې شاخص کې کارول شوي، باید په ښوونځي کې د شمولیت د رسمي عمر له مخې وي. په اصل کې، د دغه شاخص اندازه نه باید له ۱۰۰ سلنو تېرې وکړي. باید پام مو وي چې د لومړي ټولګي تکراروونکي په دې محاسبه کې شامل نه شي، ځکه دا به د هغو زده کوونکو د دوه ځلي شمېرلو سبب شي چې لومړی ټولګی له هغه مهال راهیسې تکراروي چې په ښوونځي کې یې د شمولیت رسمي عمر پوره کړی.

## 2.3 د شمولیت ناخالص نسبت (GER)

**تعریف او هدف**

د شمولیت ناخالص نسبت د یوې تعلیمي سطحې (لومړی، منځنۍ یا ثانوی) لپاره د شمولیتونو له هغې مجموعي څخه عبارت دی چې عمر ته له کتو پرته شوي وي او په یوه ښوونیز کال کې د اړوند ښوونیزې دورې یا سطحې کې د هغو ماشومانو فیصدي څرګندوي چې د ښوونځي رسمي عمر یې پوره کړی وي. دغه نسبت په پراخه کچه په لومړنیو زده کړو کې د ګډون د عمومي سطحې او د پرانستي تعلیمي سیسټم د ظرفیت څرګندولو لپاره کارول کیږي. کله چې د یوه واحد عمری کال له مخې د شمولیت په اړه معلومات په لاسرسي کې نه وي، د شمولیت د خالص نسبت په ځای له دې نسبت څخه ګټه اخستل کیږي. همدارنګه کولای شو دغه نسبت د شمولیت له خالص نسبت سره یوځای تر عمر ښکته او پورته زده کوونکو د شمولیت کچې سنجولو لپاره وکاروو.

**د تعلیمی سطحي له مخې د شمولیت ناخالص نسبت**

کولای شو د ښوونیزې (لومړنۍ، منځنۍ یا ثانوی) دورې له مخې د شمولیت ناخالص نسبت د یوې ځانګړې دورې د ټولو زده کوونکو د یوې برخې په توګه ترلاسه کړو او د هغو زده کوونکو د فیصدۍ په توګه یې وړاندې کړو چې په اړوند دورې کې یې د شمولیت عمر پوره کړی وي.

**د محاسبې مېتود او د اړتیا وړ معلومات**

**لومړنۍ یا ابتدائیه دوره**

په ابتدائیه کې د شمولیت ناخالص نسبت په دغه دوره کې ښوونځي ته د شمولیت عمر پوره کړیو زده کوونکو شمېر د ټولو زده کوونکو پر مجموعي شمېر د وېشلو او حاصل یې په سلو کې د ضربولو له لارې پیدا کیږي. مختلف هېوادونه په ابتدائیه دوره کې مختلف ټولګي یا مختلف عمري ګروپونه لري.

$$GER_{Pri,\,t} = \frac{\text{Total enrolment at the primary education level in school-year t}}{\text{Population of the official primary school age group in school-year t}} \times 100$$

**د متوسطی په سطحه**

د منځنۍ یا متوسطه دورې لپاره د شمولیت ناخالص نسبت په متوسطه دوره کې : د هغه زده کوونکو شمیر چه په متوسطه دوره کښې شامل دی پر هغه جمعیت چه د متوسطی دوری سره یی سن برابر( له 13 نه تر 15 کلونو پوری) وی او حاصل یی په سلو کښی د ضربولو څخه لاسته راځی.

$$GER_{Pri,\,t} = \frac{\text{Total enrolment at the secondary education level in school-year t}}{\text{Population of the official secondary school age group in school-year t}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچینې**

کولای شو د شمولیت اړوند معلومات د ښوونځي د سوابقو له سیستمونو او د ښوونځیو له احصائیو یا سروې ګانو په لاس راوړو. د هغو ماشومانو په اړه معلومات چې په لومړني یا منځني ښوونځي کې یې د شمولیت عمر پوره کړی وي، کولای شو له احصائیې یا د نفوسو له اټکل څخه ترلاسه کړو.

**د معلوماتو ډلبندي**

کولای شو د ناخالص شمولیت کچه د جنسیت، سیمې، ښار/ کلي، ټولنیزو او قومي ډلو، ژبنیو ډلو، معلولینو او نورو زیانمنو ډلو له مخې ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشریح**

د شمولیت ناخالص نسبت تر پوښښ لاندې ساحې سنجولو لپاره تر ټولو زیات دود شاخص دی. دغه نسبت د هغه نفوس په اړه د ښوونیز سیستم د عمومي پوښښ څرګندونه کوي چې په سیستم کې د ګډون لپاره په شرایطو پوره وي. دغه نسبت د هغو کسانو لپاره ګټور دی چې په یوه ټاکلي تعلیمي دوره کې د ښوونځي عمر لرونکو ماشومانو له ګډون سره لېوالتیا لري. همدارنګه کولای شو د مختلفو ولسوالیو، ولایتونو، ساحو، کلیو او ښارونو، نجونو او هلکانو د پرتلنې لپاره یې وکاروو.

د شمولیت ناخالص نسبت ښايي له ۱۰۰ سلنو هم زيات وي، البته په هغه صورت کې چې په ښوونځي کې له اصلي عمر پورته ماشومانو شمېر له هغو ماشومانو ډېر وي چې د دغې ښوونيزې دورې لپاره د شموليت رسمي عمر لري. د شموليت د ناخالص نسبت لوړه کچه د مشارکت د لوړې کچې ښکارندونه کوي – که چېرې زده کوونکي په دې دوره کې د شموليت رسمي عمر ولري يا يې ونه لري. په هغه صورت کې چې د شموليت د ناخالص نبست شمېره ۱۰۰ سلنو ته نيږدې شي يا له هغه هم واوړي، د دې ښکارندونه کوي چې يو هېواد په حقيقت کې د هغو ټولو ماشومانو د جذبولو ظرفيت لري چې په لومړنۍ کې د شموليت رسمي عمر يې پوره کړی وي؛ خو د دغه نفوس د واقعي شموليت کچه نه ورښيي. له همدې امله، د شموليت ناخالص نسبت سل په سلو کې اړين دی خو د لومړنيو عمومي زده کړو لپاره کفايت نه کوي. هغه وخت چې د لومړنيو زده کړو لپاره د يوه هېواد د شموليت ناخالص نسبت له ۹۰ سلنو ډېر وي، په دې دلالت کوي چې د زده کوونکو لپاره د ځايونو د شمېر مجموعه د هغو ټولو ماشومانو د شموليت لپاره اړين شمېر ته نيږدېوالی مومي چې د شموليت رسمي عمر يې پوره کړی وي. خو عمومي لومړنيو زده کړو ته د رسېدو لپاره، له عمر ښکته او پورته ماشومانو شمېر بايد کم شي ترڅو د هغو زده کوونکو لپاره لا ډېره فضا پيدا شي چې د شموليت په رسمي عمر کې ځای لري.

**محدوديتونه**

د زده کړو په لومړنۍ يا ابتدائيه سطحه کې د شموليت ناخالص نسبت بايد د عامه، خصوصي او هغو ټولو مرکزونو د لومړنيو ښوونځيو او معادل ښوونيزو بنسټونو په ټولو ډولونو کې د شموليتونو د مجموعې پر بنسټ وي چې د ابتدائيې په کچې منظم ښوونيز پروګرامونه وړاندې کوي. ځينې وختونه د شموليت ناخالص نسبت له ۱۰۰ سلنو هم تېری کوي او د دې لامل له رسمي عمر څخه د کوچنيو، لويو او تکراروونکو زده کوونکو شاملونه ده. په دې صورت کې، د شموليت د ناخالص نسبت سختګيرانه تشريح د هغو زده کوونکو په اړه اضافي معلوماتو ته اړتيا لري چې عمر يې له رسمي عمر لوړ، ټيټ يا تکراري وي.

## 2.4 د شموليت خالصه کچه (NER)

**تعريف او هدف**

په يوه ټاکلي ښوونيزه دوره يا سطحه کې د شموليت کچه هغه زده کوونکي چې په رسمي عمري ګروپ کې ځای لري، د اړوند جمعيت د فيصدۍ په توګه ښکارندوي. د شموليت خالص نسبت د هغو ماشومانو په وسيله په لومړنيو زده کړو کې د ګډون کچه وړاندې کوي چې د لومړني ښوونځي رسمي عمر ولري.

**د سطحې پر بنسټ د شموليت خالصه اندازه**

کولای شو دغه شاخص د سطحې (لکه لومړنۍ يا منځنۍ يا ابتدائيه او متوسطه) له مخې رامنځ ته کړو.

**د محاسبې مېتود او د اړتيا وړ معلومات**

**ابتدائیه دوره**

د لومړنیو زده کړو لپاره : د شمولیت خالص نسبت په ابتدائیه دوره کې دټولو هغه زده کوونکو شمیر چه د عمر یی د ښوونځی د ابتدائی دوری د رسمي عمر(۷- تر ۱۲ کلونو) سره برابر وی د ماشومانو په هغه جمعیت باندی چه عمر یی د ښوونځی د ابتدائیه دوری (۷- تر ۱۲ کلونو) د عمر سره برابر وی د حاصل تقسیم څخه لاس ته راځی چه حاصل تقسیم یی د 100 سره ضربووو.

$$NER_{Pri,t} = \frac{\text{Enrolment of official primary school age group in the primary education level in school-year t}}{\text{Population of the official primary school age group in school-year t}} \times 100$$

**متوسطه دوره**

د متوسطی دوری لپاره د خالص شمولیت دمتوسطی دوری لپاره : د شمولیت خالص نسبت په متوسطه دوره کې دټولو هغه زده کوونکو شمیر چه د عمر یی د ښوونځی د متوسطی دوری د رسمي عمر(13- تر 15 کلونو) سره برابر وی د ماشومانو په هغه جمعیت باندی چه عمر یی د ښوونځی د متوسطی دوری (13- تر 15 کلونو) د عمر سره برابر وی د حاصل تقسیم څخه لاس ته راځی چه حاصل تقسیم یی د 100 سره ضربووو.

$$NER_{Sec,t} = \frac{\text{Enrolment of official secondary school age group in the secondary education level in school-year t}}{\text{Population of the official secondary school age group in school-year t}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچيني**

کولای شو د شمولیت په اړه معلومات د ښوونځي د معلوماتو ثبتوني له سیستم یا سوابقو، د ښوونځي له احصائیي او یا هم سروېګانو څخه ترلاسه کړو. نفوس شمېرنه یا د جمعیت اټکل د هغو ماشومانو په اړه د معلوماتو غوره سرچيني دي چې د لومړنیو یا منځنیو زده کړو لپاره یې رسمي عمر پوره کړی وي.

**د معلوماتو ډلبندي**

کولای شو د خالص شمولیت کچه د جنسیت، سیمې، ښار/ کلي، ټولنیزو او قومي ډلو، ژبنیو ډلو، معلولینو او نورو زیانمنو ډلو له مخې ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشریح**

په لومړنیو زده کړو یا ابتدائیه دوره کې د  خالص شمولیت د نسبت لوړه کچه د هغو ماشومانو په اړه چې په ابتدائیه دوره کې د مشارکت لوړه اندازه په ډاګه کوي چې په دغه دوره کې د ګډون لپاره رسمي عمر لري. د شمولیت د خالص نسبت لوړه شمېره ۱۰۰ سلنه ده. په لومړنیو زده کړو کې د شمولیت خالصه اندازه چې په تدریج سره پورته کیږي، په ابتدائیه دوره کې د شمولیت ډېرېدو څرګندونه کوي. د شمولیت د خالص نسبت او نا خالص نسبت ترمنځ توپیر له رسمي عمر څخه د پورته او ښکته ماشومانو اندازه څرګندوي. په هغه صورت کې چې د شمولیت خالص نسبت په لومړنیو زده کړو کې له ۱۰۰ سلنو ښکته وي، د شمولیت د خالص نسبت او ۱۰۰ سلنو ترمنځ د توپیر فیصدي د ابتدائیه دورې د هغو عمر لرونکو زده کوونکو تناسب څرګندوي د همدې دورې لپاره یې نوم لیکنه نه ده کړې. یانې که چېرې د ابتدائیه دورې لپاره د شمولیت خالص نسبت ۸۰ سلنه وي، په دې صورت کې ۲۰ سلنه هغه ماشومان چې په اړوند عمري ګروپ کې ځای لري، په ښوونځي کې نه دي شامل شوي. مګر له دې امله چې د ابتدائیه دورې عمر لرونکي یو شمېر زده کوونکي د زده کړو په بله سطحه کې شاملیږي، د فیصدۍ دغه توپیر باید له هېڅ امله د هغو ماشومانو په اړه د کره فیصدۍ په توګه په پام کې ونه نیول شي چې په ښوونځي کې نه دي شامل شوي. کولای شو همدا ډول تحلیل په متوسطه دوره کې د شمولیت د خالص نسبت په اړه هم ولرو.

د شمولیت د دې نسبت لپاره یو بشپړوونکی او لا کره شاخص له (ASER) څخه عبارت دی او کولای شي په هره ټاکلې عمري دوره کې د نفوس له خوا په زده کړو کې د ګډون سطحه څرګنده کړي. دغه نسبت د شمولیت د ناخالص نسبت په پرتله د متوسطی دورې د عمري ګروپ ماشومانو د مشارکت په اړه له نورو دقیق شاخص دی. په ګڼو هېوادونو کې د عمر له مخې د شمولیت په اړه معلومات شتون نه لري او د شمولیت خالص نسبت د شمولیت د ناخالص نسبت په پرتله لږ کارول کیږي.

**محدودیتونه**

په ابتدائیه دوره کې د خالص شمولیت نسبت باید د خصوصي، عامه او نورو هغو مرکزونو په ګډون د ابتدائیه ښوونځي او معادل تعلیمي مرکزونو په ټولو ډولونو کې د شمولیت له مخې وي چې د ابتدائیه دورې لپاره منظم ښوونیز پروګرامونو چمتو کوي. همدغه امر د متوسطه دورې لپاره هم سم دی.

که څه هم له نظري پلوه د خالص شمولیت نسبت له ۱۰۰ فیصده څخه زیاتېدای نه شي، مګر له علمي پلوه کېدای شي له ۱۰۰ فیصده څخه ډېر شي. د دې کار دلیل د شمولیت او جمعیت د معلوماتو ترمنځ د مطابقت نشتوالی دی. کله چې د خالص شمولیت نسبت د محاسبې پرمهال له ۱۰۰ سلنو ډېر وي، لاندې عوامل یې سبب کېدای شي:

- د نفوسو د اړوند معلوماتو په پام کې نه نیول یا لږ شمېرل.

- کله چي په ابتدائيه دوره کي د شموليت لپاره د سرچيني نېټه په همدي سطحه کي د شموليت لپاره د ټولو په شرايطو پوره ماشومانو د زيږون له نېټي سره سمون ونه لري.
- کله چي د ماشومانو يوه لويه برخه رسمي عمر ته له رسېدو وړاندې ابتدائيه دوره پيل او له وخت وړاندې پای ته ورسوي؛ او
- هغه وخت چي لومړني ښوونځي ته د شموليت په عمر کي زياتوالی راشي خو موده يې تغيير ونه کړي.

### 2.5 په ابتدائيه دوره کي د ټولگي له مخي د تکرار کچه (RR)

**تعريف او هدف**

د تکرار کچه د هغو زده کوونکو له تناسب څخه عبارت ده چي يو ټولگی په تکراري ښه لولي. په دي برخه کي، د زده کوونکو د تکرار کچه د ټولگيو له مخي سنجول کيږي. د تکرار لوړه کچه د ضايعاتو د لوړي کچي ښکارندوي هم کوي. دغه چاره د نورو زده کوونکو لپاره ښوونځي ته د لاسرسي مخه نيسي ځکه چي د ښوونځي فضا د تکراري زده کوونکو په واسطه نيول کيږي.

**د محاسبې مېتود**

د ټولو هغو زده کوونکو شمير چه g ټولگی په کال t+1 کي تکراره وی تقسيم پر ټولو هغو شاگردانو په شمير په کال t کی په g ټولگي کي شامل شوی دی.

$$RR_{g,t} = \frac{\text{Number of pupils repeating grade g, in school-year t+1}}{\text{Number of pupils enrolled in grade g, in school-year t}} \times 100$$

د مثال په ډول، که وغواړی چي په ۲۰۰۴ ښوونيز کال د دريېم ټولگي د تکرار کچه په ډاگه کړی، له لاندې فورمول گټه اخلو:

$$RR_{3,2004} = \frac{\text{Number of pupils repeating grade 3, in school-year 2005}}{\text{Number of pupils enrolled in grade 3, in school-year 2004}} \times 100$$

**د معلوم**

کولای شو د تکرارونکو او شموليت په اړه معلومات د ښوونځيو له کلنی احصائيي يا سروې گانو څخه ترلاسه کړو. خپلخانه يي سروې گاني يا نور اداري ياداشتونه هم د هغو پروگرامونو لپاره د اړتيا وړ معلومات چمتو کوي چي د ټولنې، نا دولتي موسسو يا خصوصي ښوونځيو له خوا پرمخ وړل کيږي. په ځينو برخو کي، هېوادونه ښايي د عامه او خصوصي پروگرامونو معلومات له يوبل سره گډ کړي.

**د معلوماتو ډلبندي**

په ابتدائيه دوره کي د ټولگي پر بنسټ د تکرار کچه کولای شو د جنسيت، سيمي، ښار/ کلي، ټولنيزو او قومي ډلو، ژبنيو ډلو، معلولينو او نورو زيانمنو ډلو له مخي ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشریح**

د تکرار کچه باید په مناسب حالت کې صفر سلنو ته نیږدې شي. د تکرار لوړه کچه د ښوونیز سیستم په داخلي اغېزمنتوب کې د ستونزو ښکارندویي کوي او لامل یې احتمالاً د تدریس ټیټه سطحه ده. که چېرې د ټولګیو ترمنځ پرتلنه وشي، پایلې به یې د دې څرګندونه وکړي چې یو شمېر ټولګي د تکرار لوړه کچه لري. د تکرار تر ټولو لوړه کچه او د یوه ټولګي د تکرار لپاره مجاز ځلونه، په ځینو برخو کې ښایي د پوهنې د چارواکو له خوا په ګوته شي ترڅو په ټولګیو کې د ښوونیز فضا له کمښت سره مخ نه شو او ښوونیزو دورو ته د زده کوونکو د شمولیت بهیر کړندی شي. په پایله کې، د دې شاخص د تشریح پرمهال او هغه وخت چې ښوونیز سیستمونه سره پرتله کوونکو، باید له ډېرې پاملرنې کار واخلو.

**محدودیتونه**

د زده کوونکو د جریان نورو اندازو ته په کتو، د تکرار اندازه هم د دوو پرله پسې کالو لپاره د ټولګي له مخې د تکرارونکو د شمولیت په اړه د معلوماتو له تحلیل څخه ترلاسه کیږي. باید ډاډ ترلاسه کړو چې دغه شان معلومات باید د وخت په تېرېدو او مختلفو ټولګیو کې د پوښښ له شرایطو سره سمون ولري. له تېروتنو څخه د مخنیوي لپاره چې په دغو کچو کې د ناسمې محاسبې لامل کیږي، ځانګړې پاملرنه په کار ده. په دغو تېروتنو کې د شمولیتونو یا تکرار له حده ډېر راپور ورکول (په ځانګړې توګه لومړي ټولګي کې)، د نویو شاملینو، تکراروونکو او له یوه ټولګي څخه بل ټولګي یا له یوه ښوونځي څخه بل ښوونځي ته د انتقال شویو زده کوونکو ترمنځ نا سم تفکیک شامل دي.

## 2.6 تر شپږم ټولګي پورې د پاتې کېدو نسبت

**تعریف او هدف**

تر شپږم ټولګي پورې د پاتې کېدو کچه د هغو زده کوونکو د یوې برخې له تناسب څخه عبارت ده چې تر شپږم ټولګي پورې رسیږي او د یوه ښوونیز سایکل یا د ټاکلې دورې په لومړي ټولګي کې د شاملو شویو زده کوونکو د فیصدۍ په بڼه ښودل کیږي. دغه شاخص د هغې اندازې ښودلو لپاره کارول کیږي چې په کې د ښوونځي سیستم زده کوونکي له تکرار یا پرته له تکراره سره ساتي او هم د ښوونځي پرېښودو کچه ورښیي. همدارنګه دغه شاخص په داخلي اغېزمنتوب کې د ښوونځي پرېښودلو د اغېز سنجولو لپاره کارول کیږي.

**د محاسبې مېتود**

د هغو زده کوونکو ټول شمېر چې د زده کوونکو په هغې برخې پورې اړه لري چې د ابتدائی دورې تر شپږم ټولګي رسېدلي، د ښوونځي له پیل څخه د ټولو زده کوونکو پر شمېر(یانې هغه زده کوونکي چې ټول یوځای په لومړي ټولګي کې شامل شوي وو اوپه اول ټولګی کې سره ټولګی وال وو) وېشل کیږي او حاصل یې په ۱۰۰ کې ضربیږي.

معمولاً دغه شاخص د زده کوونکو د جریان له بیارغول شوي مدل څخه په استفادې رامنځته کیږي او لاندې معلوماتو ته اړتیا لري:

- د دوو پرله پسي کالو لپاره د ټولګي پربنسټ د شاملو شویو زده کوونکو شمېر
- د ښوونځي په دویم کال د ټولګي پر بنسټ د تکراروونکو شمېر.
- د ښوونځي په لومړي کال د بریالیو زده کوونکو شمېر.
- د زده کوونکو د انتقال خالص شمېر (اختیاري).

د زده کوونکو د بیا رغول شوي ماډل په اړه لا ډېر معلومات په هغه ضمیمه کې وګورئ چې د یونسکو له خوا د زده کوونکو د جریان ماډل لپاره په اکسېل پروګرا م کې د داخلي اغېزمنتوب اړوند ښوونیزو شاخصونو سره د پاتې کېدو کچې رامنځ ته کولو په موخه چمتو کړی دی.

د دې پروګرام د یوې کاپي د غوښتلو لپاره، د لاندې برېښنالیک له لارې اړیکه ونیسئ: aims@unescobkk.org

**د معلوماتو احتمالي سرچینې**

په دې اړه اړوند معلومات د ښوونځي د معلوماتو ثبتوني له سیستمونو، سروې ګانو او احصائیو څخه ترلاسه کولای شو.

**د معلوماتو ډلبندي**

کولای شو تر شپږم ټولګي د پاتې کېدو کچه یا نسبت د جنسیت، سیمې، ښار/ کلي، ټولنیزو او قومي ډلو، ژبنیو ډلو، معلولینو او نورو زیانمنو ډلو له مخې ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشریح**

کله چې د پاتې کېدو کچه ۱۰۰ سلنو ته نیږدې شي، لوړه کچه زده کوونکو د ساتلو او ټیټه کچه زده کړې پرېښودو ښکارندویي کوي. د پاتې کېدو کچه په بېلابېلو ټولګیو کې د زده کړو پرېښودونکو کچې لوړتیا او ټیټتیا ته په کتو، ښايي په بېلابېلو ټولګیو کې توپیر ولري. له تکرار سره مل یا پرته له تکرار څخه د پاتې کېدو کچې ترمنځ توپیرد ښوونځي پرېښودو او تکرارونو له امله د ضایعاتو کچې پرتله کولو لپاره هم مهم دی.

د ابتدائیه دورې تر شپږم ټولګي د پاتې کېدو کچه له ځانګړي اهمیت برخمنه ده، ځکه چې لرترلږه د ښوونځي د څلورو کالو بشپړول د سواد د ثبات لرونکي سطحې لپاره یو مخکې شرط ګڼل کیږي.

**محدودیتونه**

له دې امله چې د دې شاخص محاسبه د زده کوونکو د شمولیت جریان د اندازې له مخې ده، تر شپږم ټولګي د پاتې کېدو کچې اعتبار د وخت په تېرېدو او مختلفو ټولګیو کې د پوښښ له نظره د شمولیت او تکرارونو اړوند معلوماتو سره په سمون پورې اړه لري. له دې امله چې دغه شاخص د یوې برخې د تحلیل ماډل به کاروني سره ځینو فرضیو ته په کتو تحلیلیږي، د پرتلنې لپاره د هغه د پایلو په کارونه کې باید دقت وشي.

## 2.7 متوسطی دوری ته د انتقال کچه (TR)

**تعریف او هدف**

د انتقال کچه د زده کوونکو په هغي برخي پوري اړه لري چي د يوي دوري له وروستي ټولګي څخه د بلي دوري لومړي ټولګي ته ارتقا کوي او د تېرې دوري په وروستي ټولګي کي د شاملو زده کوونکو د فيصدۍ په بڼه ښودل کيږي. دغه شاخص لوړې دوري ته د لاسرسي کچه څرګندوي او د ښوونيزو مراتبو په لړۍ کي لوړې سطحي ته د برياليتوب سنجونه کوي. که چېرې له ټيټي ښوونيز دورې ورته وکتل شي، کولای شو د محصول يو شاخص يي وګڼو او که چېرې له لوړې ښوونيزې دورې ورته وکتل شي، د لاسرسي شاخص ګڼل کيږي.

**د محاسبې مېتود**

د يوې ښوونيزې دورې په لومړي ټولګي کي د نويو شاملو زده کوونکو شمېر د هغو زده کوونکو پر شمېر وېشل کيږي او حاصل يي په ۱۰۰ کي ضربيږي چي د تېرې دورې په آخری ټولګي کي شامل شوي وو.

$$TR_{\text{Pri to Sec}, t} = \frac{\text{New entrants to the first grade of the next higher level at school year t}}{\text{Number of pupils in the last grade of the previous level at school year t-1}} \times 100$$

که چېرې لوړو ټولګيو ته د نويو شاملو شويو زده کوونکو په اړه معلومات موجود نه وي، د تکراروونکو شمېر د بلي دوري په لومړي ټولګي کي د شموليتونو له ټول شمېر څخه منفي کوو ترڅو د بلي دوري لومړي ټولګي ته د نويو شاملينو شمېر ترلاسه شي. پايله يي د تېر کال د لومړي پړاو په وروستي ټولګي کي د زده کوونکو پر مجموعي شمېر وېشو:

$$TR_{\text{Pri to Sec}, t} = \frac{E - R}{\text{Number of pupils in the last grade of the previous level at school year t-1}} \times 100$$

1. E = Enrolment of the first grade of the next higher level at year t
2. R = Repeaters of the first grade of the next higher level at year t

په دې برخه کي معلومات د ښوونځيو د معلوماتو ثبتوني له سيستمونو، سروې ګانو او احصائيو څخه اخستلای شو.

**د معلوماتو ډلبندي**

کولای شو د انتقال کچه د جنسيت، زده کړو له سطحي او جغرافيايي ساحو (سيمه، ښار، کلی) له مخي ډلبندي کولای شو.

**د معلوماتو تشريح**

د انتقال لوړه اندازه له یوې ښوونیزې دورې څخه بلې هغې ته د پراخ لاسرسي یا انتقال ښکارندويي کوي. همدارنګه په بلې ښوونیزې دورې کې د جذب ظرفیت څرګندوي. برعکس، د انتقال ټيټه کچه د دوو ښوونیزو دورو ترمنځ د اړیکو په جوړولو کې د ستونزو ښکارندويي کوي.

**محدوديتونه**

دغه شاخصونه باید د نویو شاملینو(یا هم د شمولیتونو او تکرارونو په اړه) په اړه د کره او باوري معلوماتو له مخې وي په ځانګړې توګه د دورې په لومړي ټولګي یا د تعلیماتو په لوړه سطحه کې. د نویو شاملو شویو او تکراروونکو ترمنځ ناسم تفکیک په ځانګړې توګه د تعلیماتو د لوړې سطحې په لومړي ټولګي کې ښایي د دغو معلوماتو د ناسمي تشریح سبب شي. هغه زده کوونکي د زده کړو د ټيټې سطحې له بشپړولو وروسته یې ښوونځي ته تلل د یوه یا دوو کالو لپاره ځنډولي، همدارنګه انتقالي یا کډه شوي زده کوونکي هم کولای شي د دې شاخص کیفیت اغېزمن کړي.

## 2.8 په ابتدائیه دوره کې د روزل شویو ښوونکو فیصدي

زده کړه د ټولو لپاره په اړه جزئیات، ۶ عمومي هدف (کیفیت) وګورئ.

## 2.9 په ابتدائیه دوره کې د زده کوونکو – ښوونکو نسبت

زده کړه د ټولو لپاره په اړه جزئیات، ۶ عمومي هدف (کیفیت) وګورئ.

## 2.10 د پوهنې سکټور په برخه کې د ټولو لګښتونو د یوې فیصدۍ په توګه پر ابتدائیه دورې شوي لګښتونه

**تعریف او هدف**

پر ابتدائي دورې شوي عامه لګښتونه د پوهنې په اړه شویو عامه لګښتونو مجموعې د یوې فیصدي په توګه ښودل کیږي. دا موضوع ښيي چې حکومت پر لومړنیو زده کړو پانګونې ته څومره ژمن دی.
**د محاسبې مېتود او د اړتیا وړ معلومات**
په یوه ټاکلي کال کې پر ابتدائیه دوره شوي اوسني لګښتونه د پوهنې پرمخ شویو عامه لګښتونو پر مجموعې وېشو او حاصل یې په سلو کې ضربوو.

$$\text{د عامو لګښتونو فیصدي}_{pri,\,t} = \frac{\text{د ابتدائیه دورې پر پروګرامونو شوي عام لګښتونه}}{\text{په یوه کال کې پر پوهنې شوي ټول عام لګښتونه}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچینې**

کولای شو دغه معلومات د حکومت او سکټوري وزارتونو له بودیجوي راپورونو راټول کړو. له دې امله چې نه شو کولای معلومات له یوې سرچینې راټول کړو، له مختلفو سرچینو څخه د معلوماتو راټولونې ته اړتیا لرو.

**د معلوماتو ډلبندي**

ډېر احتمال شته چې دغه معلومات به په ملی کچه د لاسرسي وړ وي. خو په ځینو هېوادونو کې دغه معلومات په ولایتي کچه هم د لاسرسي وړ وي.

**د معلوماتو تشریح**

د پوهنې د ټولې بودجې د یوې برخې په توګه د ابتدائیه دورې د پروګرامونو په اړه د عامه لګښتونو لوړه فیصدي څرګندوي چې حکومت دغې برخې ته ډېر لومړیتوب ورکړی او ورسره علاقه لري.

**محدودیتونه**

له ټولو اړوند سرچینو څخه د معلوماتو په راټولولو کې د ستونزو له امله، د معلوماتو د ناسمې تشریح امکان شته. له همدې امله باید هڅه وشي چې معلومات له مختلفو سرچینو څخه راټول شي.

## ۲- ښوونیز پروګرام: (۳ هدف او ۴ هدف)

**د ژوند مهارتونو او د ټول عمر( Lifelong ) زده کړو شاخصونه څه ډول محاسبه کیږي.**

**سواد څه ډول محاسبه کیږي؟**

**د ښوونیز پروګرام موخې:**

د دې ښوونیزې غونډې په پای کې به ګډون کوونکي وکولای شي چې راټول شوي ښوونیز معلومات په انفرادي بڼه د ژوند مهمارتونو او د ټول عمر یا د لوړ عمر خاوندانو لپاره د شاخصونو او همدارنګه د سواد زده کړې شاخصونو پر بنسټ تجزیه او تحلیل کړي. هغوی باید وکولای شي خپله پوهه د دغه شان مثالونو په وړاندې کولو سره ثابته کړي.

**ګډون کوونکي به له دې برخې څه زده کړي؟**

- ګډون کوونکي باید زده کړي چې **د ژوند مهارتونو، د ټول عمر زده کړو او سواد زده کړې شاخصونو** د محاسبې لپاره کوم ډول معلوماتو ته اړتیا لري. هغوی باید خپله پوهه د هر یوه شاخص په اړه د مثالونو په وړاندې کولو سره ثابته کړي.
- ګډون کوونکي به **د ژوند مهارتونو، د ټول عمر زده کړو او سواد زده کړې شاخصونو** کارونه او اهداف زده کړي.
- ګډون کوونکي د **EMIS** د معلوماتو په کاروني سره د **د ژوند مهارتونو، د ټول عمر زده کړو او سواد زده کړې شاخصونو** کره محاسبه او مناسبه ګټه اخستنه زده کړي.

**فعالیتونه**

**۱- فعالیت: (۳- عمومي هدف د ژوند مهارتونو، د ټول عمر زده کړو او سواد زده کړې شاخصونو تعریف او هدف ګډون کوونکو ته روښانه کړې):** په پیل کې ګډون کوونکي د درېیم هدف له ښوونیزو شاخصونو یا د ژوند مهارتونو، ټول عمر زده کړو او سواد زده کړې سره پېژني. د معلوماتو هغه ډولونه چې د دغو شاخصونو د محاسبې لپاره ورته اړتیا ده، د روزونکي له خوا د پاورپاینټ پریزنټېشن له لارې وربښودل کیږي. ګډون کوونکي د هرې موضوع په مهمو بحثونو کې ونډه اخلي او د روزونکي پوښتنو ته په ځواب ویلو به د موضوعاتو په اړه خپل پوهاوی ثابت کړي. ګډون کوونکي هڅول کیږي چې خپلې پوښتنې له روزونکي څخه وکړي ترڅو د موضوع په اړه له لا ډېر درک او پوهاوي سره مرسته وشي.

**۲- فعالیت: (ګډون کوونکي د ژوند مهارتونو او ټول عمر زده کړو د شاخصونو محاسبې له لارو سره پېژني): د ژوند مهارتونو او د ټول عمر زده کړو شاخصونه او د هغوی د محاسبې مېتودونه به د روزونکي له خوا د پاورپاینټ پریزنټېشن له لارې ګډون کوونکو ته وړاندې شي.**

- د ځوانانو د سواد کچه (۱۵ تر ۲۴ کلنو)
- په تخنیکي او مسلکي زده کړو(TVET) کې د شمولیت ناخالصه کچه

- له لومړۍ دورې څخه منځنۍ او هغې څخه عالي یا لېسه دورې ته د انتقال کچې.

ګډون کوونکي د هرې موضوع په مهمو بحثونو کې ونډه اخلي او د روزونکي پوښتنو ته په ځواب ویلو به د موضوعاتو په اړه خپل پوهاوی ثابت کړي. ګډون کوونکي هڅول کیږي چې خپلې پوښتنې له روزونکي څخه وکړي ترڅو د موضوع په اړه له لا ډېر درک او پوهاوي سره مرسته وشي.

**۳- فعالیت: (ګروپي کار: ګډون کوونکي به د ژوند مهارتونو او ټول عمري زده کړو د شاخصونو محاسبه کولو لپاره د اړتیا وړ معلوماتو په ګوته کولو په موخه ګروپي کار ترسره کړي، دغه فعالیت به د روزونکي له خوا رهبری شي):** ګډون کوونکي به د دغو شاخصونو د محاسبې لپاره د اړتیا وړ پر مختلفو سرچینو کار وکړي او خپلې تجربې به شریکې کړي.

**۴- فعالیت: (کوچنۍ ازموینه: ګډون کوونکي به د ژوند مهارتونو او ټول عمري زده کړو د شاخصونو د هدف او کارونې په اړه کوچنۍ ازموینه ورکړي):** ګډون کوونکو ته به د ژوند مهارتونو او ټول عمري زده کړو د شاخصونو یو لېست ورکړل شي او ترې غوښتل کیږي چې د هر شاخص د اغېزناکې کارونې په اړه خپل معلومات بیان کړي.

**۵- فعالیت: (ګډون کوونکو ته د سواد زده کړې شاخصونو تعریف او اهداف ښودل کیږي):** په پیل کې د زریزې د پراختیایي موخو او زده کړه د ټولو لپاره د ۴- هدف اړوند شاخصونو کې شامل د سواد زده کړې شاخصونه تعریف او اهداف او د محاسبې لپاره یې د اړتیا وړ معلومات د روزونکي له خوا د پاورپاینټ پرېزنټېشن له لارې ګډونوالو ته وړاندې کیږي. وروسته ګډون کوونکي د هرې موضوع په مهمو بحثونو کې ونډه اخلي او د روزونکي پوښتنو ته په ځواب ویلو به د موضوعاتو په اړه خپل پوهاوی ثابت کړي. ګډون کوونکي هڅول کیږي چې خپلې پوښتنې له روزونکي څخه وکړي ترڅو د موضوع په اړه له لا ډېر درک او پوهاوي سره مرسته وشي.

**۶- فعالیت: (د سواد زده کړې شاخصونو د محاسبې مختلف ډولونه او طریقې ګډون کوونکو ته ښودل کیږي):** د سواد زده کړې شاخصونو د محاسبې مختلف مېتودونه او ډولونه د روزونکي له خوا د پاورپاینټ پرېزنټېشن له لارې ګډونوالو ته وړاندې کیږي.

- د لویانو د سواد کچه (له ۱۵ کالو پورته)
- د ځوانانو د سواد کچه (له ۱۵ تر ۲۴ کالو)
- د لویانو د سواد زده کړې لپاره د جنډر برابرۍ شاخصونه.

ګډون کوونکي د هرې موضوع په مهمو بحثونو کې ونډه اخلي او د روزونکي پوښتنو ته په ځواب ویلو به د موضوعاتو په اړه خپل پوهاوی ثابت کړي. ګډون کوونکي هڅول کیږي چې خپلې پوښتنې له روزونکي څخه وکړي ترڅو د موضوع په اړه له لا ډېر درک او پوهاوي سره مرسته وشي.

**د ټرېننګ وخت : اته ساعته (یوه ورځ)**

**د ښووونیز پروګرام اجنډا**

| وخت | فعالیت | د اړتیا وړ منابع |
|---|---|---|
| **۲- ښووونیز پروګرام: د ژوند مهارتونه او ټول عمري زده کړې( سواد)** | | |
| **لومړۍ ورځ** | | |

| | | |
|---|---|---|
| ۱ ساعت او ۱۵ دقیقي | د ژوند مهارتونو او ټول عمري زده کړو د شاخصونو محاسبه کولو د هدف او لارو په اړه د روزونکي له خوا مشارکتي لکچر او پاورپاینټ پریزنټېشن.<br>• د ځوانانو د سواد کچه (۱۵ تر ۲۴ کلنو)<br>• په تخنيکي او مسلکي زده کړو(TVET) کې د شموليت ناخالصه کچه<br>• له لومړی دورې څخه منځنی او هغې څخه عالي يا لېسه دورې ته د انتقال کچه. | – پروجکتور<br>– پاورپاينټ پرېزنټېشن |
| د چايو دمه (۱۵ دقيقي) | | |
| ۱ ساعت او ۱۵ دقيقي | ګروپي کار، بحثونه او موندني | – پروجکتور<br>– فليپ چارټ<br>– قلم او کتابچه |
| د غرمنۍ او لمانځه دمه (له ۱۲:۰۰ تر ۱:۰۰ ) | | |
| ۱ ساعت او ۳۰ دقيقي | کوچنۍ ازموينه: ګډون کوونکي به د ژوند مهارتونو او ټول عمري زده کړو د شاخصونو د هدف او کاروني په اړه کوچنۍ ازموينه ورکړي | – پروجکتور<br>– پاورپاينټ پرېزنټېشن |
| ۱ ساعت او ۳۰ دقيقي | د سواد زده کړې شاخصونو د محاسبې مختلف ډولونه مېتودونه د روزونکي له خوا د پاورپانيټ پريزنټېشن له لارې ګډونوالو ته وړاندې کيږي.<br>• د لويانو د سواد کچه (له ۱۵ کالو پورته)<br>• د ځوانانو د سواد کچه (له ۱۵ تر ۲۴ کالو)<br>• د لويانو د سواد زده کړې لپاره د جنډر برابرۍ شاخصونه.<br>(ګروپي کار او بحث) | – پروجکتور<br>– فليپ چارټ<br>– قلم او کتابچه |

## ۳- عمومي هدف: د ژوند مهارتونه او ټول عمري زده کړې

**له دې څخه ډاډ ترلاسه کول چې ټول لويان او ځوانان د خپلو اړتياوو پوره کولو لپاره مناسبو ښوونيزو پروګرامونو او ژوند مهارتونو ته لاسرسی لري.**

په ۱۹۹۰ کال، د Jomtien په اعلاميه کې د ژوند مهارتونه «د هغو اساسي ښوونيزو وسايلو او هغې اساسي بنسټيزې منځپانګې په توګه تعريف شوي چې انسانان د خپل ژوند د بقا، بشپړ ظرفيت لوړوني... او ژوند د کيفيت ښه کولو لپاره ورته

اړتیا لري.» یوه لسیزه وروسته، د عمل لپاره د ډاکار ۲۰۰۰ چوکاټ دغه تعریف نوی کړی او د ژوند مهارتونو لاری ته یي پراختیا ورکړه ترڅو د ښووني روزني د څلورو ستنو(زده کړه د پوهېدلو لپاره، زده کړه د سرته رسولو لپاره، زده کړه له یو بل سره او د نورو لپاره، او زده کړه د بقا لپاره) له لارې د پوهې، ارزښتونو، سلوک او مهارتونو ترلاسه کول په کې شامل شي. د دغو مهارتونو د لا ډېر وضاحت لپاره په یوه هڅه کې چې زده کړه د ټولو لپاره پروګرام به چوکاټ کې وړاندي شوه، دری ډلې په ګوته شوې چې عبارت دي له: **بنسټیز مهارتونه** (لوستل، لیکل، شمېرل او نور)، **رواني – ټولنیز مهارتونه** (تعاملي، فردي او میان فردي لکه د ستونزې حل، استازیتوب، مفاهمه، ګروپي کار او نور) او **عملي/ فعال مهارتونه** (په یوه ځانګړي مسلک یا د روغتیا په څېر ځانګړي سلوک لپاره اړوند لاسي مهارتونه). په دې باندې له پوهېدو سره چې د ژوند مهارتونه په مختلفو معناګانو وړاندې شوي، تمه کیږي چې په دې لاربسود کې د ځوانانو او لویانو د ښوونیزو او مهارتي اړتیاوو په اړه یو پراخ لیدلوری وړاندې شي. په داسې حال کې چې هېوادونو په شعوري بڼه دغه هدف ته د رسېدو لپاره خپلې هڅې چټکې کړې، تمه کیږي چې د زریزې د منځ ارزونه به د دې خبرې د سپیناوي لپاره یو فرصت وي چې ځوانان او لویان کومو مهارتونو ته اړتیا لري او دغه چاره باید څه ډول د ښووني روزني په ملي پلانونو کې ځای پرځای شي.

د **ټول عمري زده کړو مفهوم** دغه عمومي هدف پیاوړی کوي او ټینګار یې په شخصي، ټولنیزو، مدني یا کاري برخو کې د پوهې، مهارتونو او وړتیاوو د پیاوړتیا لپاره پر دایمي ښووني روزني دی. په همدې ترتیب، دغه تصور د ژوند ټولو برخو او پړاوونو ته پراخ شوی د ځوانانو او لویانو اړتیاوو ته په بڼه ورکولو او په یوه چټکه بدلېدونکې نړۍ کې د نویو اړینو مهارتونو د ودې لپاره حتمي او ځواکیز اهمیت لري.

د ښوونیز سیسټم په دغو ټولو برخو کې د پرمختګونو ارزوني لپاره په اړتیاوو ځان پوهولو په موخه، د لسیزو ترمنځ د ارزونو لپاره لا ډېر شاخصونه پېشنهاد شوي چې تردېره یې تمرکز د ځوانانو او لویانو د رواني – ټولنیزو مهارتونو او عملي مهارتونو ترمنځ د پراختیا او انکشاف اړوند شاخصونو باندې دی. په دې سند کې له ځوانانو څخه موخه له 15 تر 24 کلن او له لویانو څخه موخه له 25 کالو پورته عمر لرونکي کسان دي.

**د زریزې په پراختیایي موخو کې زده کړه د ټولو لپاره بنسټیز شاخصونه**

| 3 | د زریزې په پراختیایي موخو کې زده کړه د ټولو لپاره بنسټیز شاخصونه | د معلوماتو وړاندیز شوې ډلبندي (که چېرې معلومات موجود وي) | د معلوماتو سرچینه |
|---|---|---|---|
| 3.1 | د ځوانانو د سواد کچه (۱۵ تر ۲۴ کالو) | • جنسیت<br>• جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• نورې ټولنیزې او اقتصادي ډلبندۍ لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلولیت | • خېلخانه یي سروې ګانې<br>• د نفوس سرشمېرنه |

| 3 | د زريزې په پراختيايي موخو کې زده کړه د ټولو لپاره بنسټيز شاخصونه | د معلوماتو وړانديز شوې ډلبندي (که چېرې معلومات موجود وي) | د معلوماتو سرچينه |
|---|---|---|---|
| 3.2 | په عادي زده کړو، تخنيکي او مسلکي زده کړو(TVET) کې د ناخالص شموليت نسبت | • جنسيت<br>• جغرافيايي ساحه<br>• ښاري/ کليوالي<br>• نورې ټولنيزې او اقتصادي ډلبندۍ لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلوليت | • پوهنې وزارت<br>• کار وزارت<br>• د ځوانانو او سپورټ وزارت<br>• اړوند وزارتونه |
| 3.3 | له ابتدائی څخه متوسطی او له هغه څخه عالي يا لېسې دورې ته د لېږد يا انتقال کچه | • جنسيت<br>• د زده کړو درجه<br>• جغرافيايي ساحه<br>• ښاري/ کليوالي<br>• خصوصي/ عامه<br>• نورې ټولنيزې او اقتصادي ډلبندۍ لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلوليت | • د ښوونځي کلنۍ شمېرې<br>• خېلخانه يي سروې ګانې |

**د ځوانانو د سواد کچه**

**په دې اړه جزئيات زده کړه د ټولو لپاره ۴ هدف (سواد زده کړه) کې وګورئ**

### 3.2 د تخنيکي او مسلکي زده کړو(TVET) په برخه کې د ناخالص شموليت نسبت

**تعريف او هدف**

د ناخالص شموليت نسبت د ISCED له سطحې سره سم د تيوريک عمر له مخې د ټول نفوس په کچه له ۱۶ تر ۲۲ کالو عمر لرونکو زده کوونکو لپاره په تخنيکی او مسلکي زده کړو کې د شموليتونو شمېر له فيصدۍ څخه عبارت دی.

په مشغوليت او معشيت کې د ځوانانو او لويانو د ونده اخستو لپاره د لازمو مهارتونو رامنځته کولو لپاره د تخنيکي او مسلکي زده کړو تعليمات، زده کړه د ټولو لپاره تعليماتو په پروسه کې ځواکيز رول لري. دېته په کتو سره چې ګڼ شمېر ځوانان د لومړنيو زده کړو له سيستم څخه د منځنيو زده کړو سيستم ته انتقاليږي، د تخنيکي او مسلکي زده کړو فرصتونو د پراختيا لپاره اړتيا بايد په پام کې ونيول شي.

**د محاسبې مېتود او د اړتيا وړ معلومات**

$$\frac{\text{Number of enrolments in TVET at a particular age}}{\text{Total population of theoretical age}} \times 100\%$$

په ټاکلي عمر په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د شموليت کچه = (Number of enrolments in TVET at a particular age / Total population of theoretical age) x 100%

د نظری ژوند ټول نفوس يا جمعيت

**د معلوماتو احتمالي سرچيني**
د پوهني وزارت

**د معلوماتو ډلبندي**

تخنيکي او مسلکي زده کړو ته د ټولو ښځينه او نارينه ځوانانو د برابر لاسرسي کچي ته بايد پاملرنه وشي او په ګوښه شويو ټولنو کې دغه شان زده کړو ته د ځوانانو لپاره شته فرصتونو ته بايد اهميت ورکړل شي.

**د معلوماتو تشريح**

په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د ناخالص شموليت او ودې په حال کې کچې لوړ نسبت د دې څرګندونه کوي چې ځوانان د ابتدائی دوری له فراغت وروسته د دغه شان زده کړو له ترلاسه کولو برخمن کيږي.

**محدوديتونه**

په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د شموليت لوړې شمېرې د دې روښانه څرګندونه نه کوي چې نصاب د په ملي او نړيوالو بازارونو پورې اړه ولري (که څه هم د شموليتونو لوړه کچه له دغو کورسونو د ښې ګټه اخستنې بيانونکي ده). له دې سره، د هغو ځوانانو شمېر چې له دغو کورسونو فارغ کيږي او دنده ترلاسه کوي، په دې شاخص کې غبرګون نه مومي.

### 3.3 د لومړنيو زده کړو څخه منځنيو زده کړو او له منځنيو څخه عالي يا د لېسې زده کړو ته د انتقال کچه

**(زده کړه د ټولو لپاره(UPE) زده کړو هدف په اړه ۲.۲ شاخص وګورئ)**

**تعريف او هدف**

په يوه ټاکلي ښوونيز کال کې د عالي زده کړو په لومړي(لسم ) ټولګی کې د شاملو زده کوونکو شمېر، د منځنيو زده کړو په وروستي (نهم) ټولکی کی د شاملو زده کوونکو د شمېر د فيصدۍ په توګه ښودل کيږي. د مثال په توګه، منځنيو زده کړو ته د انتقال کچه د ابتدائيه دورې په وروستي ټولګي کې د ماشومانو له فيصدۍ څخه عبارت ده کوم چې راتلونکی کال د منځنيو زده کړو په لومړي کال کې شامليږي.

په دې شاخص کې د زده کړو له يوې دورې يا سطحې څخه بلې لوړې سطحې ته د لاسرسي يا انتقال کچې په اړه معلومات شامل دي. که چېرې د زده کړو له ټيټې کچې يا دورې څخه ورته وکتل شي، کولای شو د محصول يو شاخص يې وګڼو او که چېرې د زده کړو له لوړې کچې ورته وکتل شي، د لاسرسي شاخص ګڼل کيږي. همدارنګه په يوه تعليمي سيستم کې د برابرئ د ارزونې لپاره کولای شو د دې سنجونې له لارې يې وکاروو چې د زده کوونکو کومې ډلې په متوسطه او له هغه وروسته زده کړو کې له فرصتونو بې برخې کيږي.

**د محاسبې مېتود او د اړتیا وړ معلومات**

د یوې لوړې ښوونیزې دروې/ سطحې په لومړي ټولګي کې د نویو شاملینو شمېر(د شاملینو شمېر منفي د تکراروونکو شمېر) د هغو زده کوونکو پر شمېر وېشو چې د تېرکال د ښوونیزې دورې/ سطحې په وروستي ټولګي کې شامل شوي وو او حاصل یې په ۱۰۰ کې ضربوو.

$$TR = \frac{\text{New entrants to the first grade of the next higher level (year y)}}{\text{Pupils in the last grade of the previous level year (y-1)}} \times 100$$

که چېرې په راتلونکي لوړې سطحې کې د نویو شاملو شویو شمېره په لاسرسي کې نه وي، نو د بلې لوړې درجې له لومړي څخه د تکراوونکو شمېر منفي کړې. بیا یې حاصل د تېر کال د لومړی سطحې د لومړي ټولګي د ټولو زده کوونکو پر شمېر ووېشې.

$$TR = \frac{E^{I} - R}{\text{Pupils in the last grade of the previous level year (y-1)}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچینې**

د ښوونځي د معلوماتو ثبتوني سیستم، د ښوونځي سروې ګاني او احصائیه

**د معلوماتو تشریح**

د انتقال لوړه کچه له یوې ښوونیزې سطحې څخه بلې ښوونیزې سطحې ته د لاسرسي یا انتقال د لوړې کچې ښکارندویي کوي. همدارنګه د زده کړو بلې سطحې کې د شمولیت د ظرفیت څرګندونه هم کوي. برعکس، د انتقال ټیټه کچه، د دوو ښوونیزو سطحو یا دورو ترمنځ د اړیکو په جوړېدو کې د ستونزو ښکارندویي کوي او په دې پای ته رسېږي چې اشخاص د ټولنیزې عاید او ودې لپاره لږ اړین مهارتونه ترلاسه کوي.

**محدودیتونه**

د نویو شاملینو او تکراروونکو ترمنځ ناسم تفکیک، په ځانګړې توګه د عالي زده کړو په لومړي ټولګي کې ښایي د دغه شخاص په اړه د ناسم تفسیر لامل شي. هغه زده کوونکي چې د زده کړو د ټیټې کچې له بشپړولو وروسته د یوه یا څو کالو لپاره ښوونځي ته نه ورځي او همدارنګه انتقالي او کډه شوي زده کوونکي کولای شي د دغه شاخص کیفیت تر اغېزو لاندې راولي.

## ۴ عمومي هدف: سواد زده کړه

**تر ۲۰۱۵ کاله د لویانو د سواد په سطحه کې د ۵۰ سلنه ښه والي راتګ، په ځانګړې توګه د ښځو لپاره او هم بنسټیزو زده کړو ته متوازن لاسرسی او د لویانو لپاره د زده کړو دوام.**

سواد په اوږدمهاله کي د انسانانو د ودې لپاره يو ټاکوونکی او مهم عنصر دی او هم د هېوادونو او اشخاصو د ټولنيز او اقتصادي وضعيت ښه کولو لپاره يو مهم عامل کڼل کيږي. په عمومي توګه، د «سواد» په اصطلاح کي «حساب» يا د رياضي ساده محاسبې هم شاملې دي.

د زده کړه د ټولو لپاره اهدافو ته په لاسرسي کي د پرمختګ په اړه د يوه عمومي ليدلوري لرلو لپاره اړينه ده چي د پاليسی ببلابېل ګامونه او نور هغه اقدامات تر ارزونی لاندې ونيول شي چي د سواد او نورو غير رسمي اساسي ښونيزو پروګرامونو د ودې لپاره په پام کي نيول کيږي؛ ترڅو د لوی عمر ياني له ۱۵ کالو پورته عمر لرونکو مختلفو کتګوري زده کوونکو ښوونيزې اړتياوې پوره کړای شي. دغه ارزونه ښايي د سواد زده کړې له لومړنيو کورسونو پيل او د مهارتونو د ودې تر هغو پروګرامونو پورې ادامه پيدا کړي چي د سواد زده کړې يوه برخه لري. اړينه ده په دې اړه چي دغه شان پروګرامونو ته له دې پلوه ځانګړې پاملرنه وشي چي د ښځو، قومي او فرهنګي لږکيو، محرومو ټولنيزو ډلو او د ځانګړو اړتياوو نورو لرونکو زده کوونکو ښوونيزې اړتياوې څومره پوره کولای شي.

حکومتي چارواکي او د هغوی شريکان د اساسي سواد په پراختيا، د سواد له زده کړې وروسته فرصتونو او د لويانو لپاره د نورو زده کړو په دوام کي تر کومه حده بريالي وو؟ آيا دغه پروګرامونه د «سواد چاپېريالونو» په جوړونه کي بريالي وو او آيا دغو اهدافو ته د رسېدو لپاره کافي سرچيني او زيربناوې موجودې دي؟ هېوادونو ته بلنه ورکول کيږي چي د هغو ښوونيزو فرصتونو په اړه يو جامع تحليل وکړي چي د حکومتي ادارو، محلي چارواکو، نا دولتي موسسو، ټولنيزو سازمانونو، چاپي رسنيو او د خصوصي سکټور پروګرامونو له لارې چمتو کړي. د لويانو لپاره د اساسي تعليمي فعاليتونو په اړه د معلوماتو ترلاسه کول ترډېره يوه ننګونه ګڼل کيږي؛ خو کولای شو د ارزونې په پروسه کي د استادانو په ورګډولو سره دغه لړۍ رهبری کړو.

| 4 | د زريزې په پراختيايي موخو کي زده کړه د ټولو لپاره تعليماتو بنستيز شاخصونه | ډلبندي | د معلوماتو سرچينه |
|---|---|---|---|

| | | | |
|---|---|---|---|
| **4.1** | **د لويانو د سواد کچه (۱۵ کلن او له هغه پورته)** | • جنسيت<br>• جغرافيايي ساحه<br>• ښاري/ کليوالي<br>• نورې ټولنيزې او اقتصادي ډلبندی، لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلوليت | • د نفوس سرشمېرنه<br>• خېلخانه يي سروېګاني<br>• د سواد سروېګاني |
| **4.2** | **د ځوانانو د سواد کچه (له ۱۵ تر ۲۴ کالو)** | • جنسيت<br>• جغرافيايي ساحه<br>• ښاري/ کليوالي<br>• نورې ټولنيزې او اقتصادي ډلبندی، لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلوليت | • د نفوس سرشمېرنه<br>• خېلخانه يي سروېګاني<br>• د سواد سروې ګاني |
| **4.3** | **د لويانو د سواد زده کړې لپاره د جنډر يا جنسيت د برابرۍ شاخص** | • جغرافيايي ساحه<br>• ښاري/ کليوالي<br>• نورې ټولنيزې او اقتصادي ډلبندی، لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلوليت | • د نفوس سرشمېرنه<br>• خېلخانه يي سروې ګاني<br>• د سواد سروې ګاني |

### 4.1 د لويانو ( له ۱۵ کالو پورته) د ښوونيز سواد کچه

**تعريف او هدف**

د لويانو د سواد کچه د ۱۵ کلنو او له هغه څخه پورته هغه جمعيت له فيصدۍ څخه عبارت ده چې د ورځني ژوند په اړه يې يوه ساده شرحه لوستلې، ليکلې يا يې مفهوم درک کړی وي. دا د لومړنيو زده کړو سيستم او د لويانو د سواد زده کړې پروګرامونو په برخه کې د لاسته راوړنو د هغې مجموعي ښکارندويي کوي چې خلکو ته د سواد زده کړې مهارتونو د انتقال په لاره کې ترلاسه شوې ترڅو هغوی ته زمينه چمتو شي چې دغه مهارتونه په ورځنيو چارو کې د کاروني او له ليکل شويو کلمو څخه د ګټه اخستنې او تفهيم د دوام په موخه وکاروي. دغه شاخص په اوږدمهاله کې د رسمي او نا رسمي تعليمي سيستمونو د برياليتوب څرګندونه کوي.

**د محاسبې لار او د اړتیا وړ معلومات**

د ۱۵ کلنو او له هغه پورته باسواده لویانو شمېر د نفوس اړوند عمري کټګورۍ وېشو او حاصل یې په ۱۰۰ کې ضربوو.

| | | |
|---|---|---|
| **Adult Literacy Rate (15 years and above) =** | **Literate population aged 15 years and over in year t** / **Population aged 15 years and over in year t** | **x 100** |

**د معلوماتو احتمالي سرچینې**

کولای شو د سواد زده کړې اړوند معلومات د نفوسو له سرشمېرنې، خپلخانه یي سروې ګانو او د سواد زده کړې له سروې ګانو ترلاسه کړو. د جمعیت د مجموعي لپاره معلومات کولای شو له ملي احصائیو یا بېلګه ییزو سروې ګانو ترلاسه کړو. خو ټولې احصائیې او سروې ګانې د سواد ارزونې لپاره ټاکلې پوښتنې نه لري. په ځینو هېوادونو کې چې د سواد زده کړې پوښتنې په پام کې نه نیول کیږي، د یوه فرد ښوونیزې لاسته راوړنې (د تعلیماتو بشپړ کالونه) د سواد د وضعیت ارزونې لپاره د یوه وسیلې په توګه کارول کیږي. یوه دودیزه لاره دا ده چې هغه کسان چې ښوونځی یې نه دی لوستی، بېسواد، او هغوی چې تر شپږم ټولګي یې ښوونځی لوستی باسواد په پام کې نیول کیږي. د MICS, DHS, and LSMS په ګډون ډېری خپلخانه یي سروې ګانې، د سواد په اړه معلومات راټولوی چې کېدای شي د هغو هېوادونو لپاره بشپړوونکي معلومات چمتو کړي چې نوې احصائیې نه لري. خو تعریف یې الزاماً معیاري نه دی.

د سواد په اړه اکثریت شته معلومات د راپور ورکړل شوي سواد له مخې وي نه د ارزول شوي سواد له مخې او په ځینو برخو کې له نورو برخو څخه معلومات اخستل کیږي.

**د معلوماتو د ډلبندۍ اړوند مسایل**

ملي احصائیې تر ډېره د یوه هېواد د حقیقي تفصیلاتو لرونکې نه وي او له همدې امله ډېره مهمه ده چې د سواد اړوند احصائیې د فرعي ډلو پر بنسټ پر هغو محرومو ډلو له تمرکز سره واخستل شي چې غور ته اړتیا لري ترڅو د زده کړه د ټولو لپاره اهدافو پر لور د هغوی له پرمختګ څخه ډاډ ترلاسه شي. خو د هېوادونو ترمنځ شرایط توپیر لري او له همدې امله اړینه ده چې د هېوادونو پر بنسټ ټاکلې فرعي ډلې د لا ډېر احصائیوي تحلیل لپاره په ګوته شي. د مثال په توګه، ژبنې او قومي لږکۍ(اقلیتونه)، مذهبي ډلې یا معلولیت لرونکي کسان او هم د عمر، جنسیت یا جغرافیایي ساحې په شان دودیزې فرعي ډلې.

**د معلوماتو تشریح**

د لویانو ترمنځ د سواد لوړه کچه د لومړنیو زده کړو د یوه اغېزناک سیستم یا د لویانو لپاره د سواد زده کړې د داسې مؤثرو پروګرامونو د شتون څرګندونه کوي چې کولای شي د جمعیت یوه لویه برخه په خپل ورځني ژوند کې د لیکلیو کلمو(او ساده ریاضیکي محاسبو) د کارونې وړتیا ولري. له دې سره، د سواد کچه نه شي کېدای له ۱۰۰ سلنو ډېره شي.

د سواد زده کړې کچې تر ډېره د بې سوادۍ له کره شمېرو سره یوځای وړاندې او تحلیل کیږي. ځکه چې ممکن د سواد په برخه کې ښه والی د نفوسو د تغییر په حال کې جوړښتونو یا د بېسوادانو په شمېر کې له ډېروالي سره مل وي. د سواد زده کړې معیارونو ته د لاسرسي نه لرلو دلایلو کې ښایي د ښوونځي بې کیفیته زده کړې، په حاضرۍ کې د ستونزو لرل یا شپږم ټولګي ته له رسېدو وړاندې له ښوونځي څخه شړل کېدل شامل وي.

باید په یاد ولرو چې وروستۍ موخه یوازې له دې څخه ډاډ ترلاسه کونه نه ده چې د ځوانانو په ګډون باید ټول کسان لوستي یا سواد ولري، بلکې هغوی باید په سواد کې د تخصص لوړو کچو ته د رسېدو فرصت هم ولري ترڅو یې د ژوند کیفیت ښه شي. خو د سواد هغه کچه چې د دې تحلیل لپاره تر بحث لاندې ونیول شوه، په ټولنه کې د فعالیت په موخه د افرادو لپاره د سواد د اړتیا وړ کچې د کیفیت او کفایت سنجولو لپاره نه ده (http://unstats.un.org).

**محدودیتونه**

د سواد کچې سنجونه ښایي توپیر ولري او ممکن د یوې ساده پوښتنې لکه «سواد لرې که نه؟ » په پوښتلو سره ترسره شي یا هم د سواد د مهارتونو ارزونې له لارې. په ځینو برخو کې، سواد د نفوسو په شمېرلو کې له پوره خامۍ سره سنجول کیږي، هم د فردي ځرګندونو له لارې او هم د کورنۍ د سرپرست د ځرګندولو له لارې یا هم داسې فرضیې چې د (12) عمر لرونکي کسان سواد لري او له دې عمر ټیټ کسان بېسواده دي. خو د وخت په تېرېدو سره آن د سروې پرمهال د سواد د معلوماتو په پرتلنه کې د ستونزو رامنځته کېدو سبب کیږي.

د نفوسو او کورنیو د شمېرنې لپاره د ملګرو ملتونو اصولو او سپارښتنې هېوادونو ته وړاندیز کوي چې د تحصیلي لاسته راوړنو پر بنسټ له غیابي سنجونو ډډه وکړي. همدارنګه وړاندیز کوي چې د سواد پوښتنې باید د ملي سرشمېرنې او د کورنیو د سروې یا هم له سرشمېرنې وروسته د بېلګه اخستنې ارزونو د یوې برخې په توګه مطرح شي. د سواد په تعریف کې ستونزې، د سنجونې مشکلات او د سواد د احصائیو او سروې ګانو نه تکرارېدل سبب شوي چې دغه شاخص لومړنیو عمومي زده کړو ته د لاسرسي هدف اړوند ښوونیزو پایلو د ځارنې لپاره ضعیف شي(UNESCO 1998).

اړینه ده چې د سواد د کچې سنجونې د هغو نړیوالو معیارونو له تعریف سره سمون ولري چې پورته ذکر شول او تر هغه ځایه چې شونې وي، د سواد ارزونې د بېلګه اخستنې پر بنسټ د سواد د شمېرو او احصائیې د کیفیت لوړونې لپاره ترسره شي (UNESCO 1998).

هغې ژبې ته چې د سواد سنجونې لپاره کارول کیږي هم باید پاملرنه وشي. په ګڼ ژبو هېوادونو کې باید سواد هم په ګڼ ژبیزو چاپېریالونو کې په پام کې ونیول شي. په دې اړه له خلکو څخه د یوې ساده پوښتنې په کولو لکه «آیا لیکل او لوستل کولای شی؟» کولای شو د هغوی په مورنۍ ژبه مثبت ځواب او یا هم په رسمي یا ملي ژبه اشاره کولو سره منفي ځواب ترلاسه کړو. د سواد تعریف هم باید له دوديزو تقسیماتو ور ها خوا تشریح شي ترڅو یې مؤثریت ډېر شي.

## 4.2 د ځوانانو د سواد کچه (له ۱۵ تر ۲۴ کلنو)

**تعریف او هدف**

د ځوانانو د سواد کچه له ۱۵ تر ۲۴ کالو عمر لرونکي جمعیت له هغې فیصدۍ څخه عبارت ده چې د ورځني ژوند په اړه یوه ساده شرحه لوستلی، لیکلی او مفهوم یې واخستلای شي. دغه کچه د تېرو ۱۰ کالو په اوږدو کې د لومړنیو زده کړو سیستم د لاسته راوړنو د مجموعي ښکارندویي کوي. ترڅېره دغې چارې ته د ټولنیزو او اقتصادي پرمختګونو سنجونې په سترګه کتل کیږي، ځکه چې د لومړنیو او منځنیو زده کړو د سیستمونو د مؤثریت څرګندونه کوي. د لوستلو ناکافي سطحه په ټولنه کې د ځوانانو او لویانو د بریالي مشارکت پر وړاندې د خنډونو جوړېدو سبب کیږي.

**د محاسبې مېتود او لار**

په دې اړه د محاسبې دودیز مېتود دا دی چې له ۱۵ تر ۲۴ کالو عمر لرونکو باسواده کسانو شمېر په همدې عمري ډله کې د ټولو کسانو پر مجموعي شمېر وېشو او حاصل یې په ۱۰۰ کې ضربوو.

$$\text{Youth Literacy Rate (age 15-24 year olds)} = \frac{\text{Literate population aged 15-24 years old in year t}}{\text{Population aged 15-24 years old in year t}} \times 100$$

لکه څرنګه چې پورته یادونه وشوه، د ځوانانو د سواد معلومات د نفوس له سرشمېرنې، خېلخانه یې سروې ګانو او د سواد له سروې ګانو ترلاسه کیږي. د ټول نفوس لپاره معلومات له ملي سرشمېرنې یا بېلګه بیزو سروې ګانو ترلاسه کیږي.

**د معلوماتو ډلبندي**

د لویانو د سواد په اړه د هغو معلوماتو په څېر چې په لاسرسي کې وي، کولای شو دغه شاخص د جنسیت، سیمې، ښار/کلي، ټولنیزو او قومي ډلو، ژبنیو ډلو، معلولیتونو او زیانمنو ډلو له مخې ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشریح**

د ځوانانو د سواد لوړه کچه د لومړنیو زده کړو د داسې مؤثر سیستم څرګندونه کوي چې بریالی شوی ګڼ شمېر ځوانان په ورځني ژوند کې د متن لیکلو او ساده ریاضي محاسبو په سرته رسولو بریالي کړي. که چېرې د ځوانانو او لویانو د سواد کچه له یو بل سره پرتله کړو، د لویانو د ټولې مجموعې په پرتله د ځوان نسل د سواد په لاسته راوړنو کې پرمختګ څرګندوي. دغه شمېرې د حکومت لپاره په دې اړه پرېکړه کولو کې ګټورې واقع کېدای شي چې د سواد زده کړې پروګرامونه د کوم عمر لرونکې ډلې تر هدف لاندې نیسي.

**محدودیتونه**

لکه څرنګه چې د لویانو د سواد په برخه کې یادونه وشوه، دغه معلومات یوازې د ټاکل شویو کالونو او د جغرافیایي سیمو او علاقه لرونکو ډلو لپاره د سرشمېرنې او سروې ګانو د کالونو پربنسټ د لاسرسي وړ دي. په مختلفو هېوادونو کې د سواد

په اړه بېلابېل تعریفونو او پټو معلوماتو هم دغه معلومات له پرتلنې پاتې کړي دي. ځینې هېوادونو د ځوانانو د سواد لپاره د ۱۵ تر ۲۴ کلنو د نړیوال معیار له عمري ډلې خلاف نوري عمري ډلې ټاکلې دي.

### 4.3 د لویانو د سواد لپاره د جنسیت برابرۍ شاخص

**تعریف او هدف**

د جنسیت یا جنډر برابرۍ لپاره د سواد شاخص له ۱۵ کالو پورته کسانو لپاره د ښځو د سواد کچې نسبت د نرانو د سواد کچې څخه عبارت دی. دغه شاخص د نرانو په پرتله د سواد په زده کړه او ښځو لپاره په ښوونیزو فرصتونو کې د جنډر د برابرۍ په لوري ګامونه سنجوي. همدارنګه دغه شاخص په ښوونځیو کې د ګډون یوه فرضي پایله هم سنجوي او په ټولنه کې د ښځو د پیاوړتیا لپاره یو مهم شاخص دی. سواد پر خپل ژوند د کنټرول لرلو، واک لرلو او پراخې ښوونیزې نړۍ ته د لاسرسي لرلو لپاره د ښځو پیاوړي کولو په برخه کې یو بنسټیز مهارت دی.

**د محاسبې مېتود**

دغه شاخص د ۱۵ کلنو او له هغه پورته عمر لرونکو ښځو د سواد کچې په همدې عمري ډله کې د نرانو د سواد پر کچې له وېشلو او حاصل یې په ۱۰۰ کې له ضربولو ترلاسه کیږي.

**Gender Parity Index** **Adult female literacy rate**
د ځوانو ښځو د سواد کچه
**for Adult Literacy = -------------------------------------------------- x 100**
**Adult male literacy rate**
د ځوانو نرانو د سواد کچه

**د معلوماتو احتمالي سرچینې**

لکه څرنګه چې پورته یادونه وشوه، د لویانو د سواد لپاره د جنډر برابرۍ شاخص کولای شو د نفوس له سرشمېرنې، خېلخانه یي سروې ګانو او د سواد له سروې ګانو ترلاسه کړو. د ټول نفوس په اړه معلومات کولای شو له ملي سرشمېرنو او له بېلګه ییزو سروې ګانو ترلاسه کړو.

**د معلوماتو ډلبندي**

په هغه صورت کې چې معلومات په لاسرسي کې وي، کولای شو دغه شاخص د سیمې، ښار/کلي، ټولنیزو او قومي ډلو، ژبنیو ډلو، معلولیتونو او زیانمنو ډلو پر بنسټ ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشریح**

کله چې د سواد لپاره د جنډر د برابرۍ شاخص له ۱ سره مساوي عدد څرګند کړي، معنی یې دا ده چې د ښځو او نرانو د سواد کچه مساوي ده او له ۱ څخه ټیټ عدد د دې څرګندونه کوي چې ښځو د نرانو په پرتله د سواد لږ مهارتونه ترلاسه کړي او له ۱ څخه لوړه شمېره د دې څرګندونه کوي چې د باسواده نرانو شمېر له باسواده ښځو څخه کم دی. باید په یاد ولرو

چې د جنډر د برابرۍ د شاخص شمېره کېدای شي د ښځو او نرانو د ژوندانه د غوښتنو ترمنځ پر توپیر اغېز وکړي، په ځانګړې توګه هغو هېوادونو کې د لوړ عمر لرونکو ډلو لپاره چې ښځې يې د نرانو په پرتله اوږد منځنی عمر لري. په دې ډول برخو کې اړينه ده چې د سواد له پلوه د جنډر د برابرۍ شاخصونه د عمري ډلې پر بنسټ جوړ شي.

**محدوديتونه**

لکه څرنګه چې د لويانو د سواد په برخه کې يادونه وشوه، دغه معلومات يوازې د ټاکل شويو کالونو، جغرافيايي سيمو او علاقه لرونکو ډلو لپاره د سرشمېرنې او سروې ګانو د کال پر بنسټ د لاسرسي وړ دي. د مختلفو هېوادونو له خوا د سواد په اړه بېلابېل تعريفونه او پټ معلومات هم کولای شي دغه معلومات له پرتلنې وغورځوي.

## ۳- ښوونيز پروګرام [۵ – عمومي هدف]

## د جنسيت يا جنډر د برابرۍ شاخصونه څه ډول محاسبه کيږي؟

**د ښوونيز پروګرام موخې**

د دې ټرينګ په پای کې به ګډون کوونکي وکولای شي چې راټول شوي ښوونيز معلومات په انفرادي توګه د جنډر د برابرۍ شاخصونو په کاروني سره تحليل کړي. هغوی بايد وکولای شي چې د موضوع په تړاو خپله پوهېدنه د دغه ډول معلوماتو په اړه د مثالونو په وړاندې کولو ثابته کړي.

**ګډون کوونکي کوم ټکي زده کوي؟**

- ګډون کوونکي زده کوي چې د جنډر برابرۍ د شاخصونو محاسبه کولو لپاره کوم ډول معلوماتو ته اړتيا ده.
- هغوی خپله پوهه د هر شاخص په اړه د مثالونو په وړاندې کولو سره ثابته کړي.
- ګډون کوونکي به د جنډر د برابرۍ شاخصونو په هدف او د کاروني په څرنګوالي پوه شي.
- ګډون کوونکي به وکولای شي چې د **EMIS** معلوماتو په کاروني سره د جنډر برابرۍ شاخصونو کره محاسبه او د کاروني ډول زده کړي.

**فعاليتونه**

**۱ ـ فعاليت: (زده کړه د ټولو لپاره شاخصونو د ۵- عمومي هدف موخه او تعريف چې په کې د جنډر د برابرۍ شاخصونه هم شامل دي، ګډون کوونکو ته معرفي کيږي):** په پيل کې ګډون کوونکي زده کړه د ټولو لپاره ښوونيزو شاخصونو پنځم هدف چې د جنډر برابرۍ د شاخصونو تعريف او موخه ده، ګډون کوونکو ته ښودل کيږي. د معلوماتو هغه ډولونه چې د دغو شاخصونو د محاسبې لپاره ورته اړتيا ده، د روزونکي له خوا د پاورپاينټ پرېزنټېشن له لارې ورښودل کيږي. ګډون کوونکي د هرې موضوع په مهمو بحثونو کې ونډه اخلي او د روزونکي پوښتنو ته په ځواب ويلو به د موضوعاتو په اړه خپل پوهاوی ثابت کړي. ګډون کوونکي هڅول کيږي چې خپلې پوښتنې له روزونکي څخه وکړي ترڅو د موضوع په اړه له لا ډېر درک او پوهاوي سره مرسته وشي.

**۲ ـ فعاليت: (ګډون کوونکي د جنډر د برابرۍ شاخصونه له بېلابېلو ډلونو سره پيژني):** د جنډر د برابرۍ شاخصونه او د هغوی د محاسبې لارې د روزونکي له خوا د پاورپاينټ پرېزنټېشن له لارې ګډونوالو ته ورښودل کيږي.

- د لويانو د سواد لپاره د جنډر يا جنسيت برابرۍ شاخص

- دښوونځی نه مخکی زده کړی  پروګرامونو کې د شمولیت د ناخالصې کچې په اړه د جنډر برابرۍ شاخص
- په لومړنیو زده کړو کې د شمولیت ناخالصې کچې لپاره د جنډر برابرۍ شاخص
- په لومړنیو زده کړو کې د شمولیت د خالصې کچې لپاره د جنډر برابرۍ شاخص
- د جنډر د برابرۍ شاخص د لاندې ټکو لپاره:
  a) په لومړنیو زده کړو کې د ناخالص شمولیت نسبت
  b) په منځنیو زده کړو کې د ناخالص شمولیت نسبت
  c) په لیسه دوره کې د ناخالص شمولیت نسبت
- د جنډر د برابرۍ شاخص د لاندې ټکو لپاره:
  a) په لومړنیو زده کړو کې د خالص شمولیت نسبت
  b) په منځنیو زده کړو کې د خالص شمولیت نسبت
  c) په لیسه دوره کې د خالص شمولیت نسبت

ګډون کوونکي د هرې موضوع په مهمو بحثونو کې ونډه اخلي او د روزونکي پوښتنو ته په ځواب ویلو به د موضوعاتو په اړه خپل پوهاوی ثابت کړي. ګډون کوونکي هڅول کیږي چې خپلې پوښتنې له روزونکي څخه وکړي ترڅو د موضوع په اړه له لا ډېر درک او پوهاوي سره مرسته وشي.

**۳ـ فعالیت: (ګروپي کار: ګډون کوونکي د جنډر برابرۍ د شاخصونو محاسبه کولو لپاره د اړتیا وړ معلوماتو په ګوته کولو په موخه ګروپي کار ترسره کړي، دغه فعالیت به د روزونکي له خوا رهبری شي):** ګډون کوونکي به د دغو شاخصونو د محاسبې لپاره د اړتیا وړ پر مختلفو سرچینو کار وکړي او خپلې تجربې به شریکې کړي.

**۴ ـ فعالیت: (کوچنی ازموینه: ګډون کوونکي د جنډر برابرۍ د شاخصونو د هدف او کاروني په اړه کوچنی ازموینه ورکړي):**

ګډون کوونکو ته به د جنډر د برابرۍ  شاخصونو یو لېست ورکړل شي او ترې غوښتل کیږي چې د هر شاخص د اغېزناکې کاروني په اړه خپل معلومات بیان کړي.

**۵ ـ فعالیت: (د جنډر د برابرۍ او مساواتو اړوند شاخصونو ځینې نور ډولونه ګډون کوونکو ته وربښودل کیږي):** د جنډر د برابرۍ ځینې نور شاخصونه او د هغوی د محاسبې لارې د پاورپاینټ پرېزنټېشن په چوکاټ کې د روزونکي له خوا ګډون کوونکو ته وړپېژندل کیږي.

- تر شپږم ټولګي د پاتې کېدو لپاره د جنډر برابرۍ شاخص
- منځنیو یا متوسطه زده کړو ته د انتقال کچې لپاره د جنډر برابرۍ شاخص
- په لاندې برخو کې د ښځو د شمولیت فیصدي:
  a) لومړنۍ زده کړې
  b) منځنۍ زده کړې
  c) لیسې زده کړې
  d) تخنیکي او مسلکي زده کړې
- په لاندې برخو کې د ښځینه ښوونکو فیصدي:
  a) لومړنۍ زده کړې

b) منځنی زده کړې

c) لیسی زده کړی

d) تخنیکي او مسلکي زده کړي

- په لومړنیو او منځنیو زده کړو کې د تکراروونکو نجونو او هلکانو فیصدي.

ګډون کوونکي د هرې موضوع په مهمو بحثونو کې ونډه اخلي او د روزونکي پوښتنو ته په ځواب ویلو به د موضوعاتو په اړه خپل پوهاوی ثابت کړي. ګډون کوونکي هڅول کیږي چې خپلې پوښتنې له روزونکي څخه وکړي ترڅو د موضوع په اړه له لا ډېر درک او پوهاوي سره مرسته وشي.

**۶ ـ فعالیت: (ګروپي کار: ګډون کوونکي د جنډر برابری د شاخصونو محاسبه کولو لپاره د اړتیا وړ معلوماتو په ګوته کولو په موخه ګروپي کار ترسره کړي، دغه فعالیت به د روزونکي له خوا رهبری شي):** ګډون کوونکي به د دغو شاخصونو د محاسبې لپاره د اړتیا وړ پر مختلفو سرچینو کار وکړي او خپلې تجربې به شریکې کړي.

**۷ ـ فعالیت: (کوچنۍ ازموینه: ګډون کوونکي د جنډر برابرئ د شاخصونو د هدف او کاروني په اړه کوچنۍ ازموینه ورکړي):** ګډون کوونکو ته به د جنډر د برابرئ شاخصونو یو لېست ورکړل شي او ترې غوښتل کیږي چې د هر شاخص د اغېزناکې کاروني په اړه خپل معلومات بیان کړي.

**۸ ـ فعالیت: (زده کړه د ټولو لپاره شاخصونو د ۵ـ عمومي هدف موخه او تعریف چې په کې د جنډر د برابرئ شاخصونه هم شامل دي، ګډون کوونکو ته معرفي کیږي):** په پیل کې زده کړه د ټولو لپاره ښوونیزو شاخصونو پنځم هدف چې د جنډر برابرئ شاخصونو تعریف او موخه ده، ګډون کوونکو ته ښودل کیږي. د معلوماتو هغه ډولونه چې د دغو شاخصونو د محاسبې لپاره ورته اړتیا ده، د روزونکي له خوا د پاورپاینټ پرېزنټېشن له لارې ورښودل کیږي. ګډون کوونکي د هرې موضوع په مهمو بحثونو کې ونډه اخلي او د روزونکي پوښتنو ته په ځواب ویلو به د موضوعاتو په اړه خپل پوهاوی ثابت کړي. ګډون کوونکي هڅول کیږي چې خپلې پوښتنې له روزونکي څخه وکړي ترڅو د موضوع په اړه له لا ډېر درک او پوهاوي سره مرسته وشي.

**د ټریننګ وخت: 8 ساعته (1 ورځ)**

**د ښوونیز پروګرام (ټرېننګ) اجنډا**

| وخت | فعالیت | د اړتیا وړ منابع |
|---|---|---|
| | **۴ ـ ښوونیز پروګرام: د جنډر یا جنسیت د برابرئ شاخصونه** | |
| | **لومړۍ ورځ** | |
| ۱ ساعت او ۱۵ دقیقې | د روزونکي له خوا زده کړه د ټولو لپاره ښوونیزو اهدافو د ۵ ـ عمومي هدف چې عبارت د جنډر برابرئ څخه دی، د هغه د شاخصونو د تعریف، موخې او کاروني په اړه مشارکتي لکچر او پاورپاینټ پرېزنټېشن وړاندې کیږي. | – پروجکټور<br>– پاورپاینټ پرېزنټېشن |
| | **د چایو دمه (۱۵ دقیقې)** | |
| ۱ ساعت او ۱۵ دقیقې | د جنډر د برابرئ شاخصونه او د هغوی د محاسبې لارې د روزونکي له خوا د پاورپاینټ پرېزنټېشن له لارې ګډونوالو ته ورښودل کیږي.<br>• د لویانو د سواد لپاره د جنډر یا جنسیت برابرئ شاخص | – پروجکټور<br>– فلیپ چارټ<br>– قلم او کتابچه |

| | | |
|---|---|---|
| | • دښوونځی نه مخکې زده کړې پروګرامونو کې د شمولیت د ناخالصي کچې په اړه د جنډر برابرۍ شاخص<br>• په لومړنیو زده کړو کې د شمولیت ناخالصې کچې لپاره د جنډر برابرۍ شاخص<br>• په لومړنیو زده کړو کې د شمولیت د خالصې کچې لپاره د جنډر برابرۍ شاخص<br>• د جنډر د برابرۍ شاخص د لاندې ټکو لپاره:<br>a. په لومړنیو زده کړو کې د شمولیت ناخالص نسبت<br>b. په منځنیو زده کړو کې د شمولیت ناخالص نسبت<br>• د جنډر د برابرۍ شاخص د لاندې ټکو لپاره:<br>a. په لومړنیو زده کړو کې د شمولیت خالص نسبت<br>b. په منځنیو زده کړو کې د شمولیت خالص نسبت | |
| **د غرمنۍ او لمانځه دمه (له ۱۲:۰۰ تر ۱:۰۰ پورې)** | | |
| ۱ ساعت او ۳۰ دقیقې | ګروپي کار: ګډون کوونکي د جنډر برابرۍ د شاخصونو محاسبه کولو لپاره د اړتیا وړ معلوماتو په ګوته کولو په موخه ګروپي کار ترسره کړي، دغه فعالیت به د روزونکي له خوا رهبري شي | – پروجکټور<br>– پاورپاینټ پریزنټېشن |
| ۱ ساعت او ۳۰ دقیقې | کوچنۍ ازموینه: ګډون کوونکي د جنډر برابرۍ د شاخصونو د هدف او کارونې په اړه کوچنۍ ازموینه ورکړي. | – پروجکټور<br>– فلیپ چارټ<br>– قلم او کتابچه |
| **دویمه ورځ** | | |
| ۱ ساعت او ۱۵ دقیقې | د جنډر د برابرۍ ځینې نور شاخصونه او د هغوی د محاسبې لارې د پاورپاینټ پریزنټېشن په چوکاټ کې د روزونکي له خوا ګډون کوونکو ته وړپېژندل کیږي.<br>• تر شپږم ټولګي د پاتې کېدو لپاره د جنډر برابرۍ شاخص<br>• منځنیو یا متوسطه زده کړو ته د انتقال کچې لپاره د جنډر برابرۍ شاخص<br>• په لاندې برخو کې د ښځو د شمولیت فیصدي:<br>a) لومړنۍ زده کړې<br>b) منځنۍ زده کړې<br>c) د لیسې زده کړې<br>d) تخنیکي او مسلکي زده کړې<br>• په لاندې برخو کې د ښځینه ښوونکو فیصدي:<br>a) لومړنۍ زده کړې<br>b) منځنۍ زده کړې<br>c) د لیسې زده کړې<br>d) تخنیکي او مسلکي زده کړې | – پروجکټور<br>– پاورپاینټ پریزنټېشن |

| | | |
|---|---|---|
| | • په لومړنیو او منځنیو زده کړو کې د تکراروونکو نجونو او هلکانو فیصدي. | |
| | **د چایو دمه (۱۵ دقیقې)** | |
| ۱ ساعت او ۱۵ دقیقې | دوام: د پاورپاینټ پریزنټېشن له لارې لکچر او مشارکتي بحثونه | – پروجکټور<br>– فلیپ چارټ<br>– قلم او کتابچه |
| | **د غرمنۍ او لمانځه دمه (۱۲:۰۰ تر ۱:۰۰)** | |
| ۱ ساعت او ۳۰ دقیقې | ګروپي کار: ګډون کوونکي د جنډر برابرۍ د شاخصونو محاسبه کولو لپاره د اړتیا وړ معلوماتو په ګوته کولو په موخه ګروپي کار ترسره کړي، دغه فعالیت به د روزونکي له خوا رهبري شي | – پروجکټور<br>– پاورپاینټ پریزنټېشن |
| ۱ ساعت او ۳۰ دقیقې | کوچنۍ ازموینه: ګډون کوونکي د جنډر برابرۍ د شاخصونو د هدف او کارونې په اړه کوچنۍ ازموینه ورکړي. | – پروجکټور<br>– فلیپ چارټ<br>– قلم او کتابچه |

## ۵ عمومي هدف: د جنډر برابري او مساوات

**د لوړ کیفیت بنسټیزو زده کړو ته د نجونو پر بشپړ لاسرسي او په دې برخه کې د هغوی پر لاسته راوړنو له تمرکز سره تر ۲۰۰۵ کاله په لومړنیو او منځنیو زده کړو کې د جنډر د نابرابرۍ له منځه وړل او تر ۲۰۱۵ کاله د جنډر برابري ترلاسه کول.**

د «جنډر موخې» اهمیت او د ارزونې اړتیا هغه وخت روښانه کېږي چې په دې اړه روښانه پوهه ولرو چې «جنډر» او د «جنډر برابري» څه ده. «جنډر په ټولنه، فرهنګ او کورنیو کې د ښځو او نرانو له رولونو او مسؤلیتونو څخه عبارت دی. د جنډر په مفهوم کې د ښځو او نرانو د ځانګړنو، وړتیاوو او احتمالي چلند په اړه غوښتنې شاملېږي» (source: UNESCO Gender Toolkit).

جنډر یو روښانه جنسیتي تفکیک لري چې د ښځو او نرانو ترمنځ بیولوژیکي توپیرونه څرګندوي. «د جنډر برابري» دا معنی نه لري چې «ښځې او نران د اقتصادي، ټولنیزې، فرهنګي اوسیاسي ودې له ګټو څخه د برخمنتوب او د خپلو بشري حقونو د بشپړ تحقق لپاره مساوي وضعیت څخه برخمن وي». نو، معنی یې په هغو رولونو کې د ورته والي او توپیرونو په اړه د ټولنې له خوا مساویانه ارزښت ورکونه ده چې دوی یې ترسره کوي (source: UNESCO Gender Toolkit).

جنډر هغه موضوع ده چې د «زده کړه د ټولو لپاره» په ټولو اهدافو کې په پام کې نیول کېږي او د دې خطر شته چې که په یوه هدف کې له حده ډېره پاملرنه ورته وشي، ښايي په بل هدف کې له پامه ولوېږي. له دې خطر څخه د مخنیوي لپاره، د لسیزو ترمنځ د ټولو ارزونو په اړه د آسیا او آرام سمندر د ښوونې روزنې لارښود، په ټولو شپږو هدفونو کې د جنډر د شاخصونو ځای پرځای کولو هڅه کړې ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې جنډر د زده کړه د ټولو لپاره په ټولو برخو کې رعایت کېږي. د جنډر د احصائیوي معلوماتو له ډلبندۍ او ترهر هدف لاندې د جنډر د برابرۍ له سنجونې څخه ډاډ ترلاسه کول د هرې ارزونې یو مخکې شرط دی. خو، یوازې د جنډر برابري بسنه نه کوي بلکې وروستی هدف د لومړنیو او منځنیو زده کړو په هره دوره کې د لاسرسي(ښوونې روزنې کې د جنډر برابري)، کیفیت (په ښوونې روزنې کې د جنډر برابري)، پایلو

او لاسته راوړنو(د ښووني روزني له لارې د جنډر برابري) له نظره د جنډر واقعي برابرۍ په لوري د پرمختګونو سنجونه ده. له همدې امله، د دغو شخصونو تحلیل او تفسیر د دې هدف د پرمختګونو په ارزونه او سنجونه کې ډېر اهمیت لري.

**زده کړه د ټولو لپاره بنسټیز شاخصونه – د زریزې پراختیایي موخې**

| 5 | شاخصونه | ډېندي | د معلوماتو سرچینه |
|---|---|---|---|
| 5.1 | **د جنډر د برابرۍ شاخصونه:**<br>• **د لویانو سواد** | • جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• نورې ټولنیزې او اقتصادي ډلبندۍ، لکه:<br>a) قوم، ټبر<br>b) ژبه<br>c) معلولیت | • د ښوونځي کلنۍ احصائیه<br>• د نفوسو سرشمېرنه<br>• خپلخانه یي او خصوصي سروې ګانې |
| 5.2 | **د جنډر د برابرۍ شاخصونه:**<br>• **د دښوونځۍ نه مخکې زده کړې کې د شمولیت ناخالص نسبت** | | |
| 5.3 | **د جنډر د برابرۍ شاخصونه:**<br>• **په لومړنیو زده کړو کې د شمولیت ناخالصه کچه** | | |
| 5.4 | **د جنډر د برابرۍ شاخصونه:**<br>• **په لومړنیو زده کړو کې د شمولیت خالصه کچه** | | |
| 5.5 | **د جنډر د برابرۍ شاخصونه:**<br>• **په لومړنیو زده کړو کې د شمولیت ناخالص نسبت**<br>• **په منځنیو زده کړو کې د شمولیت ناخالص نسبت**<br>• **په لیسه دوره کې د شمولیت ناخالص نسبت** | | |
| 5.6 | **د جنډر د برابرۍ شاخصونه:**<br>• **په لومړنیو زده کړو کې د شمولیت خالص نسبت**<br>• **په منځنیو زده کړو کې د شمولیت خالص نسبت**<br>• **په لیسه دوره کې د شمولیت خالص نسبت** | | |
| 5.7 | **د جنډر د برابرۍ شاخصونه:**<br>• **تر شپږم ټولګي د پاتې کېدو کچه** | | |
| 5.8 | **د جنډر د برابرۍ شاخصونه:**<br>• **منځنیو زده کړو ته د انتقال یا کامیابېدو کچه**<br>• **د لیسه دورۍ ته د انتقال کچه** | | |
| 5.9 | **د ښځو د شمولیت فیصدي:**<br>• **په لومړنیو زده کړو کې**<br>• **په منځنیو زده کړو کې**<br>• **په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې** | • جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• عامه/خصوصي | • د ښوونځي کلنۍ احصائیه<br>• د مختلفو بنسټیزو معلوماتو راټولول |
| 5.10 | **د ښځینه ښوونکو فیصدي:**<br>• **په لومړنیو زده کړو کې**<br>• **په منځنیو زده کړو کې**<br>• **په لیسه دوره کې**<br>• **په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې** | | |
| 5.11 | **د لومړنیو او منځنیو زده کړو تکراروونکو نجونو او هلکانو فیصدي** | | |

## 5.1 د لويانو د سواد لپاره د جنډر برابرۍ شاخص

**تعريف او هدف**

د جنډر د برابرۍ شاخص د لويانو د نفوس ترمنځ د سواد په کچو کې د جنډر د توپيرونو ارزوني لپاره کارول کيږي. دغه شاخص د نرانو د سواد پر کچې د ښځو د سواد د کچې وېشلو له نسبت څخه محاسبه کيږي. دا به سمه نه وي چې د مطلقو شمېرو د نسبت لپاره د جنډر شاخص وکاروو، ځکه چې دا بايد د يوه نسبت په بڼه وړاندې شي. دغه شاخص د سواد په برخه کې د جنډر د برابرۍ په لوري پرمختګونه سنجوي او په ځانګړې توګه دغه سنجونه هغه مهال په سمه توګه ترسره کيږي چې د فرعي ډلو(لکه قوم، ټبر، اقتصادي - ټولنيز) پر بنسټ يې ډلبندي کړو.

**د محاسبې مېتود او د اړتيا وړ معلومات**

$$\text{د لويانو د سواد لپاره د جنډر برابرۍ شاخص} = \frac{\text{د ځوانو ښځو د سواد کچه}}{\text{د ځوانو نرانو د سواد کچه}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچينې**

معمولاً هېوادونه د سواد لپاره لومړني معلومات د سرشمېرنې پروسو له لارې ترلاسه کوي خو دغه معلومات تر ډېره د خپل ځان له خوا د سواد راپور ورکړل شويو تخمينونو سره تړاو لري. ځانګړې خپلخانه يي سروې ګاني هم کولای شي د سواد کچې څرګندولو په برخه کې مرسته وکړي مګر دا هم ډېرکله په محلي بڼه وي.

**د معلوماتو ډلبندي**

په هغه صورت کې چې معلومات موجود وي، کولای شو دغه شاخص د سيمې، ښار/ کلي، ټولنيزو او قومي ډلو، ژبنيو ډلو، معلولينونو او زيانمنو ډلو پر بنسټ ډلبندي کړو. خو په هغو برخو کې چې معلومات موجود نه وي، لپاره يې تر ټولو غوره لار د محلي شمېرو راپور ورکونه ده.

**د معلوماتو تشريح**

په هغه صورت کې چې پايله له ۱ څخه ټيټ عدد وي، د نرانو په ګټه د توپير څرګندونه کوي؛ خو که چېرې پايله له ۱ څخه ډېره وي، د ښځو په ګټه د توپير څرګندونه کوي او په هغه صورت کې چې پايله ۱ عدد ته نيږدې وي، د جنډر د برابرۍ ښکارندويي کوي. خو داسې هم فرض کولای شو چې که دغه شمېره د ۰.۹۷ او ۱.۰۳ اعدادو ترمنځ وي، د جنډر برابرۍ په شاخص کې نابرابري نه شته. د جنډر نابرابرۍ ډېرکله د لويانو د نفوس ترمنځ ډېره وي او دغه تشې بايد په تدريج سره د لومړنيو عمومي زده کړو له لارې داسې ډکه شي چې د ليدو وړ وي.

**محدوديتونه**

د جنډر برابرۍ شاخص د محاسبې لپاره، اړينه ده چې ډلبندي شوي معلومات موجود وي.

## 5.2 د ماشومتوب لومړۍ دورې ښوونه او روزنه کې د شموليت ناخالص نسبت لپاره د جنډر برابرۍ شاخص

**تعريف او هدف**

د ماشومتوب لومړۍ دورې ښوونه او روزنه کې د شمولیت ناخالص نسبت لپاره د جنډر برابرۍ شاخص منظمو لومړنیو زده کړو ته په لاسرسي کې د جنډر د توپیرونو ارزوني لپاره کارول کیږي. دغه شاخص د نجونو لپاره د ماشومتوب لومړۍ دورې ښوونه او روزنه کې د شمولیت ناخالص نسبت د کچې په توګه د هلکانو لپاره پر همدې کچې وېشلو له لارې محاسبه کیږي. په دې شاخص کې منظمو او د ښه کیفیت ښوونې او روزنې ته د ماشومانو له لاسرسي څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره د جنډر په طرف پرمختګونه سنجول کیږي.

**د محاسبې مېتود او د اړتیا وړ معلومات**

$$\text{Gender Parity Index for GER in ECCE} = \frac{\text{GER in ECCE (Female)}}{\text{GER in ECCE (Male)}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچینې**

معمولاً هېوادونه د دغه شاخص لپاره بنسټیز معلومات د EMIS د یوې برخې په توګه راټولوي. د جنډر پر بنسټ د دې ډول معلوماتو لرل د ښوونځی نه مخکی زده کړی لپاره د جنسیت برابرۍ شاخص محاسبه کولو ته لاره هواروي. که چېرې په راټولو شویو معلوماتو کې د ټولنیزو یا کورنیو مراقبتونو مرکزونه شامل نه وي، دغه موضوع باید یاده شي.

**د معلوماتو ډلبندي**

که چېرې معلومات موجود وي، کولای شو دغه شاخص د سیمې، ښار/ کلي، ټولنیزو او قومي ډلو، ژبنیو ډلو، معلولیتونو او زیانمنو ډلو پر بنسټ ډلبندي کړو. د ماشومتوب لومړۍ دورې په ښوونیزو او روزنیزو پروګرامونو کې د شمولیت ناخالص نسبت لپاره د خصوصي، عامه او ټولنیزو مرکزونو ترمنځ د جنډر برابرۍ شاخص پرتله کول به ډېر په زړه پورې وي.

**د معلوماتو تشریح**

په هغه صورت کې چې پایله له ۱ څخه ټیټ عدد وي، د نرانو په ګټه د توپیر څرګندونه کوي؛ خو که چېرې پایله له ۱ څخه ډېره وي، د ښځو په ګټه د توپیر څرګندونه کوي او په هغه صورت کې چې پایله ۱ عدد ته نیږدې وي، د جنډر د برابرۍ ښکارندویي کوي. خو داسې هم فرض کولای شو چې که دغه شمېره د ۰.۹۷ او ۱.۰۳ اعدادو ترمنځ وي، د جنډر برابرۍ په شاخص کې نابرابري نه شته. په ګڼو هېوادونو کې وینو چې نجوني ترډېره په دولتي یا ټولنیزو تعلیمي مرکزونو کې شاملیږي حال دا چې هلکان په خصوصي او ډېر لګښت لرونکو مرکزونو کې په زده کړو بوخت وي.

**محدودیتونه**

د جنډر برابرۍ شاخص د محاسبه کولو لپاره اړینه ده چې ډلبندي شوي معلومات موجود وي.

## 5.3 په لومړنیو زده کړو کې د شمولیت د ناخالصي کچې لپاره د جنډر برابرۍ شاخص

**تعریف او هدف**

په لومړنیو زده کړو کې د شمولیت د ناخالصي کچې لپاره د جنډر برابرۍ شاخص د نجونو او هلکانو ترمنځ د شمولیت په کچو کې د جنډر توپیرونو ارزوني لپاره کارول کیږي. دغه شاخص د نجونو لپاره د شمولیت د ناخالصي کچې د یوه نسبت په توګه د هلکانو لپاره پر همدې کچې د وېشلو له لارې محاسبه کیږي. د ښوونکو د شمېر، د شمولیتونو شمېر او نورو مطلقو شمېرو لپاره د جنډر برابرۍ شاخص په توګه د دغه شاخص څرګندول تېروتنه ده. په دې شاخص کې لومړنیو زده کړو ته په شمولیتونو کې د جنډر برابرۍ په طرف پرمختګونه سنجول کیږي.

**د محاسبې مېتود او د اړتیا وړ معلومات**

$$\text{Gender Parity Index for GIR in Primary Education} = \frac{\text{GIR in Primary Education (Female)}}{\text{GIR in Primary Education (Male)}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچینې**

معمولاً هېوادونه د دغه شاخص لپاره بنسټیز معلومات د EMIS د یوې برخې په توګه راټولوي. د MICS یا DHS په څېر ملي سروې ګانې هم کېدای شي د EMIS لپاره مقایسوي شمېرې چمتو کړي. همدارنګه محلي سروې ګانې هم د ټاکلي محلي نفوس په اړه د تفصیلاتو راټولونې لپاره زمینه چمتو کوي.

**د معلوماتو ډلبندي**

که چېرې معلومات موجود وي، کولای شو دغه شاخص د سیمې، ښار/ کلي، ټولنیزو او قومي ډلو، ژبنیو ډلو، معلولیتونو او زیانمنو ډلو پر بنسټ ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشریح**

په هغه صورت کې چې پایله له ۱ څخه ټیټ عدد وي، د نرانو په ګټه د توپیر څرګندونه کوي؛ خو که چېرې پایله له ۱ څخه ډېره وي، د ښځو په ګټه د توپیر څرګندونه کوي او په هغه صورت کې چې پایله ۱ عدد ته نیږدې وي، د جنډر د برابرۍ ښکارندویي کوي. خو داسې هم فرض کولای شو چې که دغه شمېره د ۰.۹۷ او ۱.۰۳ اعدادو ترمنځ وي، د جنډر برابرۍ په شاخص کې نابرابري نه شته.

**محدودیتونه**

د جنډر برابرۍ شاخص د محاسبه کولو لپاره اړینه ده چې ډلبندي شوي معلومات موجود وي.

## 5.4 په لومړنيو زده کړو کې د شموليت د خالصي کچې لپاره د جنډر برابرۍ شاخص

**تعريف او هدف**

په لومړنيو زده کړو کې د شموليت د خالصي کچې لپاره د جنډر برابرۍ شاخص د شموليت د مناسب عمر پر بنسټ د جنډر توپيرونو ارزوني لپاره کارول کيږي. دغه شاخص د نجونو لپاره د شموليت د خالصي کچې د يوه نسبت په توګه د هلکانو لپاره د شموليت پر خالصي کچې وېشلو له لارې محاسبه کيږي.

**د محاسبې مېتود او د اړتيا وړ معلومات**

$$\text{Gender Parity Index for NIR in Primary Education} = \frac{\text{NIR in Primary Education (Female)}}{\text{NIR in Primary Education (Male)}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچينې**

معمولاً هېوادونه د دغه شاخص لپاره بنسټيز معلومات د EMIS د يوې برخې په توګه راټولوي. د MICS يا DHS په څېر ملي سروې ګانې هم کېدای شي د EMIS لپاره مقايسوي شمېرې چمتو کړي. همدارنګه محلي سروې ګانې هم د ټاکلي محلي نفوس په اړه د تفصيلاتو راټولوني لپاره زمينه چمتو کوي.

**د معلوماتو ډلبندي**

که چېرې معلومات موجود وي، کولای شو دغه شاخص د سيمې، ښار/ کلي، ټولنيزو او قومي ډلو، ژبنيو ډلو، معلوليتونو او زيانمنو ډلو پر بنسټ ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشريح**

په هغه صورت کې چې پايله له ۱ څخه ټيټ عدد وي، د نرانو په ګټه د توپير ځرګندونه کوي؛ خو که چېرې پايله له ۱ څخه ډېره وي، د ښځو په ګټه د توپير ځرګندونه کوي او په هغه صورت کې چې پايله ۱ عدد ته نيږدې وي، د جنډر د برابرۍ ښکارندويي کوي. خو داسې هم فرض کولای شو چې که دغه شمېره د ۰.۹۷ او ۱.۰۳ اعدادو ترمنځ وي، د جنډر برابرۍ په شاخص کې نابرابري نه شته. د شموليت له خالصي کچې څخه ګټه اخستنه د نجونو او هلکانو په شموليت کې د عمري توپيرونو په اړه له روښانه ګټو او نيمګړتياوو سره مل يو داسې ليدلورى وړاندې کوي چې د يوه ټاکلي جنس يا مخالف جنس لپاره وي.

**محدوديتونه**

د جنډر برابرۍ شاخص د محاسبه کولو لپاره اړينه ده چې ډلبندي شوي معلومات موجود وي.

## 5.5 د جنډر د برابرۍ شخصونه:

- **په لومړنیو زده کړو کې د شمولیت د ناخالص نسبت لپاره**
- **په منځنیو زده کړو کې د شمولیت د ناخالص نسبت لپاره**

**تعریف او هدف**

په لومړنیو او منځنیو زده کړو کې د شمولیت د ناخالص نسبت لپاره د جنډر د برابرۍ شاخص معمولاً د لومړنیو او منځنیو زده کړو په ناخالص شمولیت کې د جنډر توپیرونو ارزونې لپاره کارول کیږي. دغه شاخص د نرانو په پرتله د ښځو لپاره لومړنیو عمومي زده کړو ته د لاسرسي، ګډون او سواد په څېر ساحو کې د جنډر برابرۍ په لوري پرمختګونه سنجوي.

**د محاسبې مېتود او د اړتیا وړ معلومات**

**GPI for GER in Primary Education:**

$$\text{Gender Parity Index for GER in Primary Education} = \frac{\text{GER in Primary Education (Female)}}{\text{GER in Primary Education (Male)}} \times 100$$

**GPI for GER in Secondary Education:**

$$\text{Gender Parity Index for GER in Secondary Education} = \frac{\text{GER in Secondary Education (Female)}}{\text{GER in Secondary Education (Male)}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچینې**

معمولاً هېوادونه د دغه شاخص لپاره بنسټیز معلومات د EMIS د یوې برخې په توګه راټولوي. د MICS یا DHS په څېر ملي سروې ګانې هم کېدای شي د EMIS لپاره مقایسوي شمېرې چمتو کړي. همدارنګه محلي سروې ګانې هم د ټاکلي محلي نفوس په اړه د تفصیلاتو راټولونې لپاره زمینه چمتو کوي.

**د معلوماتو ډلبندي**

که چېرې معلومات موجود وي، کولای شو دغه شاخص د سیمې، ښار/ کلي، ټولنیزو او قومي ډلو، ژبنیو ډلو، معلولیتونو او زیانمنو ډلو پر بنسټ ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشریح**

په هغه صورت کې چې پایله له ۱ څخه ټیټ عدد وي، د نرانو په ګټه د توپیر څرګندونه کوي؛ خو که چېرې پایله له ۱ څخه ډېره وي، د ښځو په ګټه د توپیر څرګندونه کوي او په هغه صورت کې چې پایله ۱ عدد ته نیږدې وي، د جنډر د برابرۍ ښکارندویي کوي. خو داسې هم فرض کولای شو چې که دغه شمېره د ۰.۹۷ او ۱.۰۳ اعدادو ترمنځ وي، د جنډر برابرۍ په شاخص کې نابرابري نه شته. باید په یاد ولرو چې که چېرې دغه شمېره ۰.۹۹ وي، تقریباً د نابرابرۍ نه شتوالی څرګندوي او کولای شو ښه یې وګڼو، مګر دا الزاماً د یوه روغ ښوونیز سیستم څرګندونه نه کوي. په لومړنیو زده کړو کې

د شمولیت د ناخالص نسبت لپاره د جنډر برابرئ شاخص کېدای شي ۰.۹۹ سلنه وي مګر واقعي شمولیت هم د نجونو او هم هلکانو لپاره ۵۰ سلنه دی. د شمولیت د خالصې او ناخالصې کچې لپاره د جنډر د برابرئ شاخصونو ترمنځ هر ډول توپیر د نجونو او هلکانو د ناوخته شمولیت یا هم د ټولګیو له تکرار څخه وروسته د اوړدې مودې لپاره د نجونو یا هلکانو د ساتلو پایله کېدای شي.

**محدودیتونه**

د جنډر برابرئ د شاخص محاسبه کولو لپاره اړینه ده چې ډلبندي شوي معلومات شتون ولري.

## 5.6 د جنډر یا جنسیت د برابرئ شاخص

- **په لومړنیو زده کړو کې د شمولیت خالصه کچه**
- **په منځنیو زده کړو کې د شمولیت خالصه کچه**
- **په لیسه دوره  کې د شمولیت خالصه کچه**

**تعریف او هدف**

په لومړنیو او منځنیو زده کړو کې د شمولیت د خالص نسبت لپاره د جنډر د برابرئ شاخص د لومړنیو او منځنیو زده کړو په خالصو شمولیتونو کې د جنډر توپیرونو ارزونې لپاره کارول کیږي. دغه شاخص د ابتدائیه او متوسطه دورو په شمولیتونو کې د جنډر د برابرئ په لوري پرمختګونه سنجوي.

**د محاسبې مېتود او د اړتیا وړ معلومات**

**GPI for NER in Primary Education:**

$$\text{Gender Parity Index for NER in Primary Education} = \frac{\text{NER in Primary Education (Female)}}{\text{NER in Primary Education (Male)}} \times 100$$

**GPI for NER in Secondary Education:**

$$\text{Gender Parity Index for NER in Secondary Education} = \frac{\text{NER in Secondary Education (Female)}}{\text{NER in Secondary Education (Male)}} \times 100$$

**GPI for NER in High Secondary Education:**

$$\text{Gender Parity Index for NER in High Secondary Education} = \frac{\text{NER in High Secondary Education (Female)}}{\text{NER in High Secondary Education (Male)}} \times 100$$

اړینه ده چې هېوادونه په روښانه توګه په منځنیو زده کړو کې د کارول شویو معلوماتو پرامترونه تعریف او همدارنګه روښانه کړي چې آیا دغه معلومات یوازې د متوسطه دورې نه د ثېتي دورې لپاره دي که نه د تعلیمي دورې په ټولو سطحو او ټولګیو کې کې هم باید په روښانه توګه ذکر شي.

**د معلوماتو احتمالي سرچینې**

معمولاً هېوادونه د دغه شاخص لپاره بنسټيز معلومات د EMIS د يوې برخې په توګه راټولوي. د MICS يا DHS په څېر ملي سروې ګانې هم کېداى شي د EMIS لپاره مقايسوي شمېرې چمتو کړي. همدارنګه محلي سروې ګانې هم د ټاکلې محلي نفوس په اړه د تفصيلاتو راټولونې لپاره زمينه چمتو کوي.

**د معلوماتو ډلبندي**

که چېرې معلومات موجود وي، کولاى شو دغه شاخص د سيمې، ښار/ کلي، ټولنيزو او قومي ډلو، ژبنيو ډلو، معلوليتونو او زيانمنو ډلو پر بنسټ ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشرېح**

په هغه صورت کې چې پايله له ۱ څخه ټيټ عدد وي، د نرانو په ګټه د توپير څرګندونه کوي؛ خو که چېرې پايله له ۱ څخه ډېره وي، د ښځو په ګټه د توپير څرګندونه کوي او په هغه صورت کې چې پايله ۱ عدد ته نيږدې وي، د جنډر د برابرۍ ښکارندويي کوي. خو داسې هم فرض کولاى شو چې که دغه شمېره د ۰.۹۷ او ۱.۰۳ اعدادو ترمنځ وي، د جنډر برابرۍ په شاخص کې نابرابري نه شته. بايد په ياد ولرو چې که چېرې دغه شمېره ۰.۹۹ وي، تقريباً د نابرابرۍ نه شتوالی څرګندوي او کولاى شو ښه يې وګڼو، مګر دا الزاماً د يوه روغ ښوونيز سيستم څرګندونه نه کوي. په لومړنيو زده کړو کې د شموليت د ناخالص نسبت لپاره د جنډر برابرۍ شاخص کېداى شي ۰.۹۹ سلنه وي مګر واقعي شموليت هم د نجونو او هم هلکانو لپاره ۵۰ سلنه دی. د شموليت د خالصې او ناخالصې کچې لپاره د جنډر د برابرۍ شاخصونو ترمنځ هر ډول توپير د نجونو او هلکانو د ناوخته شموليت يا هم د ټولګيو له تکرار څخه وروسته د اوږدې مودې لپاره د نجونو يا هلکانو د ساتلو پايله کېداى شي.

**محدوديتونه**

د جنډر برابرۍ د شاخص محاسبه کولو لپاره اړينه ده چې ډلبندي شوي معلومات شتون ولري.

## 5.7 تر شپږم ټولګي د پاتې کېدو لپاره د جنډر برابرۍ شاخص

**تعريف او هدف**

تر شپږم ټولګي پورې د پاتې کېدو کچه د لومړنيو زده کړو په بشپړولو کې د جنډر توپيرونو ارزونې لپاره کارول کيږي. کولاى شو دغه شاخص په لومړنيو زده کړو کې د ښځو د پاتې کېدو د نسبت په توګه په لومړنيو زده کړو کې د نرانو د پاتې کېدو پر نسبت د وېشلو له لارې محاسبه کړو. د جنډر د برابرۍ شاخص له ښوونځي څخه د پاتې کېدو کچې له پلوه د جنډر پرتلنې نسبت د زده کړو په بشپړولو کې د جنډر د نابرابرۍ يو روښانه تصوير څرګندوي.

**د محاسبې مېتود او د اړتیا وړ معلومات**

$$\text{Gender Parity Index for Survival rate to Grade 6} = \frac{\text{Survival rate to Grade 6 (Female)}}{\text{Survival rate to Grade 6 (Male)}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچيني**

معمولاً هېوادونه د دغه شاخص لپاره بنسټيز معلومات د EMIS د يوې برخې په توګه راټولوي. د MICS يا DHS په څېر ملي سروې ګانې هم کېدای شي د EMIS لپاره مقايسوي شمېرې چمتو کړي. همدارنګه محلي سروې ګانې هم د ټاکلي محلي نفوس په اړه د تفصيلاتو راټولوني لپاره زمينه چمتو کوي.

**د معلوماتو ډلبندي**

که چېرې معلومات موجود وي، کولای شو دغه شاخص د سيمې، ښار/ کلي، ټولنيزو او قومي ډلو، ژبنيو ډلو، معلوليتونو او زيانمنو ډلو پر بنسټ ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشرېح**

په هغه صورت کې چې پايله له ۱ څخه ټيټ عدد وي، د نرانو په ګټه د توپير څرګندونه کوي؛ خو که چېرې پايله له ۱ څخه ډېره وي، د ښځو په ګټه د توپير څرګندونه کوي او په هغه صورت کې چې پايله ۱ عدد ته نيږدې وي، د جنډر د برابرئ ښکارندويي کوي. خو داسې هم فرض کولای شو چې که دغه شمېره د ۰.۹۷ او ۱.۰۳ اعدادو ترمنځ وي، د جنډر برابرئ په شاخص کې نابرابري نه شته. ډېر زيات احتمال شته چې د فرعي نفوس ترمنځ مختلفې کچې شته وي او په هغه صورت کې چې د EMIS اوسنی سيستم د معلوماتو په توليد بريالی نه شي، کولای شو د سروې ګانو له معلوماتو ګټه واخلو.

**محدوديتونه**

د جنډر برابرئ د شاخص محاسبه کولو لپاره اړينه ده چې ډلبندي شوي معلومات شتون ولري.

## 5.8 متوسطه زده کړو ته د انتقال لپاره د جنډر برابرئ شاخص

**تعريف او هدف**

منځنيو يا متوسطه زده کړو ته د انتقال کچو لپاره د جنډر برابرئ شاخص د نجونو لپاره د انتقال کچه د يوه نسبت په توګه د هلکانو لپاره د انتقال پر کچه د وېشلو لپاره محاسبه کيږي. دغه شاخص د لومړنيو زده کړو په بشپړولو او منځنيو زده کړو ته د شموليت په برخه کې د جنډر برابرئ په لوري پرمختګونه سنجوي او نه بايد منځنيو زده کړو ته د شموليت په عمومي کچو کې د جنډر له برابرئ سره اشتباه ونيول شي.

**د محاسبې مېتود او د اړتيا وړ معلومات**

$$\text{Gender Parity Index for Transition rate to Secondary Education} = \frac{\text{Transition rate to Secondary Education (Female)}}{\text{Transition rate to Secondary Education (Male)}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچينې**

معمولاً هېوادونه د ياد شاخص لپاره اساسي معلومات راټولوي. د جنډر پر بنسټ د دې ډول معلوماتو شتون د دغو شاخصونو لپاره د جنډر برابرۍ شاخصونو د محاسبې لپاره زمينه چمتو کوي. د لا ډېرو جزئياتو لپاره «د معلوماتو احتمالي سرچينو» ځانګې ته ورشئ او هر شاخص په ځانګړې توګه وګورئ.

**د معلوماتو ډلبندي**

که چېرې معلومات موجود وي، کولای شو دغه شاخص د سيمې، ښار/ کلي، ټولنيزو او قومي ډلو، ژبنيو ډلو، معلوليتونو او زيانمنو ډلو پر بنسټ ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشريح**

په هغه صورت کې چې پايله له ۱ څخه ټيټ عدد وي، د نرانو په ګټه د توپير ښکارندونه کوي؛ خو که چېرې پايله له ۱ څخه ډېره وي، د ښځو په ګټه د توپير څرګندونه کوي او په هغه صورت کې چې پايله ۱ عدد ته نيږدې وي، د جنډر د برابرۍ ښکارندويي کوي. خو داسې هم فرض کولای شو چې که دغه شمېره د ۰.۹۷ او ۱.۰۳ اعدادو ترمنځ وي، د جنډر برابرۍ په شاخص کې نابرابري نه شته. دېته په کتو سره چې ګڼ شمېر ماشومان د لومړنيو زده کړو په وروستي کال کې د وروستۍ ازموينې له ورکړې پرته ښوونځی پرېږدي، د جنډر برابرۍ شاخص د انتقال کچې د پاليسيو د احتمالي تحليل او ګامونو په اړه ژور ليدلوری چمتو کوي.

**محدوديتونه**

د جنډر برابرۍ د شاخص محاسبه کولو لپاره اړينه ده چې ډلبندي شوي معلومات شتون ولري.

## 5.9 د ښځو د شموليت فيصدي

**تعريف او هدف**

د ښځينه شموليتونو شمېر د زده کړو په يوه ټاکلي سطحه لکه لومړنی زده کړې، منځنۍ يا تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د شموليتونو د مجموعي د فيصدۍ په توګه ورښودل کيږي. دغه شاخص په يادو ښوونيزو سطحو کې د ښځو د مشارکت د کچې له ارزونې سره مرسته کوي.

**د محاسبې مېتود او د اړتیا وړ معلومات**

د ښځو د شمولیت ټول شمېر په یوه ځانګړي ښوونیز کال کې د شمولیتونو پر مجموعي شمېر وېشو او حاصل یې په ۱۰۰ کې ضربوو. لاندې د ښځو د مشارکت په اړه د بنسټیزو شاخصونو یو لېست وړاندې شوی ترڅو پورته هدف تر ارزوني لاندې ونیسي.

$$\%\text{ Female Enrolment}_{pri,t} = \frac{\text{Number of female enrolment in primary education in school-year t}}{\text{Total number of enrolment in primary education in school-year t}} \times 100$$

$$\%\text{ Female Enrolment}_{Sec,t} = \frac{\text{Number of female enrolment in secondary education in school-year t}}{\text{Total number of enrolment in secondary education in school-year t}} \times 100$$

$$\%\text{ Female Enrolment}_{h.Sec,t} = \frac{\text{Number of female enrolments in High secondary education in school-year t}}{\text{Total number of enrolments in High secondary education in school-year t}} \times 100$$

$$\%\text{ Female Enrolment}_{VocTec,t} = \frac{\text{Number of female enrolment in Voc/Tec education in school-year t}}{\text{Total number of enrolment in Voc/Tec education in school-year t}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچینې**

معمولاً هېوادونه د شمولیت معلومات د ښوونځي د کلنیو احصائیو له لارې راټولوي. اړینه ده چې معلومات د جنډر پر بنسټ ډلبندي کړو ترڅو د ښځو د شمولیت د فیصدۍ محاسبه کولو لپاره زمینه چمتو شي.

**د معلوماتو ډلبندي**

په هغه صورت کې چې معلومات په لاس کې وي، کولای شو دغه شاخص د سیمې، ښار/ کلي، عامه او خصوصي پر بنسټ ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشرېح**

دغه شاخص په ټاکلو سطحو کې د ښځو د شمولیت کچه څرګندوي، خو د دغې ځانګړې عمري کتګورۍ د نفوسو جوړښت ته مو باید پام وي ترڅو وکولای شو د دې شاخص په اړه کره او سمه تشرېح او تفسیر ولرو.

**محدودیتونه**

د معلوماتو پوښښ، په ځانګړې توګه منځنۍ دوره کې ښايي بشپړ نه وي؛ ځکه چې د معلوماتو یوه برخه یوازې عامه ښوونیز بنسټونه او بله برخه یې جغرافیایي وېشنې یا تقسیمات تر پوښښ لاندې نیسي.

## 5.10 د ښځینه ښوونکو فیصدي

**تعریف او هدف**

د زده کړو په یوه ځانګړې سطحه لکه لومړنی، منځنی، لیسه او یا تخنیکي او مسلکي زده کړو کي د ښوونکو د مجموعي فیصدۍ په توګه د ښځینه ښوونکو شمېر څرګندوي. دغه شاخص په یادو سطحو کي د ښځو د ګډون نسبت ارزوني په برخه کي مرسته کوي. ښوونکي هغه چاته ویل کیږي چي د پوهي، سلوک او مهارتونو په ګډون د یوه رسمي ښوونیز پروګرام مسلکي فعالیتونه د یوې ځانګړي رسمي تعلیمي دورې زده کوونکو ته انتقالوي.

**د محاسبې مېتود او د اړتیا وړ معلومات**

د ښځینه ښوونکو شمېر په یوه ټاکلي ښوونیز کال کي د ښوونکو پر مجموعي شمېر وېشو او حاصل یې په ۱۰۰ کي ضربوو. لاندې د ښځو د مشارکت په اړه د بنسټیزو شاخصونو یو لېست وړاندې شوی ترڅو یاد هدف و ارزوي.

$$\text{Per cent Female Teachers}_{pri,t} = \frac{\text{Number of female teachers in primary education in school-year t}}{\text{Total number of teachers in primary education in school-year t}} \times 100$$

$$\text{Per cent Female Teachers}_{Sec,t} = \frac{\text{Number of female teachers in secondary education in school-year t}}{\text{Total number of teachers in secondary education in school-year t}} \times 100$$

$$\text{Per cent Female Teachers}_{h\bullet Sec,t} = \frac{\text{Number of female teachers in High secondary education in school-year t}}{\text{Total number of teachers in High secondary education in school-year t}} \times 100$$

**Per cent Female** **Number of female teachers in Voc/Tec education in school-year t**

**د معلوماتو احتمالي سرچیني**

معمولاً هېوادونه د شمولیت معلومات د ښوونځي د کلنیو احصائیو له لارې راټولوي. اړینه ده چي معلومات د جنډر پر بنسټ ډلبندي کړو ترڅو د ښځو د شمولیت د فیصدۍ محاسبه کولو لپاره زمینه چمتو شي. د ښوونکو او په ځانګړې توګه د عامه سکټور لپاره معلومات کولای شو د ښوونکو د سوابقو ساتني او معاشونو ورکوني لپاره د اړوند وزارتونو له مختلفو ریاستونو څخه ترلاسه کړو.

**د معلوماتو ډلبندي**

کولای شو دغه شاخص د زده کړو د سطحې، جغرافیایي موقعیت (سیمه، ښار، کلی)، د بنسټ ډول (خصوصي، عامه)، د ښوونکو عمري ډلې او د ښوونکو د زده کړو او تحصیلاتو له مخي ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشریح**

دغه شاخص د جنډر له پلوه د تدریسي ځواک د ترکیب ښکارندویي کوي. همدارنګه دغه شاخص د فرصتونو لپاره د اړتیا ارزوني او هم د یوې ځانګړې ښوونیزې دورې په تدریسي فعالیتونو کې ګډون ته د ښځو له هڅولو سره مرسته کوي. کله چې د ښځینه ښوونکو شمېر ۵۰ سلنو ته نیږدې کیږي، په تدریسي ځواک کې د ترکیب له پلوه د جنډر برابري څرګندوي. له ۵۰ سلنو پورته شمېره د یوې ښوونیزې دورې، ټولګي یا ځانګړي پروګرام په تدریسي فعالیتونو کې د ګډون لپاره د ښځو لپاره د ډېرو فرصتونو ښکارندویي کوي. د امکان په صورت کې، اړینه ده چې دغه معلومات په یوه هېواد کې د ښځو لپاره د کاري بازار له اړخه هم تحلیل شي، البته که دغه شان معلومات موجود وي.

**محدودیتونه**

دغه شاخص باید د زده کړو په هره دوره یا سطحه کې د جنډر له مخې د تدریسي ځواک (ټول وخت او نیمه وخت ښوونکي) په اړه د باور وړ معلوماتو پر بنسټ وي. د محاسبې پرمهال مو باید پام وي چې د ښځینه ښوونکو شمېر او د ټولو ښوونکو مجموعه د بنسټ له یو شان ډول سره سم، ټول وخت یا نیمه وخت شتون ولري. په دې ډول محاسبه کې باید ټول تدریسي پرسونل شامل وي. دغه شاخص د تدریس په مسلک کې د جنډر د استازیتوب سطحه سنجوي نه د تدریس مؤثریت یا کیفیت.

## ۶ ښوونيز پروګرام: (۶- عمومي هدف)

## د ښه کيفيت لرونکو زده کړو شاخصونه څه ډول محاسبه کيږي؟

**د ښوونيز پروګرام موخه**

د دغې ښوونيزې ټريننګ په پای کې به ګډون کوونکي وکولای شي چې راټول شوي ښوونيز معلومات په انفرادي توګه د جنډر د برابرۍ شاخصونو په کاروني سره تحليل کړي. هغوی بايد وکولای شي چې د موضوع په تړاو خپله پوهېدنه د دغه ډول معلوماتو په اړه د مثالونو په وړاندې کولو ثابته کړي.

**ګډون کوونکي کوم ټکي زده کوي؟**

- ګډون کوونکي زده کوي چې د کيفيت شاخصونو محاسبه کولو لپاره کوم ډول معلوماتو ته اړتيا ده.
- هغوی خپله پوهه د هر شاخص په اړه د مثالونو په وړاندې کولو سره ثابته کړي.
- ګډون کوونکي به د کيفيت شاخصونو په هدف او د کاروني په څرنګوالي پوه شي.
- ګډون کوونکي به وکولای شي چې د **EMIS** معلوماتو په کاروني سره د کيفيت شاخصونو کره محاسبه او د کاروني ډول زده کړي.

**۱- فعاليت: (د زده کړه د ټولو لپاره شاخصونو د ۶- عمومي هدف تعريف او موخي چې د لوړ کيفيت زده کړو شاخصونو په کې شامل دي، ګډون کوونکو ته وړاندې کوي)**: په پيل کې زده کړه د ټولو لپاره ښوونيزو شاخصونو شپږم هدف چې لوړ کيفيت زده کړو شاخصونو تعريف او موخه ده، ګډون کوونکو ته ښودل کيږي. د معلوماتو هغه ډولونه چې د دغو شاخصونو د محاسبې لپاره ورته اړتيا ده، د روزونکي له خوا د پاورپاينټ پریزنټېشن له لارې ورښودل کيږي. ګډون کوونکي د هرې موضوع په مهمو بحثونو کې ونډه اخلي او د روزونکي پوښتنو ته په ځواب ويلو به د موضوعاتو په اړه خپل پوهاوی ثابت کړي. ګډون کوونکي هڅول کيږي چې خپلې پوښتنې له روزونکي څخه وکړي ترڅو د موضوع په اړه له لا ډېر درک او پوهاوي سره مرسته وشي.

**۲ - فعاليت: (ګډون کوونکي د لوړ کيفيت زده کړو شاخصونو له بېلابېلو ډلونو سره پيژني)**: د لوړ کيفيت زده کړو شاخصونه او د هغوی د محاسبې لارې د روزونکي له خوا د پاورپاينټ پریزنټېشن له لارې ګډونوالو ته ورښودل کيږي

- تر شپږم ټولګي د پاتې کېدو کچه
- د ابتدائيه دورې د هغو ښوونکو فيصدي چې اړين علمي او اکاډميک شرايط ولري
- د هغو ښوونکو فيصدي چې د ملي ستندردونو له مخې په لاندې ښوونيزو دورو کې د تدريس په شرايطو پوره ګڼل شوي:
    a. د مکتب نه مخکې زده کړې
    b. لومړنۍ دورې زده کړې
    c. منځنۍ دورې زده کړې
    d. دليسې دورې زده کړې

e. غیر رسمي زده کړې

- د لاندې دورو لپاره د زده کوونکو – ښوونکي نسبت:

a. لومړنی دوری زده کړې

b. منځنی دوری زده کړې

c. لیسی دوری زده کړې

- د لاندې دورو لپاره د زده کوونکو – ټولګیو نسبت:

a. لومړنی دوری زده کړې

b. منځنی دوری زده کړې

c. لیسی دوری زده کړې

- د لاندې دورو لپاره د زده کوونکو – درسي کتابونو نسبت:

a. لومړنی دوری زده کړې

b. منځنی دوری زده کړې

c. لیسی دوری زده کړې

ګډون کوونکي د هرې موضوع په مهمو بحثونو کې ونډه اخلي او د روزونکي پوښتنو ته په ځواب ویلو به د موضوعاتو په اړه خپل پوهاوی ثابت کړي. ګډون کوونکي هڅول کیږي چې خپلې پوښتنې له روزونکي څخه وکړي ترڅو د موضوع په اړه له لا ډېر درک او پوهاوي سره مرسته وشي.

**۳- فعالیت: (ګروپي کار: ګډون کوونکي د لوړ کیفیت زده کړو د شاخصونو محاسبه کولو لپاره د اړتیا وړ معلوماتو په ګوته کولو په موخه ګروپي کار ترسره کړي، دغه فعالیت به د روزونکي له خوا رهبری شي):** ګډون کوونکي به د دغو شاخصونو د محاسبې لپاره د اړتیا وړ پر مختلفو سرچینو کار وکړي او خپلې تجربې به شریکې کړي.

**۴ - فعالیت: (کوچنۍ ازموینه: ګډون کوونکي د لوړ کیفیت زده کړو د شاخصونو د هدف او کارونې په اړه کوچنۍ ازموینه ورکړي):** ګډون کوونکو ته به د کیفیت د شاخصونو یو لیست ورکړل شي او ترې غوښتل کیږي چې د هر شاخص د اغېزناکې کارونې په اړه خپل معلومات بیان کړي.

**۵ - فعالیت: (د لوړ کیفیت زده کړو اړوند شاخصونو ځینې نور دولونه ګډون کوونکو ته وربښودل کیږي):** د لوړ کیفیت زده کړو ځینې نور شاخصونه او د هغوی د محاسبې لارې د پاورپاینټ پریزنټېشن په چوکاټ کې د روزونکي له خوا ګډون کوونکو ته وروپېژندل کیږي.

- د حکومت په ټولو لګښتونو کې د ښووني روزني اړوند عامه لګښتونو فیصدي
- د کورنیو ناخالصو تولیداتو د فیصدۍ په توګه پر ښووني روزني شوي عامه لګښتونه
- د کورنیو ناخالصو تولیداتو د سرانه عاید د فیصدۍ په توګه د لومړنیو/منځنیو زده کړو پر هر زده کوونکي شوي عامه لګښتونه
- د هغو ښوونځیو فیصدي چې د څښاک پاکو اوبو سرچینې لري
- د هغو ښوونځیو فیصدي چې د پاکۍ او روغتیا کافي امکانات (د چټلو اوبو د تخلیې سیسټم) ولري

ګډون کوونکي د هرې موضوع په مهمو بحثونو کې ونډه اخلي او د روزونکي پوښتنو ته په ځواب ویلو به د موضوعاتو په اړه خپل پوهاوی ثابت کړي. ګډون کوونکي هڅول کیږي چې خپلې پوښتنې له روزونکي څخه وکړي ترڅو د موضوع په اړه له لا ډېر درک او پوهاوي سره مرسته وشي.

**۶ ـ فعالیت: (ګروپي کار: ګډون کوونکي د لوړ کیفیت زده کړو اړوند شاخصونو محاسبه کولو لپاره د اړتیا وړ معلوماتو په ګوته کولو په موخه ګروپي کار ترسره کړي، دغه فعالیت به د روزونکي له خوا رهبری شي):** ګډون کوونکي به د دغو شاخصونو د محاسبې لپاره د اړتیا وړ پر مختلفو سرچینو کار وکړي او خپلې تجربې به شریکې کړي.

**۷ ـ فعالیت: (کوچنۍ ازموینه: ګډون کوونکي به د لوړ کیفیت زده کړو اړوند شاخصونو د هدف او کاروني په اړه کوچنۍ ازموینه ورکړي):** ګډون کوونکو ته به د لوړ کیفیت زده کړو د شاخصونو یو لیست ورکړل شي او ترې غوښتل کیږي چې د هر شاخص د اغېزناکې کاروني په اړه خپل معلومات بیان کړي.

۸ـ فعالیت: (روزونکی به د شاخصونو د مختلفو ډولونو او د ښوونیزو معلوماتو په تحلیل کې د هغوی د کاروني او اهمیت په اړه د پوښتنو او ځوابونو له لارې ګډون کوونکي تر ارزوني لاندې ونیسي).

**د ټریننګ ټول وخت: ۸ ساعته (1 ورځې)**

**د ښوونیز پروګرام (ټریننګ) اجنډا**

| وخت | فعالیت | د اړتیا وړ منابع |
|---|---|---|
| **۴ـ ښوونیز پروګرام: د لوړ کیفیت زده کړو شاخصونه** | | |
| | **لومړۍ ورځ** | |
| ۱ ساعت او ۱۵ دقیقې | د روزونکي له خوا زده کړه د ټولو لپاره ښوونیزو اهدافو د ۶ـ عمومي هدف چې عبارت د لوړ کیفیت زده کړو څخه دی، د هغه د شاخصونو د تعریف، موخې او کاروني په اړه مشارکتي لکچر او پاورپاینټ پریزنټېشن وړاندې کیږي. | – پروجکټور<br>– پاورپاینټ پریزنټېشن |
| | **د چایو دمه (۱۵ دقیقې)** | |
| ۱ ساعت او ۱۵ دقیقې | د لوړ کیفیت زده کړو شاخصونه او د هغوی د محاسبې لارې د روزونکي له خوا د پاورپاینټ پریزنټېشن له لارې ګډونوالو ته وربښودل کیږي.<br>• تر شپږم ټولګي د پاتې کېدو کچه<br>• د ابتدائیه دورې د هغو ښوونکو فیصدي چې اړین علمي او اکاډمیک شرایط ولري<br>• د هغو ښوونکو فیصدي چې د ملي ستندردونو له مخې په لاندې ښوونیزو دورو کې د تدریس په شرایطو پوره ګڼل شوي:<br>a. د ماشومتوب لومړۍ دورې ښوونه او روزنه<br>b. لومړنۍ دورې زده کړې<br>c. منځنۍ دورې زده کړې<br>d. لیسې دورې زده کړې<br>e. غیر رسمي زده کړې<br>• د لاندې دورو لپاره د زده کوونکو – ښوونکي نسبت:<br>f. لومړنۍ دورې زده کړې<br>g. منځنۍ دورې زده کړې<br>h. لیسې دورې زده کړې | – پروجکټور<br>– فلیپ چارټ<br>– قلم او کتابچه |

| | | |
|---|---|---|
| | • د لاندې دورو لپاره د زده کوونکو – ښوونکيو نسبت:<br>a. لومړنی دوری زده کړې<br>b. منځنی دوری زده کړې<br>c. لیسې دوری زده کړې<br>• د لاندې دورو لپاره د زده کوونکو – درسي کتابونو نسبت:<br>a. لومړنی دوری زده کړې<br>b. منځنی دوری زده کړې<br>c. لیسې دوری زده کړې | |
| **د غرمنی او لمانځه دمه (12:00 تر 01:00)** | | |
| ۱ ساعت او ۳۰ دقیقې | ګروپي کار: ګډون کوونکي د لوړ کیفیت زده کړو د شاخصونو محاسبه کولو لپاره د اړتیا وړ معلوماتو په ګوته کولو په موخه ګروپي کار ترسره کړي، دغه فعالیت به د روزونکي له خوا رهبری شي. | – پروجکتور<br>– پاورپاینټ پرېزنټېشن |
| ۱ ساعت او ۳۰ دقیقې | کوچنۍ ازموینه: ګډون کوونکي د لوړ کیفیت زده کړو د شاخصونو د هدف او کاروني په اړه کوچنۍ ازموینه ورکړي. | – پروجکتور<br>– فلیپ چارت<br>– قلم او کتابچه |
| **دویمه ورځ** | | |
| ۱ ساعت او ۱۵ دقیقې | د لوړ کیفیت زده کړو ځینې نور شاخصونه او د هغوی د محاسبې لارې د پاورپاینټ پرېزنټېشن په چوکاټ کې د روزونکي له خوا ګډون کوونکو ته وړاندې کیږي.<br>• د حکومت په ټولو لګښتونو کې د ښوونې روزنې اړوند عامه لګښتونو فیصدي<br>• د کورنیو ناخالصو تولیداتو د فیصدۍ په توګه پر ښوونې روزنې شوي عامه لګښتونه<br>• د کورنیو ناخالصو تولیداتو د سرانه عاید د فیصدۍ په توګه د لومړنیو/منځنیو زده کړو پر هر زده کوونکي شوي عامه لګښتونه<br>• د هغو ښوونځیو فیصدي چې د څښاک پاکو اوبو سرچینې لري<br>• د هغو ښوونځیو فیصدي چې د پاکۍ او روغتیا کافي امکانات (د چټلو اوبو د تخلیې سیستم) ولري | – پروجکتور<br>– پاورپاینټ پرېزنټېشن |
| **د چایو دمه (۱۵ دقیقې)** | | |
| ۱ ساعت او ۱۵ دقیقې | ګروپي کار: ګډون کوونکي د لوړ کیفیت زده کړو اړوند شاخصونو محاسبه کولو لپاره د اړتیا وړ معلوماتو په ګوته کولو په موخه ګروپي کار ترسره کړي، دغه فعالیت به د روزونکي له خوا رهبری شي. | – پروجکتور<br>– فلیپ چارت<br>– قلم او کتابچه |
| **د غرمنی او لمانځه دمه (12:00 الی 01:00)** | | |
| ۱ ساعت او ۳۰ دقیقې | کوچنۍ ازموینه: ګډون کوونکي به د لوړ کیفیت زده کړو اړوند شاخصونو د هدف او کاروني په اړه کوچنۍ ازموینه ورکړي | – پروجکتور<br>– پاورپاینټ پرېزنټېشن |

| | | |
|---|---|---|
| ۱ ساعت او ۳۰ دقیقې | روزونکی به د شاخصونو د مختلفو ډولونو او د ښوونيزو معلوماتو په تحليل کې د هغوی د کاروني او اهميت په اړه د پوښتنو او ځوابونو له لارې ګډون کوونکي تر ارزونې لاندې ونيسي. | – پروجکتور<br>– فليپ چارت<br>– قلم او کتابچه |

## ۶ ـ عمومي هدف: لوړ کيفيت لرونکي زده کړې

**د غوره او د ټولو لپاره د سنجوني وړ ښوونيزو پايلو په موخه د لوړ کيفيت زده کړو د ټولو برخو، په ځانګړې توګه لوستلو، ليکلو، شمېرې او د ژوند د بنسټيزو مهارتونو ښه کول او د دغو ټولو برخو له عالي توب څخه ډاډ ترلاسه کول.**

د لوړ کيفيت لرونکو زده کړو بېلابېل تعريفونه په تعليمي لاسته راغليو معيارونو او هم په لومړيتوب لرونکو ښوونيزو موخو او مقاصدو کې د توپيرونو ښکارندويي کوي. له همدې امله، د ښووني روزنې هغه کيفي او کمي اړخونه پياوړي کيږي چې د زده کړو پروسې د پياوړتيا په موخه لومړيتوب ورکړل شوی. د يوه هېواد د ننه او د نورو هېوادونو ترمنځ توپيرونه له يوې خوا د ناکافي او د اساسي خونديتوب او چاپېريال روغتيا، نا روزل شويو او رضاکاره ښوونکو لرلو پرته ښوونځيو او له بلې خوا د هغو ښوونځيو څرګندونه کوي چې پايلې يې د ښوونيزو لاسته راوړنو د نړيوالو ازموينو په درجه بندۍ کې له لوړ دريځ څخه برخمنې وي.

همدارنګه اړينه ده چې د کيفيت او لاسرسي ترمنځ پر ناسم وېش او همدارنګه هغه رول باندې اعتراف وکړو چې د ټيټ کيفيت زده کړې يې له ښوونځي او کورنيو څخه د ماشومانو په لرې کولو لري او برعکس هغه رول چې د لوړ کيفيت زده کړې يې په دې برخه کې لري. ورڅ تر بلې زياتېدونکي توګه، «د ماشومانو لپاره په زړه پورې ښوونځيو چوکاټ» د کيفيت د هغو مهمو اړخونو د روښانه شناخت لپاره چې د جنډر برابرۍ، ټولنې، والدينو او زده کوونکو مشارکت لپاره خوندي چاپېريال، روغه فضا، ټول شموليت او اغېزمنتوب په کې شامل دي، تر ګټه اخستنې لاندې نيسي.

د کيفيت د حد اقل معيارونو د تعريف لپاره د حکومت مکلفيتونه او له دې څخه ډاډ ترلاسه کول چې دغه معيارونه په ټول هېواد کې د اوسني وضعيت ارزونې ته اړتيا لري، دغه تعريف شوي معيارونه بايد د پلې کولو په هغو ټولو پروسو کې شتون ولري چې له مخې يې دغه معيارونه پلي او څارنه ترې کيږي. د بشري حقونو ليدلوري دغه موضوع د کمي معلوماتو پرمخ د دايمي تمرکز په پراخولو سره د ښووني روزنې اړوند برخو د ټولو مهمو فعالانو د حقونو په پام کې نيولو سره پياوړې کوي.

**زده کړه د ټولو لپاره بنسټیز شاخصونه – د زریزې پراختیایي موخې**

| 6 | زده کړه د ټولو لپاره بنسټیز شاخصونه – د زریزې پراختیایي موخې | ډلبندي | د معلوماتو سرچینې |
|---|---|---|---|
| 6.1 | تر شپږم ټولګي د پاتې کېدو کچه | • جنسیت<br>• جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• نورې ټولنیزې اواقتصادي ډلبندۍ، لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلولیت | • د ښوونځي کلنۍ احصائیه<br>• خېلخانه یي سروې ګانې |
| 6.2 | د ابتدائیه دورې د هغو ښوونکو فیصدي چې اړین علمي او اکاډمیک شرایط ولري. | • جنسیت<br>• جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• خصوصي/ عامه<br>• نورې ټولنیزې اواقتصادي ډلبندۍ، لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلولیت | • د ښوونځي کلنۍ احصائیه |
| 6.3 | 1. د هغو ښوونکو فیصدي چې د ملي ستندردونو له مخې د لاندې ښوونیزو دورو لپاره د تدریس په شرایطو پوره وي:<br>○ د ښوونځی څخه مخکې زده کړی<br>○ لومړنی دوری زده کړې<br>○ منځنی دوری زده کړې<br>○ لیسی دوری زده کړې<br>○ نا رسمي زده کړې | • جنسیت<br>• جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• خصوصي/ عامه<br>• نورې ټولنیزې اواقتصادي ډلبندۍ، لکه:<br>○ قوم، ټبر<br>○ ژبه<br>○ معلولیت | • د ښوونځي کلنۍ احصائیه |
| 6.4 | د لاندې دورو لپاره د زده کوونکو – ښوونکي نسبت:<br>• لومړنی دوری زده کړې<br>• منځنی دوری زده کړې<br>• لیسی دوری زده کړې | • جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• خصوصي/عامه | • د ښوونځي کلنۍ احصائیه |

| 6 | زده کړه د ټولو لپاره بنسټیز شاخصونه – د زریزې پراختیایي موخې | ډلبندي | د معلوماتو سرچینې |
|---|---|---|---|
| 6.5 | د لاندې دورو لپاره د زده کوونکو – ټولګیو نسبت:<br>• لومړنۍ دورې زده کړې<br>• منځنۍ دورې زده کړې<br>• لیسې دورې زده کړې | • جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• خصوصي/عامه | • د ښوونځي کلنۍ احصائیه |
| 6.6 | د لاندې دورو لپاره د زده کوونکو – درسي کتابونو نسبت:<br>• لومړنۍ دورې زده کړې<br>• منځنۍ دورې زده کړې<br>• لیسې دورې زده کړې | • جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• خصوصي/عامه | • د ښوونځي کلنۍ احصائیه |
| 6.7 | د حکومت د ټولو لګښتونو د یوې فیصدۍ په توګه پر ښووني روزنې شوي عامه لګښتونه | ملي شاخص | • د حکومت د بودیجې راپورونه |
| 6.8 | د کورنیو ناخالصو تولیداتو د فیصدۍ په توګه پر ښووني روزنې شوې عامه لګښتونه | ملي شاخص | • د حکومت د بودیجې راپورونه |
| 6.9 | د کورنیو ناخالصو تولیداتو د سرانه عاید د فیصدۍ په توګه د هر زده کوونکي په سر د لومړنیو/ منځنیو زده کړو کې شوي عامه لګښتونه | ملي شاخص | • د حکومت د بودیجې راپورونه |
| 6.10 | د هغو ښوونځیو فیصدي چې د څښاک اوبو لپاره مناسبې سرچینې لري | • جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• خصوصي/عامه | • د ښوونځي کلنۍ احصائیه<br>• د پروژې راپور او سروې ګانې |
| 6.11 | د هغو ښوونځیو فیصدي چې د پاک والي او روغتیا کافي امکانات (د چټلو اوبو تخلیه کولو سیستم) ولري. | • جغرافیایي ساحه<br>• ښاري/ کلیوالي<br>• خصوصي/عامه | • د ښوونځي کلنۍ احصائیه<br>• د پروژې راپور او سروې ګانې |

## 6.1 تر شپږم ټولګي د پاتې کېدو کچه

جزئيات يې زده کړه د ټولو لپاره د دويم هدف(لومړنۍ عمومي زده کړې) په برخه کې وګورئ.

## 6.2 د لومړنيو زده کړو د هغو ښوونکو فيصدي چې لازمي علمي ځانګړتياوې ولري

**تعريف او هدف**

د لومړنۍ يا ابتدائيه دورې د ښوونکو شمېر په لومړنيو زده کړو کې د تدريس په موخه د عامه بنسټونو لپاره حد اقل لازم شرايط، د ابتدائيه دروې د ښوونکو د ټول شمېر د فيصدۍ په توګه ښودل کيږي. دغه شاخص د لومړنيو ښوونځيو د ښوونکو نسبت سنجوي چې په هېواد کې د مسؤولو بنسټونو د اکاډميکو شرايطو اساسي اړتياوې پوره کړې وي. دغه شاخص د ابتدائيه زده کړو د تدريس په برخه کې د يوه هېواد د بشري پانګې عمومي کيفيت څرګندوي. ښوونکي هغه کسان دي چې په خپلو مسلکي ظرفيتونو سره د علم، ښوونيزو مهارتونو او سلوک زده کولو په اړه د زده کوونکو تجربې روښانه او په ملي نصاب کې يې لارښوونه وکړي.

**د محاسبې مېتود او د اړتيا وړ معلومات**

د لومړنيو زده کړو لپاره د لازمو علمي شرايطو لرونکو ښوونکو شمېر په ابتدائيه دوره کې د ښوونکو پر مجموعي شمېر وېشو او حاصل يې په ۱۰۰ کې ضربوو.

$$\%\ \text{Primary teacher having the required academic qualifications}_t = \frac{\text{Total number of primary teachers with required academic qualification in year t}}{\text{Total number of primary teachers year t}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچينې**

معمولاً هېوادونه د شموليت اړوند معلومات د ښوونځي له کلنۍ احصائيو څخه راټولوي. اړينه ده چې دغه معلومات د جنډر له مخې ډلبندي شي ترڅو د ښځينه ښوونکو د فيصدۍ محاسبه کولو لپاره زمينه چمتو شي. د ښوونکو اړوند معلومات، په ځانګړې توګه د عامه سکټور لپاره کولای شو د هغو وزارتونو له مختلفو رياستونو ترلاسه کړو چې د ښوونکو د سوابقو ساتلو او معاشونو ورکولو مسؤليت لري.

**د معلوماتو ډلبندي**

کولای شو دغه شاخص د ښوونيزې دورې، جغرافيايي موقعيت (سيمې، ښار/ کلي)، د بنسټ ډول (خصوصي، عامه) او د ښوونکو د عمري ګروپ پر بنسټ ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشریح**

د هغو ښوونکو لوړه فیصدي چې د لازمو علمي شرایطو لرونکي دي، د واجد شرایط ښوونکو شتون او د تدریسي ځواک عمومي کیفیت څرګندوي. د ښوونکو علمي تحصیلات د ښوونکو له خدمت وړاندې او داخل خدمت ټریننګونو سره مل، د زده کوونکو له غوره اجراأتو سره مخامخ او قوي اړیکه لري چې د ښوونکو د تجربې، وضعیت، تدریسي مېتودونو، تدریسي موادو او درسي ټولګي د وضعیت په څېر نورو عواملو څخه هم اغېزمنېږي. باید په یاد ولرو چې یو شمېر هغه ښوونکي چې له اړینو عملي شرایطو څخه برخمن نه دي، هم د خپلو ښوونیزو او مسلکي تجربو له لارې مشابه وړتیاوې ترلاسه کړي.

**محدودیتونه**

د لومړنیو ښوونځیو د ښوونکو لپاره د حد اقل لازمو علمي شرایطو لپاره ملي معیارونه باید په جدیت سره پلي شي ترڅو له علمي پلوه په شرایطو پوره ښوونکو شمېر څرګند شي. د هغو ښوونکو فیصدي چې لازم علمي شرایط لري، نه شي کېدای له ۱۰۰ سلنو لوړه شي. اړینه ده چې دغه شاخص د عامه، خصوصي او نورو ښوونځیو لپاره په جلا توګه محاسبه شي. همدارنګه اړینه ده چې ټول تدریسي پرسونل په پام کې ونیول شي.

### 6.3 د هغو ښوونکو فیصدي چې د ملي معیارونو له مخې په لاندې ښوونیزو دورو کې د تدریس په شرایطو پوره دي:

- د ښوونځی نه د مخکی دوری زده کړی
- لومړنی دوری زده کړې
- منځنی دوری زده کړې
- لیسی دوری زده کړی
- غیر رسمي زده کړی

**تعریف او هدف**

د هغو ښوونکو شمېر چې په یوه ټاکلې ښوونیز دوره کې یې د تدریس لپاره د ښوونکو اړوند لازمه روزنه (له خدمت وړاندې او داخل خدمت) ترلاسه کړې، په هماغه دوره کې د ښوونکو د مجموعي شمېر د یوې فیصدی په توګه ښودل کیږي. دغه شاخص د پیداګوژیک مهارتونو په برخه کې د ښوونکي د روزل شویو ښوونکو نسبت د تدریس لپاره له ملي معیارونو سره سم تر سنجونې لاندې نیسي. همدارنګه دغه شاخص د تدریسي فعالیتونو لپاره د بشري ځواک په وده کې د پانګونې په موخه د حکومت ژمنتوب څرګندوي.

**د محاسبې مېتود او د اړتیا وړ معلومات**

د هغو ښوونکو شمېر چې په یوه ټاکلې ښوونیزه دوره کې د تدریس لپاره یې د ښوونکو(له خدمت وړاندې او داخل خدمت) اړینه روزنه ترلاسه کړې وي، په همدې دوره کې د ښوونځي د ټولو ښوونکو پر شمېر وېشو او پایله یې په ۱۰۰ کې ضربوو.

**Percentage of early childhood educators- care-givers who are certified to teach according to national standards in year $_t$**

$$= \frac{\text{Total number of early childhood educators- care-givers who are certified to teach according to national standards in year t}}{\text{Total number of early childhood educators- care-givers in year t}} \times 100$$

**Percentage of primary school teachers who are certified to teach according to national standards in year $_t$**

$$= \frac{\text{Total number of primary teachers who are certified to teach according to national standards in year t}}{\text{Total number of primary teachers in year t}} \times 100$$

**Percentage of secondary school teachers who are certified to teach according to national standards in year $_t$**

$$= \frac{\text{Total number of secondary teachers who are certified to teach according to national standards in year t}}{\text{Total number of secondary teachers in year t}} \times 100$$

**Percentage of High secondary school teachers who are certified to teach according to national standards in year $_t$**

$$= \frac{\text{Total number of High secondary teachers who are certified to teach according to national standards in year t}}{\text{Total number of High secondary teachers in year t}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچينې**

معمولاً هېوادونه د شموليت اړوند معلومات د ښوونځي له کلنۍ احصائيو څخه راټولوي. اړينه ده چې دغه معلومات د جنډر له مخې ډلبندي شي ترڅو د ښځينه ښوونکو د فيصدۍ محاسبه کولو لپاره زمينه چمتو شي. د ښوونکو اړوند معلومات، په ځانګړې توګه د عامه سکټور لپاره کولای شو د هغو وزارتونو له مختلفو رياستونو ترلاسه کړو چې د ښوونکو د سوابقو ساتلو او معاشونو ورکولو مسؤليت لري.

**د معلوماتو ډلبندي**

کولای شو دغه شاخص د ښوونيزې دورې، جغرافيايي موقعيت (سيمې، ښار/ کلي)، د بنسټ ډول (خصوصي، عامه) او د ښوونکو د عمري ګروپ پر بنسټ ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشريح**

د هغوښوونکو لوړه فيصدي چې په لومړنيو ښوونځيو کې د تدريس لپاره د لازمو علمي شرايطو لرونکي دي، د دې څرګندونه نه کوي چې اکثريت ښوونکي روزل شوي او د تدريس لپاره يې اړين پيداګوژيکي مهارتونه ترلاسه کړي او له دې امله کولای شي شته تدريسي مواد په ښه توګه وکاروي. په دې شاخص کې د ښوونکو په تجربو، وضعيت، تدريسي مېتودونو،

تدريسي موادو او د درسي ټولګي په وضعيت کې شته توپيرونه – هغه عوامل چې کولای شي د تدريس/ زده کړو کيفيت اغېزمن کړی، په پام کې نه نيول کيږي. بايد په ياد ولرو چې يو شمېر هغه ښوونکي چې له اړينو عملي شرايطو څخه برخمن نه دي، هم د خپلو ښوونيزو او مسلکي تجربو له لارې مشابه وړتياوې ترلاسه کړي.

**محدوديتونه**

دغه معلومات بايد د هغو تصديق شويو ښوونکو په اړه په پام کې ونيول شي چې د ښوونکو روزنې له خدمت وړاندې او داخل خدمت يا دواړه روزنې يې ترلاسه کړې وي. د تصديق شويو ښوونکو فيصدي له ۱۰۰ سلنو نه شي لوړېدای. اړينه ده چې دغه شاخص د عامه، خصوصي او نورو ښوونځيو لپاره په جلا توګه محاسبه شي. همدارنګه اړينه ده چې ټول تدريسي پرسونل په پام کې ونيول شي (UNESCO 1998).

## 6.4 د زده کوونکو نسبت – ښوونکو ته

**تعريف او هدف**

د زده کوونکو – ښوونکي نسبت د ښوونيزې پلان جوړونې لپاره يو تر ټولو ډېر کارېدونکی شاخص دی. د هر ښوونکي په نسبت ډېر لږ شمېر زده کوونکي څرګندوي چې زده کوونکي له ښوونکي سره د ښه تعامل ډېر چانس لري او له همدې امله يوه غوره تدريسي – ښوونيزه پروسه منځته راځي. همدارنګه دغه نسبت د بشري سرچينو(ښوونکو) د سطحې سنجونې لپاره هم کارول کيږي. په ګڼ شمېر پلان جوړونو کې له دې نسبت څخه د اړتيا وړ ښوونکو د اټکل لپاره ګټه اخستل کيږي.

**د محاسبې مېتود**

په يوه ټاکلي ښوونيز دوره کې د ټولو شاملو شويو زده کوونکو مجموعي شمېر په همدې ښوونيزه دوره کې د ښوونکو پر شمېر وېشو او پايله يې په ۱۰۰ کې ضربوو.

**Pupil-teacher ratio (PTR) for primary education**

$$PTR_{Pri,t} = \frac{\text{Total number of pupils in primary education in school-year t}}{\text{Total number of teachers in primary education in school-year t}} \times 100$$

**Pupil-teacher ratio (PTR) for secondary education**

$$PTR_{Sec,t} = \frac{\text{Total number of pupils in secondary education in school-year t}}{\text{Total number of teachers in secondary education in school-year t}} \times 100$$

**Pupil-teacher ratio (PTR) for High secondary education**

$$PTR_{h.Sec,t} = \frac{\text{Total number of pupils in High secondary education in school-year t}}{\text{Total number of teachers in High secondary education in school-year t}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچيني**

د شموليت او ښوونکو په اړه معلوماتو کې باید ښوونځي، عامه او خصوصي پروګرامونه شامل وي. د عامه پروګرامونو لپاره معلومات کولای شو د ښوونځیو له سروې ګانو ترلاسه کړو. خپلخانه یي سروې ګانې یا نور خصوصي سوابق کولای شي د هغو پروګرامونو لپاره اړین معلومات چمتو کړي چې د ټولنیزو پروګرامونو، نا دولتي موسسو او خصوصي ښوونځیو له خوا پرمخ وړل کیږي. په ځینو برخو کې، هیوادونو د عامه او خصوصي پروګرامونو معلومات سره ګډ کړي دي.

**د معلوماتو ډلبندي**

کولای شو د زده کوونکو – ښوونکي نسبت د جغرافيايي موقعيت (سيمې، ښار/ کلي)، د بنسټ ډول (خصوصي، عامه، ټولنيز يا هغه چې د نا دولتي موسسو له خوا يې ملاتړ کيږي) پر بنسټ ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشريح**

د زده کوونکو – ښوونکي نسبت باید د زده کړو د هر ډول یا دورې لپاره د هر ښوونکي په سر د زده کوونکو د شمېر په اړه د ملي نورمونو رامنځته کولو په موخه پرتله کړو. د زده کوونکو – ښوونکي لوړ نسبت د دې څرګندونه نه کوي چې هر ښوونکی باید ګڼ شمېر زده کوونکو ته تدریس وکړي او په بدل کې یې زده کوونکي د ښوونکي له لرې پاملرنې برخمن شي. په ټولیزه توګه، داسې فرض ګڼل کیږي چې د زده کوونکو – ښوونکي ټیټ نسبت د کوچنیو ټولګیو ښکارندویي کوي او ښوونکی کولای شي هر زده کوونکي ته پاملرنه وکړي او په پایله کې یې د زده کړو کیفیت له لوړېدو سره مرسته وکړي. دغه شاخص په تحصلي درجه، پیداګوژیکي روزنې، مسلکي تجربې او د ښوونکو په وضعیت کې توپیرونه – چې کولای شي د زده کړو/ تدریس کیفیت او د زده کوونکو فعالیت اغېزمن کړي – په پام کې نه نیسي.

**محدوديتونه**

دغه شاخص باید د عامه، خصوصي او نورو ښوونځیو لپاره په جلا توګه محاسبه شي. اړینه ده چې د دې شاخص په محاسبه کې د نیمه وخت (پارټ ټایم) ښوونکو شتون، د ښوونځي شفټونه، هغه ټولګي چې په کې څو ټولګي تدریس کیږي او نور هغه عوامل په پام کې ونیول شي چې د زده کوونکو – ښوونکي نسبت دقت او مفهوم تر اغېز لاندې نیسي. د مثال په توګه، د نیمه وخت ښوونکي باید د پوره وخت (فول ټایم) ښوونکو په معادل شمېر تبدیل شي. د ټول تدریسي پرسونل له شمولیت باید ډاډ ترلاسه شي.

## 6.5 د زده کوونکو – ټولګي نسبت

**تعريف او هدف**

په هر ټولګي کې د زده کوونکو د شمېر اوسط یا منځنی حد یو مهم شاخص دی چې د ټولګي د اندازې (د زده کوونکو د شمېر له پلوه) څرګندونه کوي. دغه نسبت د سرچینو د مؤثریت ارزونې لپاره کارول کیږي. همدارنګه په غیر مستقیمه توګه د تدریس/ زده کړې پروسې ارزونې لپاره هم کارول کېدای شي.

**د محاسبې مېتود**

په یوه ځانګړې ښوونیزه دوره کې/سطحه کې د شاملو زده کوونکو ټول شمېر په همدې دوره کې د ټولګیو* پر شمېر وېشو او پایله یې په سلو کې ضربوو.

**Pupil-Class Ratio (PCR) for Primary Education**

$$PCR_{Pri,t} = \frac{\text{Total number of pupils in primary education in school-year t}}{\text{Total number of Classes in primary education in school-year t}} \times 100$$

**Pupil-Class Ratio (PTR) for Secondary Education**

$$PCR_{Sec,t} = \frac{\text{Total number of pupils in secondary education in school-year t}}{\text{Total number of Classes in secondary education in school-year t}} \times 100$$

**Pupil-Class Ratio (PTR) for High Secondary Education**

$$PCR_{h.Sec,t} = \frac{\text{Total number of pupils in High secondary education in school-year t}}{\text{Total number of Classes in High secondary education in school-year t}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچینې**

د زده کوونکو – ښوونکي نسبت د معلوماتو په څېر، دغه معلومات هم د ښوونځي له سروې ګانو ترلاسه کولای شو. خو د ښوونځي کلنۍ سروې ګانې د خصوصي او نورو بنسټونو لپاره معلومات نه لري. اړینه ده چې له دغو بنسټونو څخه جلا اضافي معلومات راټول شي.

**د معلوماتو ډلبندي**

کولای شو د زده کوونکو – درسي ټولګي نسبت د جغرافیایي موقعیت (سیمې، ښار/ کلي)، د بنسټ ډول (خصوصي، عامه، ټولنیز یا هغه چې د نا دولتي موسسو له خوا یې ملاتړ کیږي) پر بنسټ ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشریح**

د زده کوونکو – درسي ټولګي نسبت باید د هرې ښوونیزې دورې/ سطحې د هر ټولګي د زده کوونکو د شمېر په اړه د ملي نورمونو رامنځته کولو په موخه پرتله شي. د زده کوونکو – ټولګي لوړ نسبت د دې ښکارندویي نه کوي چې په هر ټولګي کې ګڼ شمېر زده کوونکو ته تدریس کیږي او سبب کیږي چې:

- د ټولګي اداره کولو لپاره د ښوونکي وړتیا کمه شي؛
- د زده کوونکو لپاره په بیروبار ټولګي کې فزیکي او ذهني نا آرامي رامنځته شي؛ او

- د تدریس/ زده کړې د پروسې پر کیفیت ناوړه اغېز وکړي.

**محدودیتونه**

دغه شاخص باید د عامه، خصوصي او نورو ښوونځیو لپاره په جلا توګه محاسبه شي. نه باید دغه نسبت په یوه ښوونځي کې د درسي ټولګیو شمېر وګڼل شي. د ټولګیو شمېر په ځینو حالاتو کې د درسي ټولګیو (خونو) د شمېر په نسبت ډېر وي.

### 6.6 د زده کوونکو – درسي کتابونو نسبت:

- **لومړنۍ دورې زده کړې**
- **منځنۍ دورې زده کړې**
- **لیسې دورې زده کړې**

**تعریف او هدف**

د هر زده کوونکي لپاره د درسي کتابونو منځنۍ شمېر یو مهم شاخص دی او زده کوونکو ته د سرچینو/ موادو د ځانګړې کېدو یا تخصیص کچه بیانوي. دغه نسبت له سرچینو څخه د ګټه اخستنې د اغېزمنتوب ارزونې لپاره کارول کیږي.

**د محاسبې مېتود**

د ټاکلې ښوونیزې دورې لپاره د ځانګړو شویو درسي کتابونو ټول شمېر په یوه ښوونیزه دوره کې د شاملو شویو زده کوونکو پر مجموعي شمېر وېشو او پایله یې په سلو کې ضربوو.

**Pupil-Textbook Ratio (PBR) for Primary Education**

$$PBR_{Pri,t} = \frac{\text{Total number of textbooks distributed to primary education pupils in school-year t}}{\text{Total number of pupils in primary education in school-year t}} \times 100$$

**Pupil-Textbook Ratio (PBR) for Secondary Education**

$$PBR_{Sec,t} = \frac{\text{Total number of textbooks distribute to secondary education students in school-year t}}{\text{Total number of pupils in secondary education in school-year t}} \times 100$$

**Pupil-Textbook Ratio (PBR) for High Secondary Education**

$$PBR_{h.Sec,t} = \frac{\text{Total number of textbooks distribute to High secondary education students in school-year t}}{\text{Total number of pupils in High secondary education in school-year t}} \times 100$$

* A group of pupils in one instructional class. Hence, a section is equal to a class. One classroom can be used for a number of sections.

**د معلوماتو احتمالي سرچيني**

د زده کوونکو – ښوونکي نسبت د معلوماتو په څېر، دغه معلومات هم د ښوونځي له سروې ګانو ترلاسه کولای شو. خو د ښوونځي کلنۍ سروې ګانې د خصوصي او نورو بنسټونو لپاره معلومات نه لري. اړينه ده چې له دغو بنسټونو څخه جلا اضافي معلومات راټول شي.

**د معلوماتو ډلبندي**

کولای شو د زده کوونکو – درسي کتابونو نسبت د جغرافيايي موقعيت (سيمې، ښار/ کلي)، د بنسټ ډول (خصوصي، عامه، ټولنيز يا هغه چې د نا دولتي موسسو له خوا يې ملاتړ کيږي) پر بنسټ ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشريح**

د زده کوونکو – درسي کتابونو نسبت بايد د هرې ښوونيزې دورې/ سطحې د هر زده کوونکي لپاره د کتابونو د شمېر په اړه د ملي نورمونو رامنځته کولو په موخه پرتله شي. د زده کوونکو – درسي کتابونو لوړ نسبت د دې ښکارندويي کوي چې هر زده کوونکی له ښوونيزې پروسې سره د مرستې په موخه په ډېرو موادو او سرچينو سمبال دی.

**محدوديتونه**

دغه شاخص بايد د عامه، خصوصي او نورو ښوونځيو لپاره په جلا توګه محاسبه شي. که څه هم دغه نسبت په غير مستقيمه توګه د کيفيت شاخص دی، خو نه شي کولای د تدريس – زده کړې پروسې په اړه معلومات چمتو کړي. د منځنيو زده کړو په کچه، دغه شاخص بايد د عمومي زده کړو، تخنيکي او مسلکي زده کړو لپاره په جلا توګه محاسبه شي.

## 6.7 د حکومت د عامه لګښتونو د فيصدۍ په توګه پر ښوونې روزنې شوي عامه لګښتونه

**تعريف او هدف**

د پوهنې په اړه د عامه لګښتونو مجموعه (عادي او پراختيايي) په يوه ټاکلي مالي کال کې د حکومت د عامه لګښتونو د يوې فيصدۍ په توګه وربښودل کيږي، ترڅو:

- د نورو عامه پانګونو د ارزښت په پرتله د پوهنې پرمخ د حکومتي پاليسيو د ټينګار ارزونې لپاره زمينه چمتو کړي.
- د بشري پانګې د ودې په برخه کې د پانګونې لپاره حکومتي شمېرې څرګندې کړي.
- يونسکو وړانديز کوي چې هېوادونه بايد لږترلږه د خپلو داخلي ناخالصو توليداتو ۶ سلنه د پوهنې سکټور د عامه لګښتونو لپاره ځانګړي کړي.

**د محاسبې مېتود او د اړتيا وړ معلومات**

په يوه ټاکلي مالي کال کې د ټولو حکومتي ادارو له خوا د پوهنې پر سکټور د شوې عامه پانګونې مجموعه په همدې مالي کال کې د حکومت د ټولو لګښتونو پر مجموعې وېشو او پايله يې په ۱۰۰ کې ضربوو.

**Public Expenditure on Education as Per Cent of Total Government Expenditure $_t$**

$$= \frac{\text{Total public expenditure on education in a financial year t}}{\text{Total government expenditure in a financial year t}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچينې**

کولای شو دغه معلومات له هغو کلنيو مالي راپورونو ترلاسه کړو چې د ماليې وزارت له خوا چمتو کيږي. د ملي حسابونو راپورونه د مرکزي احصائيې له دفتره او مالي راپورونه په ښوونيزو فعاليتونو کې له ښکېلو ادارو او ځانګړې توګه خپله پوهنې وزارت څخه ترلاسه کولای شو.

**د معلوماتو ډلبندي**

د دې شاخص لپاره معلومات احتمالاً يوازې په ملي کچه شتون لري. خو په يو شمېر هېوادونو کې کولای شو دغه شاخص د اداري د سطحې، جغرافيايي موقيت او لګښتونو د هدف(حق الزحمه، تدريسي مواد او نور) له مخې ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشريح**

د ښوونې روزنې په اړه د حکومت د پانګونې لوړه کچه د امنيتي سکټور، روغتيا، ټولنيز خونديتوب او نورو ټولنيزو او اقتصادي سکټورونو په ګډون د عامه پانګونو د نورو شمېرو په پرتله ښوونې روزنې ته د حکومتي پاليسيو د ډېرې پاملرنې ښکارندونه کوي.

**محدوديتونه**

د پوهنې پر سکټور د عامه پانګونې مجموعه بايد د هغو لګښتونو لرونکې وي چې د ټولو ښکېلو وزارتونو او مختلفو ادارو له خوا ترسره کيږي. د مالي کال او ښوونيز کال د بوديجوي دورې د توپير په صورت کې، دغه هم بايد په پام کې ونيول شي. په ځينو برخو کې، د عامه لګښتونو مجموعي معلومات يوازې پوهنې وزارت ته راجع کيږي او هغه وزارتونه په پام کې نه نيول کيږي چې د خپلې بوديجې يوه برخه په ښوونيزو فعاليتو مصرفوي.

### 6.8 د ملي ناخالص توليد د فيصدۍ په توګه(GNP) د پوهنې پر سکټور عامه پانګونه

**تعريف او هدف**

د پوهنې په برخه کې د ټولو لګښتونو مجموعه(عادي او پراختيايي) په يوه ټاکلي مالي کال کې د ملي ناخالص توليد د يوې فيصدۍ په توګه ور ښودل کيږي. دا په هغه ټاکلي کال کې د توکو او خدمتونو د ملي توليد د مجموعي ارزښت يوه برخه ښکندوي چې ښوونې روزنې ته ځانګړې شوې دي.

**د محاسبې مېتود او د اړتیا وړ معلومات**

په یوه ټاکلي مالي کال کې پر لومړنیو زده کړو د عامه پانګوني مجموعه د همدې کال لپاره د ملي ناخالص تولید پر اندازې وېشو او حاصل یې په ۱۰۰ کې ضربوو.

**Public Expenditure on Education as a Per cent of GNP $_t$**

$$= \frac{\text{Total public expenditure on education in a financial year } t}{\text{Gross National Product in financial year } t} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچینې**

کولای شو دغه معلومات له هغو کلنیو راپورونو واخلو چې د مرکزي او ولایتي ادارو له خوا چمتو کېږي. د ملي ناخالص تولید په اړه معلومات معمولاً په هغو ملي حسابي راپورونو کې موجود وي چې په حکومت کې د اړوند مسؤلو بنسټونو له خوا چمتو کېږي.

**د معلوماتو ډلبندي**

دغه شاخص معمولاً یوازې په ملي کچه محاسبه کېږي.

**د معلوماتو تشریح**

په اصل کې، د ملي ناخالص تولید یوه لوړه فیصدي چې د پوهنې په برخه کې عامو لګښتونو ته ځانګړې شوې، د پوهنې په سکټور کې پانګونې ته د حکومت د ډېرې پاملرنې ښکارندویي کوي. مګر ټیټه فیصدي د همدې موضوع برعکس څرګندونه کوي.

**محدودیتونه**

د پوهنې سکټور په عامه لګښتونو کې باید د اړوند وزارتونو او د هرې سطحې اړوند ادارو له خوا ټول شوي لګښتونه شامل شي. د پوهنې په سکټور کې د شویو لګښتونو مجموعه د مرکزي حکومت، ولایتي ادارو، ښاروالیو او نورو محلي ارګانونو له خوا پر پوهنې سکټور کې د شویو پانګونو څخه عبارت ده. په مرکزي حکومت کې مرکزي وزارتونه، هغه خپلواکې ادارې او بنسټونه چې د ښوونې روزنې دنده پرغاړه لري، شامل دي. د لګښتونو ټولې شمېرې باید په ټولو ښوونیزو سطحو کې د ټولو ادارو ښوونیز او خدماتي معاملې تر پوښښ لاندې ونیسي.

په ځینو برخو کې، د عامه لګښتونو د مجموعي معلومات یوازې پوهنې وزارت ته راجع کېږي او هغه وزارتونه په پام کې نه نیول کېږي چې د خپلې بودیجې یوه برخه پر ښوونیزو فعالیتونو مصرفوي.

## 6.9 د ملي ناخالص تولید د سرانه فیصدۍ په توګه د هر زده کوونکي عامه لګښتونه (لومړنۍ، منځنۍ او لیسی دوری زده کړی)

**تعریف او هدف**

په هره ښوونیز دوره کې د هر زده کوونکي لپاره عامه لګښتونه په یوه مالي کال کې د ملي ناخالص تولید د سرانه فیصدي په توګه ورښودل کیږي. دغه شاخص د هغه سرانه عاید ونډه څرګندوي چې د هر زده کوونکي لپاره مصرف شوی. دغه شاخص د بشري سرچینو په روزنه کې د یوه هېواد د پانګوني سطحي په ارزولو کې مرسته کوي. کله چې د ښوونیزې دورې له مخې محاسبه شي، نسبي لګښتونه او د ښوونیزې دورې په اړه د یوه هېواد ټینګار ورښیي.

**د محاسبي مېتودونه او د اړتیا وړ معلومات**

په یوه ټاکلي ښوونیز کال کې د هرې ښوونیزې دورې/ سطحي لپاره پر هر زده کوونکي شوي عامه لګښتونه، د همدې کال لپاره د ملي ناخالص تولید پر سرانه عاید وېشو او حاصل یي په ۱۰۰ کې ضربوو.

$$A = \frac{\text{Public current expenditure on primary education in financial year t}}{\text{Total enrolment in primary education level h in school-year t}}$$

$$B = \frac{\text{Public current expenditure on secondary education in financial year t}}{\text{Total enrolment in secondary education level h in school-year t}}$$

$$C = \frac{\text{Public current expenditure on High secondary education in financial year t}}{\text{Total enrolment in High secondary education level h in school-year t}}$$

$$D = \frac{\text{Gross National Product in financial year t}}{\text{Total national population in year t}}$$

**Public Current Expenditure per Pupil (student) as per cent of GNP per Capita (for primary level) at year t**

$$= \frac{A}{D} \times 100$$

**Public Current Expenditure per Pupil (student) as Per cent of GNP per Capita (for Secondary level) at year t**

$$= \frac{B}{D} \times 100$$

**Public Current Expenditure per Pupil (student) as Per cent of GNP per Capita (for High Secondary level) at year t**

$$= \frac{C}{D} \times 100$$

**منابع احتمالی معلومات**

کولای شو دغه معلومات له هغو کلنیو ملي راپورونو واخلو چې د ماليي وزارت له خوا چمتو کيږي. د مالي حسابونو راپورونه د مرکزي احصائي له دفتر او مالي راپورونه د پوهنې وزارت په ګډون له هغو حکومتي ادارو اخلو چې په ښوونيزو فعاليتونو کې ښکېل دي. کولای شو د شموليت او جمعيت په اړه معلومات د ښوونځيو د معلوماتو له ثبتوني سيټمونو، د ښوونځيو له سروې ګانو، د ښوونځيو له احصائيو او نفوسو له احصائيو ترلاسه کړو.

**د معلوماتو ډلبندي**

کولای شو دغه شاخص د تعليمي دورې يا سطحې له مخې ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشريح**

د دې شاخص لوړه فيصدي د هغه سرانه عايد د لوړې سطحې څرګندونه کوي چې په يوه ټاکلې ښوونيزه دوره (ابتدائيه، متوسطه او ليسه) کې د هر زده کوونکي لپاره مصرف شوي. دغه شاخص د سرانه عايد د اوسط په اړه د هر زده کوونکي مالي لګښتونه هم سنجوي.

**محدوديتونه**

د ملي ناخالص توليد د سرانه عايد د فيصدئ په توګه د هر زده کوونکي لپاره شوي عامه لګښتونه له ۱۰۰ سلنو څخه ډېرېدای شي. دغه شاخص بايد د هغو عامه لګښتونو په اړه د مطابقت لرونکو معلوماتو له مخې وي چې د ټولو عامه او خصوصي ښوونيزو بنسټونو سب سايډئ تر پوښښ لاندې نيسي. اړينه ده چې په دې شاخص کې، د ښوونيزو لګښتونو د پوښښ کچه او د ملي ناخالص توليد د اټکل وړتيا د اقتصاد د ملي ظرفيت له سطحې څخه د استازيتوب لپاره، په سمه توګه په پام کې ونيول شي.

کېدای شي دغه شاخص د ملي ناخالص توليد، اوسني نفوس او ياهم د ښوونيزې دورې له مخې د شموليت په ناسم اټکل سره غلط تعبير شي. د مالي او ښوونيز بوديجوي کال د دورو ترمنځ د توپير موضوع هم بايد په پام کې ونيول شي.

## 6.10 د هغو ښوونځيو فيصدي چې د پاکو اوبو سرچينې لري

**تعريف او هدف**

په داسي حال کې چې د دې شاخص په اړه معلومات د EMIS په اوسنيو ساحو او تعريفونو پورې اړه لري، د اوبو «پياوړې شوې» سرچينو کې لکه څرنګه چې د اوبو او روغتيا چمتو کولو لپاره د څارنې ګډ پروګرام(www.wssinfo.org) يې د زريزې پراختيايي موخو په راپور کې تعريف وړاندې کړی، لاندې ټکي شامل دي: د پيپ اوبه، د عامه اوبو نلونه، لوله يي څاه ګانې، برمه يي څاه ګانې، ساده پوښل شوې څاه ګانې، ساتل شوې چينې او د باران اوبو زېرمې. اوبو ته له لاسرسي پرته، شوني نه ده چې روغتيايي اسانتياوې د زده کوونکو ته ګټه ولري.

د EMIS د معلوماتو په کارونه کې د اوسنیو کټګوریو او تعریفونو له منلو پرته بل انتخاب نه شته او په هغه صورت کې چې ورسره توپیر ولري او یا پیاوړې شوې سرچینې له نا پیاوړو شویو هغو جلا نه شي، اړینه ده چې دغې موضوع ته په پوښتنو کې اشاره وشي.

**د محاسبې مېتود او د اړتیا وړ معلومات**

$$\frac{\text{Number of Schools (primary and/or secondary) with Improved water sources}}{\text{Total number of schools (primary and/or secondary)}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچینې**

کولای شو په دې اړه معلومات د EMIS له معلوماتو او په ځانګړې توګه د ښوونځیو له سروې ګانو او د ښوونځیو تسهیلاتو له معلوماتو څخه ترلاسه کړو.

**د معلوماتو ډلبندي**

کولای شو دغه شاخص د جغرافیایي ساحې، خصوصي/ عامه سکټور، لومړنیو/منځنیو زده کوړ له مخې ډلبندي کړو.

**د معلوماتو تشریح**

اوبو ته له لاسرسي پرته ډېر لړاحتمال شته چې روغتیایي اسانتیاوې او تشنابونه د سمه او مناسبه اغېزه ولري. ځینې مختصصین په دې اند دي چې د اوبو او تشناب له چمتو کولو پرته، د ښوونځیو ودانۍ یوازې د سایه وان حیثیت لري.

**محدودیتونه**

دغه شاخص د اړتیا له مخې د اسانتیاوو کارونه یا دا چې دغه اسانتیاوې د ښوونکو او کارکونکو لپاره ترل شوي او محدود شوي دي یا هم دا چې ډېر چټل او غیر روغتیایي دي، نه ورښیي. د تشناب کارونې په اړه د معلوماتو یا فرهنګي تجربو نه شتوالی کولای شو د وخت په تېرېدو یا هم په ټولګیو کې د روغتیا روزنې فعالیتونو له لارې حل کړو. خو نه باید د اسانتیاوو یوازې شتون د هغوی له حقیقي کارونې سره غلط کړو.

## 6.11 د هغو ښوونځیو فیصدي چې پیاوړې شوې روغتیایي اسانتیاوې لري

**تعریف او هدف**

د پیاوړو شویو روغتیایي اسانتیاوو له چمتو کېدو څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره، ښوونځي باید په ځینو ټکنالوژیو او شبکو سمبال وي. په داسې حال کې چې د دې شاخص په اړه معلومات د EMIS په اوسنیو ساحو او تعریفونو پورې اړه لري، په «پیاوړو شویو» روغتیایي اسانتیاوو کې د زریزې د پراختیایي موخو له راپور سره سم لاندې ټکي شامل دي: فلشي تشنابونه

او د چټلو اوبو د لېږد پيپونه، سپټيک زېرمه يا ګودالي تشنابونه، هواکش لرونکي تشنابونه او سره (کود) جوړونکي تشنابونه(www.wssinfo.org).

د EMIS د معلوماتو په کارونه کې د اوسنيو کټګوريو او تعريفونو له منلو پرته بل انتخاب نه شته او په هغه صورت کې چې ورسره توپير ولري او يا پياوړې شوې سرچينې له نا پياوړو شويو هغو جلا نه شي، اړينه ده چې دغې موضوع ته په پوښتنو کې اشاره وشي.

**د محاسبې مېتود او د اړتيا وړ معلومات**

$$\frac{\text{Number of Schools (primary and/or secondary) with Improved toilet facilities}}{\text{Total number of schools (primary and/or secondary)}} \times 100$$

**د معلوماتو احتمالي سرچينې**

کولای شو په دې اړه معلومات د EMIS له معلوماتي بانک او په هغه صورت کې چې دلته يو ځای ونه ساتل شي د ښوونځيو اسانتياوو له معلوماتو څخه راټول کړو. له دې سره، د هغو ښوونځيو پروژې چې د ډونرانو په مرسته جوړيږي يا ترميم کيږي، معمولاً د ښوونځيو د اسانتياوو لپاره ډېرې ښې سروې ګاڼې او اټکلونه لري، حتا که چېرې دغه معلومات يوازې د ټاکلي ساحې لپاره وي، بيا هم په راپور کې راجع کولو او تفسير لپاره ترې کار اخستل کېدای شي.

**د معلوماتو ډلبندي**

کولای شو دغه شاخص د جغرافيايي ساحې، خصوصي/ عامه سکټور، لومړنيو/ منځنيو زده کړو پر بنسټ ډلبندي کړو. د امکان په صورت کې، د ښځو د لاسرسي په پرتله د نرانو د لاسرسي له مخې ډلبندي هم کولای شي ډېر ګټور معلومات چمتو کړي.

**د معلوماتو تشريح**

اړتيا ده چې د دې شاخص لپاره راکړل شوي معلومات په روښانه او مناسبه توګه تعريف شوي وي. په ځينو هېوادونو کې، «کافي» هغه معيار دی چې له مخې يې تشنابونه اوبه لري او په دايمي توګه ترې ګټه اخستل کيږي، حال دا چې په ځينو نورو هېوادونو کې د «کافي» او «شته» ترمنځ توپير نه شته، داسې چې له کاره لوېدلي او خرابې شوې اسانتياوې هم په محاسبو کې شامليږي. دغه موضوع بايد په راپور کې روښانه شي.

**محدوديتونه**

دغه شاخص د اړتيا له مخې د اسانتياوو کارونه يا دا چې دغه اسانتياوې د ښوونکو او کارکونکو لپاره ټړل شوي او محدود شوي دي يا هم دا چې ډېر چټل او غير روغتيايي دي، نه ورښيي. د تشناب کاروني په اړه د معلوماتو يا فرهنګي تجربو نه

شتوالی کولای شو د وخت په تېرېدو یا هم په ټولګیو کې د روغتیا روزنې فعالیتونو له لارې حل کړو. خو نه باید د اسانتیاوو یوازې شتون د هغوی له حقیقي کارونې سره غلط کړو.